

Ketabton.com

# د موبايل يارانه

ليكوال: محمد غازي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

کله چې مې "د موبایل یارانه ناول" ولیکه، نو ما دا تصور نه کاوه چې دا به دومره محبوبیت ومومي. خو کله چې خلکو ولوست، خپل نظرونه یې راکړل، او له ناول سره یې تړاو پیدا کړ، نو ما پرېکړه وکړه چې د دې کیسې دوهم پړاو هم ولیکم.

"د موبایل یارانه – دوهم پړاو" د مینې، امید، او د ژوند لوړو ژورو نوی داستان دی. دا ځل کیسه د واده وروسته مرحله ښیي، چېرې چې مینه له نویو ازموینو سره مخامخ کېږي.

خو دلته یوه بله خبره هم ده چې یادول یې مهم ګڼم. ځینې کسانو دا ناول زما له اجازې پرته، بلکې په خپل نوم، په ویب‌سایټونو کې پورته کړی. د لیکوال لپاره تر ټولو لویه ناهیلي دا ده چې د هغه هڅې بل څوک د ځان وګڼي. زه ټولو لوستونکو ته خواست کوم چې اصلي لیکوال ته درناوی ولري او د کتاب حقوق مراعات کړي.

"د موبایل یارانه" زما له زړه راوتلې کیسه ده، که دې ولوسته، که دې احساس کړه، نو دا د لیکوال لپاره تر ټولو ستر افتخار دی.

—محمد غازي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روژې مازيگر و، د ژمي يخه هوا چلېده. لگيا وم خپل کالي مې پرېمنځل، چې د موبايل د پيغام غږ شو. موبايل مې خلاص کړ او لاړم د پيغام پاڼې ته. چې گورم، يو ناآشنا نمبر دی.

ليکلې يې وو: "ډېره ښښه غواړم، موبايل مې کور کې په بيک کې پاتې وو او بيک په کوټبند کې ځوړند وو".

ما ورته په پيغام کې وليکل: "ورور يې که خور؟ نمبر دې غلط کړی".

بېرته يې ځواب راکړ: "ته څه کاره يې چې هرڅوک يم؟"

غصه مې راغله. د وړو موبايلو پيغام مينو کې يو آپشن دی د "چټ" په نوم. هغې کې مې ورته نمبر وليکه او کوټه مې په ښېن کېښود. دېرش، دوه دېرش خالي پيغامونه مې ورته وليږل.

په دې دوران کې يې يو پيغام راغی: "ښښنه غواړم، نمبر مې غلط کړی ".

او بل پيغام يې راوليږه: "دا څه کوې دومره ډېر پيغامونه؟"

ما ورته وليکل: "سمه ده چې نمبر دې غلط کړی، بيا پيغام مه کوه. لگيا يم کالي پرېمنځم او روژه ماتی به هم تياروم ".

زه نو په دې وخت کې په يوه ځای کې مسافر وم. وظيفه مې وه، چې هر څه مې خپله ځانته کول.

بل پيغام يې وکړ: "گرانې، ستا لاسونه به څومره درد کوي. زه درسره کومک شم ".

ما زړه کې وويل: "رازه! لک تنگ يې کړه. کېدای شي دا کوم هلک وي." ازار ورکړه .

ما ورته وليکل: "نه گرانه، مننه. نور پيغامونه مه کوه. که ورونه مې راغلل، بيا راپسې غصه کېږي".

کالي مې خلاص کړل.

ديک مې شروع کړ. بيا يې پيغام وکړ: "گرانې څه کوې؟ "

ما وويل: "ديک کوم ".

هغې بيا وويل: "څه پخوې؟ "

ما ورته وويل: "گرانه، که نږدې وای، ستا سر مې پخو، اوس ليږوگان بينډې پخوم ".

هغې وويل: "گرانې، ستا د لاس کتغ به څومره خوند کوي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "نور بس که، چې دا روژه ماتی تیار کم، بیا پیغام درته کوم".

شپه شوه، او یولس بجې شوي وې. زما د پهَري یا چوکېدارۍ یو ساعت پاتې وو .

ما ورته وویل: "گرانه، ویده شه، نور پیغامونه سبا کوو ".

هغې ویل: "خوښه دې نه ده چې په خوا کې دي، راته ځای جوړ کې ".

ما وویل: "زما خواکې خو ځای نشته، که زما د پلار په خواکې یې درته جوړ کم، څنگه به وي؟ "

خندا یې ولیږله او خدای پاماني مو وکړه.

سحر شو او بیا یې پیغامونه پیل کړل. دا ورځ هم تیره شوه، همداسې زموږ د پیغامونو یوه هفته وخت ونیو. نه هغې زنگ ووهلو او نه ما. یوه هفته وروسته مې غصه راغله، چې دا څه دی؟ مانه خو یې سمه انجلۍ جوړه کړې، د خبرو لاندې هم گراني، او د خبرو باندې هم گراني .

په موبایل کې مې د هغې نمبر راوړو او زنگ مې ووهلو. د "اوکې" کولو سره یې په کړس کړس وخاندل، او ما چې پرې غږ وکړ، تلیفون یې بند کړ. دا خندا نه وه، بلکې د بریښنا شغلې وې چې زما په زړه کې دننه شول، او زه په یو نالیدلې مخ مینین شوم .

خندا یې ډېره ښایسته وه. لږه شیبه تیره نه وه چې هغې زنگ ووهلو. ما خپله ټوله غصه خوړلې وه. د ملگرو نه لرې شوم، خواکې پټې ته لاړم، موبایل مې "اوکې" کړ .

سلام گرانه، څنگه یې؟

جلۍ بیا په خندا شروع کړه او خه په کړس کړس یې وخاندل. ما ورته وویل، گرانه د خندا علت څه دی؟ هغې وویل، ستا د دې دومره تمثیل علت څه و؟ تا ولې ماسره دومره غټه ډرامه وکړه؟

ما ورته وویل، ما وي رازه کوم هلک به وي، ازار ورکړه، زه څه خبر وم چې ته یې. خو دا راته اوس ته ووایه چې تا ولې داسې کار وکړ .

ویلې یې، همدا ستا خبره زما هم ده. ما ویل که کومه جلۍ ده، ازار به ورکم هغه ته وي .

ډیرې خبرې مو وکړې او خنداگاني مو وکړې، خو په آخر کې مې ورته وویل، ستا نوم مبارک څه دی؟

بغیر له ځنډه یې وویل، نازنین. او بیا یې زما د نوم پوښتنه وکړه، ستا نوم څه دی؟

ما ورته وویل، وفا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا شوه او ویل یې، دا خو تخلص دی، نوم دې څه دی؟

ما وخاندل او ورته مې وویل، ته څه پوهه شوې چې دا تخلص دی؟

ویلې یې، دا دومره مکتب او اوس پوهنتون مې ستا سر لپاره ویلي. زه پوهنتون کې یم او د پښتو ادبیاتو په پوهنځي کې یم .

ما ورته وخاندل، ههههههه .

ویلې یې، خاندې ولې؟

ما ویل، کال یا بل کال ته، لخیره ادبیاتو نه خلاصیږي .

جلۍ زما په خبره پوهه شوه، هغې هم وخاندل او وی ویل، وه قرآن دی، تا ونه وهي، دا څنګه خبرې کوي؟

ما ویل، خو رښتیا وایم، کنه .

څه خبره یې کوله چې موبایل یې بند شو. ما ورته دستي زنګ ووهلو. زړه مې کله صبر کو ، ایله راسره په اول ځل جلۍ په موبایل کې خبرې کړي وې او بل ځواني هم وه. نو څنګه یې چې موبایل وکی کړو، راته یې وویل، نوري جانه، زما موبایل کې روپې خلاصې شوي، زه درته نیم ساعت وروسته زنګ ووم، موبایل کارت ته مې ځواب لیږلي، ته موبایل بند کړه .

ما وویل، زه چې ترڅو کارت راوړي، په دې به خبرې وکړو .

ویلې یې، سمه ده، خو اول دې تعریف وکړه، نوم، ولایت، دنده .

ما ویل، نوم مې سرفراز دي تخلص مې وفا دی، ولایت مې ننګرهار دی، او په فلانکي شرکت کې دنده لرم .

په کړس کړس یې بیا وخاندل، ویل یې، اوس خو مې پیدا کړي، نور زه کارتونه نه اچوم، ته به یې راته اچوې .

بیا یې وویل، دستي ساعت څه کوي؟

ما ویل، په یو نالیدلي مخ الله مئین کړم، او اوس لګیا یم ورسره خبرې کوم .

جلۍ بیا وخاندل .

ما ویل، لک صبر، د هغې خبرو ځواب اوسي نه درکم .

ویلې یې، وایه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل، زه خپله د غریبۍ نه په نهاره ویده کیږم، کله راته د کارت ونه وایي .

جلۍ یو ځل بیا غږ وهل په خندا شوه

او زموږ د موبایل اړیکه په مینه بدله شوه. اوس نو نه زه بغیر د هغې د غږ اوریدلو صبریدم او نه هغه. دواړه د یو بل لیوني شوي وو. زنګ به یې ووهلو او په ساعتونو ساعتونو خبرې به یې کولې. هغه وخت یوه دقیقه خبرې لس افغانۍ وې او پیغامونه مفت وو. یوازې په پیغام مو ګوزاره نه کوله، ترڅو به مو چې د یو بل غږ نه و اوریدلی.

وخت تیریده، یوه ورځ یې زنګ وواهه او راته یې وویل چې آیا زه تا کابل ته دعوت کړم رابه شې؟ ما وویل، خامخا، زه هم غواړم چې یو بل د نږدې وګورو، خو څنګه به مې دعوت کوې؟ جلۍ غلی شوه، څه ساعت وروسته یې وویل، زما د ورور کوژده ده، هغې ته به دې دعوت کړم. ما وویل، سمه ده، که هغه نه وي پوهنتون ته به دې درشم.

جلۍ وخندل او ویې ویل، "زه هم غواړم چې یو ځل دې د نږدې وګورم. نه پوهیږم چې څه راباندې شوي او څه جادو دې راباندې کړي ده. زما په ذهن او خیالونو کې دې خپل سورۍ غځولي دي. هره شېبه ستا فکر کوم او هره شپه په خیالونو کې ستا تصویر جوړوم. وایم، داسې به وي، بیا هغه وران کړم، چې نه داسې به وي، نه داسې به وي."

په همدې سوچونو کې راباندې شپه تېره شي. د پوهنتون درسونو ته مې هم زړه نه لږیږي، سوچه لیوني شوی یم. د نازنینې خبرې نور هم زما زړه هغې ته ورنږدې کړ. ټوله شپه به مې ورسره په میسجونو کې تېره کړه، او چې هغه به ویده شوه نو د خیال ښاپیرۍ به راباندې راغله او غزل لیکل به مې شروع کړل.

ما ورته وویل، "ګوره، کابلۍ تصویر جوړول خیر دی، خو چې غلط انځور دې ذهن کې جوړ نکړي. زه دومره پاک انسان یم چې په لمنه مې مونځ کیږي، خیر دی که کلیوال یم."

وی وخندل او ویې ویل، " د مشرقۍ خلک ډېر وران دي."

ما وویل، "وران نه دي، ساده دي. د یوه خبرې خلک دي، خو تاسو کابلیان بیا وران یاست."

وی وویل، " وبه دې ګورم چې دعوت درکم، او په خپله خبره وفا وکړي."

ما وویل، "راتګ خو غم مه کوه، خو ګوره، زه کله کابل ته نه یم راغلی، هسې نه چې د شادګل غونډیورک شم ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی وخندل، "مړه مشرقیواله، مخې ته به دې درشم."

ما وویل، "دا دي لا روغه خبره وکړه. ستا له برکته یا کابل وګورم او یا به ورک شم

په همدې خبرو سره مو خدای پاماني وکړه. ما قلم او کتابچه واخیسته او دا غزل مې ولیکه:

دا زه چې ورځ په ورځ زړیږم، ژاړم

جانانه، تا پسې کړیږم، ژاړم

که د سحره تر ماښام درګورم

زه په دیدن دې نه مړیږم، ژاړم

چې اراده زه د راتلو وکړم

په ټوله لاره کې غورزیږم، ژاړم

خلک په د لیوني کمان کړي

زه چې د ځان سره بغنیږم، ژاړم

هغه ورځ هم راغله. درې ورځې مخکې یې راته وویل، "روانه پنجشنبه مې د ورور کوژده ده په فلاني هوټل کې. ګوره راشه او پاتې نه شي."

ما وویل، "هلته خو کارت پکاریږي. د کارت سره څه وکړم؟"

وی وویل، "ما به په دروازه کې ستا په نوم کارت ګارد ته ورکړي وي، چې راغلي پښتنه یې وکړه."

زه هم لاړم ښار ته، په ادل خیاط مې ګلدوزي غاړې واله کالي وکړل، تور واسکټ او بوټان مې هم واخیستل، یو دستمال مې د غاړې هم واخیست. ځان مې برابر کړو.

د پنجشبې په ورځ مې ملګرو ته وویل، "زه تر کابل پورې ځم او سبا به بیرته راځم."

یولس بجې مې حرکت وکړ، لاړم کابل ته. ښار کې مې چکري ووهل او بیا د خپل منزل په لور روان شوم. چې مازدیګر ناوخته هوټل ته ورسیدم، نو د هوټل مخې ته ناست ګارد راته وویل، "کارت راکه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل، "دلته چا زما په نوم کارت درکړی؟"

وی وویل، "هو، لاړ شه.

هوټل ته چې دننه شوم، د سړیو سالون ته لاړم. لوبه ګرمه وه، موسیقي چالانه وه، او ګډاګاني شروع شوې وې.

ما چې له خپل ځایه حرکت وکړ، نو ما ورته زنګ وهلی وو. ان تر هوټله راسره وخت ناوخت په اړیکه کې وه.
کله چې هوټل ته دننه شوم، نو راته یې وویل، "موبایل ته دې فکر وي، چې زه موقع پیدا کوم، درته زنګ وهم."

زه لاړم او یوې چوکې ته کیناستم. درز غوبل جوړ وو، قتغني سازونه لګیا وو، هلکانو ګډاګاني کولې، او ما خپل موبایل څارلو.

ډوډۍ راغله، ومو خوړله. زه بهر کانتین ته لاړم او یو بیر مې ځانته واخیست. یخ هم وو، ساړه مې هم کیدل. بیر مې وڅښل، خواکې مې یو دوه ځوانان ولاړ وو، سکریټې یې لګولې وو. ورته مې وویل، "یو دوه کشه ماته هم راکړئ." سکریټې مې ووهو، ځان مې سم سور کې کړو، بیرته لاړم سالون ته دننه شوم.

په دې وخت کې هنرمند دا سندره شروع کړه:

"راشه پښتنه وکړه زما د غر او سینه

سړی د کوم ځای وینه، بس د لغمان به وینه."

زه هم ښه سور کې شوی وم، پاسیدم او په ګډا شوم.

په ګډا کې راته زنګ راغی، اوکې مې کړه، غږ مې کړ: "هلو، هغه وویل وویل چیرته یې؟" ما ویل لګیا یم، ګډا کوم."

ویل یې لک صبر وکړه، چیرته پرده کې ولاړه وه او زما د ګډا سیل یې کو."

د دې سندرې سره مې ښه ډېره ګډا وکړه.

بیا لاړم، هنرمند ته مې وویل: "دا سندره ووایه چې وایي:

'د یوې ورځې مېلمه راته جوړه کړه، غویمه.'"

هنرمند دا سندره شروع کړه او ما ګډا ته دوام ورکړ.

ټول خلک راته حیران وو چې دا څوک دی، ښه ګډا مې وکړه، په ځان نه پوهیدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره خلاصه شوه، راغلم بیرته پخپل ځای کیناستم.

چې کتل مې، نازنین بیا زنګ ووهه. موبایل مې اوکې کړ او د سالون نه بهر ووتم.

نازنین راته وویل: "د ښځو د سالون د دروازې چپ اړخ، د دېوال شاته ودرېږه، زه درځم."

دې خبرې سره مې په زړه لړزه راغله، یو رقم رپ راباندې ولګید، ټول وجود مې لړزېده، یخ راباندې راغې.

منډه مې کړه، کانتین ته، سګریټ مې واخیست، ځښه مې. ورو ورو روان شوم، هغه ځای ته لاړم.

هلته ولاړ وم او رپیدم، چې د پښو اواز مې واورید

زه هلته ولاړ وم چې د پښو اواز شو. چې مې وکتل، جلۍ راغله، لاس یې راکړ. سلام فرازه، ډاډه شوم چې دا نازنین ده.

لاس را کولو سره مې غاښونه په کړچیدو شول او لړزه مې زیاته شوه.

نازنین ته مې چې وکتل، جیګه ونه، سپین رخسار، ښایسته بدن، داسې ښکاریده لکه کومه وکیله یا څارنواله.

هغې وخندل: "دا په تا څه شوي فرازه؟ ولې داسې رپیږې؟"

ما وویل: "نور نه پوهیږم، چې تا راته وویل دلته راشه، نو زه لړزې ونیولم."

هغې وویل: "ټوکې مه کوه، یخ دې کیږي."

زما ټوله نشه ختمه شوې وه. ما وویل: "یخ نه دی، ته اوس لاړه شه، لږ وروسته راشه، زما حالات به سم شوي وي."

هغې وویل: "سمه ده. ته هم لاړ شه سالون ته، زه بیا درته زنګ وهم."

دواړه روان شو. نازنین همداسې ماته کتل. ما سر ټیټ اچولی و.

هغې تاوه شوه خپل سالون ته، خو په دروازه کې ودریده او بیا یې ماته وکتل.

زه ترې لاړم

سالون ته دننه شوم، کیناستم، ښه شیبه وروسته مې حالات سم شول. سیل مې کاوه چې نازنین بیا زنګ ووهه.

هغې وویل: "هلو، فرازه، اوس دې حالات څنګه دي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل: "ښه یم، هر څه سم دي."

هغې وویل: "هماغه ځای ته راشه." او اړیکه یې بنده کړه.

لاړم هلته، یوه شیبه کیناستم چې کتل مې، نازنین بیا راغله.

سلام مې وکړ، لاس مې ور اوږد کړ. د جوړ پخیر نه وروسته یې وویل: "فرازه، مخکې داسې معلومیدلې لکه نشه چې وې، او په ګډا کې هم همداسې ښکاریدې."

ما وویل: "د مخکې خبرې راته مه کوه، کنه قسم دې، اوس مې بیا لړزه نیسي او بیا به مې په لس بړستنو هم ګرم نه کړې."

نازنین زما په دې خبره وخندل او په مټ کې یې لږ ځکندلم.

ما وویل: "دا ګپ ګوره، نه لرو، کنه بیا دې زه هم ځکندم."

هغې بیا په خندا شوه.

ما نازنین ته وویل: "زه به نور لاړ شم، هم مې ته ولیدې، هم مې تا سره کړې وعده پوره کړه."

نازنین وویل: "چیرته ځې؟ څوک خپلوان لرې؟"

ما وویل: "هو، په دې څلورم سړک کې مې خپلوان دي، خو هلته نه ځم، غواړم بیرته حرکت وکړم او لاړ شم جلال اباد ته."

هغې په حیرانۍ سره وویل: "جلال اباد ته؟ هغه هم په دې توره شپه؟

زه هېڅ کله اجازه نه درکوم، لاړ شه سالون کې کینه، چې پروګرام خلاص شي، زه به خپل ورور ته وایم چې تا له ځانه سره یوسې."

ما وویل: "ښه، ته به خپل ورور ته څه وایې، چې دا څوک دی؟"

نازنین وویل: "ورته وایم، دا زما د صنفي ورور دی."

ما وویل: "نه کیږي نازنین، زه ځان رسوم."

نازنین غوصه شوه، ویې ویل: "ما درته وویل، کنه، چې دا وخت تک جلال اباد ته ښه نه دی، هېڅ چیرته به نه ځې. کنه زه خپله درځم، لاس نیولی دې وړم!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "سمه ده، خیر . دلته به خپلوانو کره لاړ شم، خو تاسره نه ځم، ځکه نه ما څوک پېژني او نه زه پېژنم. د خلکو خولو ته به څه گورم؟"

ویل یې: "سمه ده، خو وعده وکړه چې جلال اباد ته به نه ځې."

ما وویل: "سهي ده، نه ځم."

یوه شیبه مې ورته ښه وکتل.

نازنین وویل: "څنگه دې، راکي سترگې دې خښې کړې، خیر خو دی؟"

ما وویل: "نازنین، ته خو داسې نه ښکاري چې د فلانکي ولایت اوسېدونکې یې. نه دې ژبه د هغوي په شان ده، نه دې خبرې.

او نه د کابلیانو په شان پښتو کوې. ستا ژبه او پښتو ډېره سوچه ده، لکه د ننگرهار د خلکو په شان. او په ښایست کې داسې یې لکه د نورستان د پېغلو په شان."

هغې وویل: "فرازه، بیا دررله ټوله کیسه کوم؟ اوس به لاړه شم، هلته به ټول ما لټوي."

په همدې خبرو سره مو خدای پاماني وکړه، خو په تلو کې یې کلک په غېږ کې ونیولم او د مخ نه یې ښکل کړم.

همدې سره راباندې لړزه راغله، ما هم ترې لاسونه تاو کړل، ښکل مې کړه.

دواړو یو بل ته کتل او کلکي غیږي مو ورکړي وو.

ما چې ورته ویل چې بیابه کله گورو نو همدا خبره نازنین هم غبرگه کړه، دواړو وخاندل.

ما ورته وویل نازنین تر اوسه خو د تلیفون یارانه وه لیدلي مې نه وي خو اوس د لیدو نه وروسته به راته ژوند ډېر سخت شي د حجران دا شپې ورځې تیرول به راته کړاو شي.

نازنین وویل: هو فرازه زه هم همدا فکر کوم چې تراوسه خو مو لیدلي نه وو اوس به دي جدایي ما نوره هم لیونۍ کړي یو څه وکړه

ما ویل بلکل ناکام دي چې د باران پسي پټې وگرزوم

نازنین وخاندل، هغه څنگه؟

ما ویل مجبور یم چې کابل کې کار ځانته پیدا کړم ستا د دیدن په خاطر چې هروخت دي گورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین وویل داسي به چیرته وکړي او چرته به داسي شي

په نازنین هم نري نري لړزه راغله رپیده لکه چې سړو یخ نیولي وي

ما وویل الله به دا هرڅه سم کړي اوس ماته اجازه راکړه چې ناوخته کیږي او تابه هم کورنۍ دي لټوي

مونږ دواړو یو بل خه کلک غیږه کې ونیول نازنین مې شکل کړه او ترینه روان شوم

نازنین د سالون په دروازه کې ولاړه وه تر هغې یې کتل چې زه د هوټل نه بیرون او پناه شوم

ټیکسي مې ونیوله زما یو کنړي ملګرې وو د هغې کور ته لاړم شپه مې وکړه او سهار وختي مې هرکت وکړو

زه لا هډې ته نه وم رسیدلي چې نازنین میسج وکړو

سلام فرازه سهار دي پخیر چیرته یې

ما جواب ورکړو ستا دي هم سهار پخیر وي ګراني اوس هډې ته روان یم

چې کتل مې زنګ یې ووهو اوکي مې کړو

نازنین چې د موټر اواز واوریدو نو یقیني شوه چې رښتیا وایي

ویل یې سم موټر کې کینه د لوچګانو سره لاړ نه شي چې خدای مکړه موټر ټکر نکړي

ما ویل سمه ده سم موټر کې څم

پخیر لاړ شي چې ورسیدي بیا راته احوال راکړه

سمه ده احوال درکوم په همدې سره مو اړیکه پرې کړه

هډې ته له رسیدو سره، په موټر کې کیناستم، سوارلي ورو ورو پوره شوه، او موټر حرکت وکړ. زړه مې ډیر خوشاله و؛ د تېرې شپې خواږه یادګارونه مې په ذهن کې ګرځېدل، د نازنین سره هغه لومړی مخامخ لېدنه چې اوږدې خبرې مو پکې وکړې او راتلونکي ته مو لوړې هیلې جوړې کړې وې. دا هر څه مې په ذهن کې پرله‌پسې راتېرېدل. د هغې مسکا، نرمه لهجه، او د خبرو هغه انداز مې هر لحظه په زړه کې تازه و.

زما یو عادت دې چې کله په موټر کې کینم نو ډیر فکر مې د موټر ټکر او چپه کیدوته وي په همدې خاطر په موټر کې امده او چمتو ناست اوسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما فکر یو ځل بیا هغو شیبو ته لاړو چې د نازنینې سره د لیدلو لپاره لړزې نیولی وم، ټول بدن مې له شرمه رپېده. هېڅ کله مې داسې حالت نه و تجربه کړی. هر څه مې ګډ وډ ښکارېدل، خبرې مې نه جوړېدلې، او زما وارخطایي په مخ کې ښکاریدله .

دې وخت کې د سروبي نه تیر شوي وو مخامخ مې کتل یو موټر ډیر تیز راروان دي ناڅاپه، یو سخت ګړس شو. موټر په یو خوا ټېل وهل شو، ما ژر په مخکینی سیټ لاسونه تاو کړل، پښې مې ټینګې کړې. بدن مې په زوره ټکان وخوړ، موټر یو بل زورور ملاق وخوړ، او بیا په دریم ځل کله چې موټر چپه شو، ناڅاپه هر څه ودرېدل. شاوخوا حالت چوپ و، خو د خلکو چیغې او نعرې مې اوریدلې.

ما شاوخوا وکتل؛ زه ښه وم، خو نورو مسافرو ته چې مې نظر شو، زما په زړه کې دروند احساس جوړ شو. خلک زخمیان وو. د چا سر زخمي و، د چا لاسونه او پښې ماتې وې، او د چا له پوزې وینې بهېدې. زخمونه یې ډېره صدمه راکړه. ما چې خپل ځان ته وکتل، ټول بدن مې روغ وو، او د الله شکر مې وکړ چې زه له دې وحشت څخه روغ وتلی یم.

په لږ وخت کې خلک راورسېدل. موږ یې په احتیاط له موټر څخه بهر راوویستلو. یو کس زما د پر مخ اوبه وشیندلې. سترګې مې نیم‌بازې وې او شاوخوا مې تورتم و. زړګی مې په ویره او حیرانۍ کې وو. په دې وخت کې مې موبایل ته زنګ راغلې وو یو کس پرې خبرې کولې او بیا یې وویل فراز څوک دې؟.

ما په کمزوري غږ ورته اشاره وکړه چې زه یم. هغه موبایل راکړ. ما وویل هلو، او د هغې خوانه مې یوه ژړغوني چیغه  واورېده: "فرازه! ژوندی یې؟" غږ د نازنین و. دا هغه غږ و چې تل یې زما په وجود کې د ژوند او خوښۍ احساس خپراوه. هغې د خپل زړه درد په یوه چیغه کې څرګند کړ.

ما په کمزوري خو ډاډمنه لهجه وویل: "هو، ژوندی یم. ښه یم." هغې په یوه دم کې ساه واخیسته او په ژړغونې غږ یې وویل: "شکر دی، ما درته وویل چې په سم موټر کې سفر وکړه!" هغې دا جملې په بې‌صبرۍ سره او له پاملرنې ډکې کړې.

ما ورته په خندا وویل: "مه خفه کېږه، زه ټپي شوی نه یم، خو نور خلک ټپي شوي دي. زه به وروسته درسره خبرې وکړم." هغې بیا هم د اندېښنې څو خبرې وکړې، خو ما ژر موبایل بند کړ، ځکه پوهېدم چې نوره بې‌صبره شوې ده.

په دې وخت کې امبولانس راورسېد. ټول زخمیان یې راواخیستل، او زه هم د امبولانس په یوه کونج کې ناست وم. نږدې کلینک ته لاړو ډاکټرانو زما معاینه وکړه. زه په حیرانتیا کې وم چې څنګه  له دې هر څه څخه په روغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلی یم. ، ډاکترانو راته د درد یوه ستن او ګولۍ راکړې. ما ځان ته یو ځل بیا وکتل، او ځان ته مې وویل: "فرازه، خوش قسمت یې چې ژوندی پاتې شوې."

وروسته مې ملګرو ته زنګ وواهه، ورته مې وویل چې ما ټکر کړی ټپي شوی نه یم، خو نن وظیفې ته نه درځم . سبا به بیا درشم. ما کورته زنګ وهلې وو چې ما داسې حادثه کړې خو ښه یم

کله چې کور ته ورسیدم، زړه مې ډک شو. د دروازې په خلاصېدو سره مې په مور سترګې وګیدلې، پرته له دې چې یو څه ووایم، منډه مې کړه او د هغې غېږ کې مې ځان واچاوه. مور مې په غېږ کې ټینګه ونیولم، او په هغې شیبه کې مې ټول دردونه او اندېښنې د هغې د مینې په غیږه کې ورکې شوې.

خدایه شکر، زویه، ته روغ یې؟" هغې په یو ډک زړه دا جمله وکړه، او ما یوازې دومره وویل: "هو، مورې، روغ یم." هغې مې په سر لاس تیر کړ او په پټه ساه یې د الله شکر ویست. هغه احساس چې یوازې د مور په غېږ کې پیدا کېږي، د نړۍ په هیڅ څه کې نه پیدا کیږي

کله چې زه د مور په غېږ کې پریوتم او د آرامۍ سا مې واخیسته، مور مې راته په وېښتو کې لاسونه وهل. زه همداسې خوب وړی وم. یو خو نا خوبي وه، بل یې د ټکر وروسته د آرام ګولۍ راکړې وې، نو سترګې مې پټې شوې وې.

یو وخت مې مور سر ښکل کړ او راته یې وویل: "فرازه زویه، پورته شه، د ماسپښین لمانځه وخت درنه تیر شو، مازیګر شو."

ما چې سترګې خلاصې کړې، سر مې هماغسې د مور په زنګانه ایښی و. ما وویل: "مورې، ته لا تر اوسه ناسته یې؟"

هغې وویل: "هو، ناسته یم."

ما ویل: "که سر دې ښکته کم او پاڅېږم، بیا نه وي چې ویښ شې او نارامه شې. دوا دې هم خوړلې وه."

مور مې وویل: "تا پوره آرام وکړه، اوس پورته شه، اول لمونځ وکړه، بیا به ډوډۍ تیاره کړم."

پاسیدم ، مور مې له تندې مچې کړه. هغې هم زه د دواړه مخونه ښکل کړم.

ویې ویل: "شکر دی چې الله روغ راوستلې."

ما ویل: "مورې، چې ستا دعا راسره وي، په ما هېڅ نه کېږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی وخت کې مې موبایل ته پام شو، له جېبه مې راویست، هماغه وخت ورته پیغام راغلی و. نازنین ۲۳ زنگونه او دولس پیغامونه رالیږلي وو.

د پیغامونو په لوستلو مې پیل وکړ:

سلام فرازه، اوس څنګه یې؟ کور ته ورسیدې؟

سلام فرازه، زنګ او میسج ته مې ولې ځواب نه راکوی؟

سلام فرازه، یو میسج راته وکړه چې زړه مې په قراره شي.

سلام فرازه، لیونی کېږم، نور مې ساه وځي، خیر دی، یو ځواب راکړه.

سلام فرازه، د الله روی وکړ، ځواب راکړه."

سلام، زما نوم نازنین دی، که دا موبایل د هر چا سره وي، ماته یو زنګ ووهي او د فراز معلومات راکړي، کنه نوره له غمه مړه کېږم."

دا یې آخري پیغام و.

ما ورته ولیکل: "سلام، ګراني، زه شکر روغ یم، خو ډېره بښنه غواړم چې تاته مې د کور ته د رسېدو خبر در نه کړ."

کله مې چې نازنین راته زنګ وواهه، له کوره بهر ووتم او موبایل مې وکې کړه.

ما وویل: "سلام، ګراني."

نازنین په غوصه او ژړغوني غږ کې وویل: "مرګ، ګراني؟ درد، ګراني؟ الله دې دا ګرانه واخلي چې ستا له غمه خلاصه شم! څوک داسې کوي لکه تا چې ما سره وکړل؟ ولې؟ آخر ولې؟"

هغې ادامه ورکړه: "تا ماته یو زنګ هم نه شو وهلی چې ووایې رسېدلی یم. زما خو له غمه زړه وچاود، همدا اوس سیرمونه راته لګېدلي دي، فشار مې لوړ دی. ته وړوکی یې چې داسې چلن کوې؟"

له هماغه وخت راهیسې مې څو زنګونه او پیغامونه در ته استولي دي، خو تا هېڅ ځواب رانکړ. ما فکر کاوه، خدای مکړه، څه چل نه وي پرې شوی. نه دې کور راته معلوم و چې راغلې وای، او نه د کوم بل چا شمېره راسره وه چې پوښتنه مې ترې کړې وای. ولې، فرازه؟"

ما ورته وویل: "ګراني، ما خبرې ته پرېږده، چې زه درته هر څه تشریح کړم. بیا که هر څه غواړې، ووایه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وويل: "خبرې مه کوه، کنه فشار مې نور هم لوړېږي. ته پوهېږې چې له سهاره راپدېخوا په ما څه تېر شوي دي؟ ليونۍ شوې يم! خوشالي مو په غم بدله شوه. کور کې ټول زما سر ته ناست وو، او دا ټول ستا د لاسه. آخر ولې داسې کوې؟"

ما ورته وويل: "ګرانې، زما خبرې يو ځل واوره، بيا نور قضاوت ستا په لاس."

ويل يې: "وايه."

ما ورته وويل: "کله چې مې تاسره خبرې پای ته ورسولې، امبولانس راغی او مور يې کلينيک ته يوړو. زما د موبايل غږ بند شوی و. هلته ډاکترانو راته د درد ستنې او ګولۍ راکړې. چې کور ته راغلم، مور او نور کورنۍ مې چې وليده. زړه مې راډک شو او په ژړا شوم او د مور په غېږه کې پريوتم. نور په ځان نه يم پوه شوی. اوس چې پاڅېدم، موبايل ته مې پام شو، او ستا زنګونه او پيغامونه مې ولوستل. زه ډېر خفه شوم . بايد درته مې ډاډ درکړی وای، خو په ځان نه وم پوه شوی."

نازنين راته وويل: "فرازه، ته به ډېر ژر ما ليونۍ کړې په دې کارونو، خير دې، داسې مه کوه."

ما وويل: "سمه ده، نور به پام کوم، خو اوس ښښنه راته وکړه."

هغې وويل: "سمه ده، خو بل ځل دې پام وي، وګوره، روغه جوړه وم، ستا له لاسه مې د فشار تکليف پيدا شو."

ما وويل: "سمه ده، نازنين، خو اوس راته اجازه راکه چې د مازديګر لمونځ قضا نشي. دا لمونځ وکړم، بيا به د شپې خبرې کوو."

هغې وويل: "سمه ده، په ځان پام کوه."

ما وويل: "ته هم په ځان پام کوه." همدې سره مو خدای پاماني وکړه او اړيکه مې پرې کړه.

کور ته لاړم، اودس مې وکړ او لمونځ مې ادا کړ. خور مې ډوډۍ راوړه او زه ډوډۍ ته کښېنستم. خور مې راته وويل:

"وروره، کابل کې دې څه کول؟ چې تلی وې او که اوس درباندې څه شوي وای، مور به څه کول؟" دې سره يې ژړا پيل کړه.

ما وويل: "ليونې، ستاسو دعاګانې راسره دي، الله به په ما تود باد هم ونه لګوي. وګوره، څنګه روغ او جوړ راګرځېدلی يم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وویل: "کله چې خبره شوم، نو الله ته په سجده شوم چې شکر دی، په ورور مې څه نه دي شوي. خو ته ولې تللی وې؟"

مور مې زمونږ خبرو ته غوږ نیولی و. د خور د اوښکو سره مې د مور له سترګو هم اوښکې وبهېدې. هغې خپلې اوښکې پاکې کړې او راغله، ویې ویل:

"ته ولې تللی وې؟"

ما وویل: "موري، د یو ملګري کوژدن وه، هغې ته تللی وم."

مور مې وویل: "ولې دې مونږ ته خبر رانکړ؟ داسې ډېر خپل سری شوی یې. اوس دې مشر ورور راځي، ورته وایم چې سم دي برابر کړي چې په راتلونکې کې داسې کار ونکړې."

ما وویل: "موري، خیر دی، ورور ته څه مه وایئ، نور به داسې کار نه کوم."

مور مې وویل: "ښه، که ستا د ټکر نه خبر شي؟"

ما وویل: "ورته وایم چې کور ته په رخصتي روان وم، موټر ټکر وکړ."

د خور اوښکې مې پاکې کړې، ډوډۍ مې وخوړه او له کوره بهر ووتم. د ملګرو خواته لاړم، خو د پخوا په شان د ملګرو مجلس راته خوند نه راکاوه. فکر او ذهن مې ټول د نازنین سره و. د تېرې شپې ملاقات مې په ذهن کې ګرځېده، چې نازنین رانه لاسونه تاو کړي وو او ښکل یې کړم.

بیا د هغې زنګ او په تلیفون کې د هغې غوسه مې یاد ته راغله.

د ملګرو له مجلسه همداسې پاسیدم

د روانېدو په وخت کې احمد راته غږ وکړ: "فرازه، نن ډېر غمجن او دردمند ښکاري. او ژر روان شوې، الله دې خیر کړي، څه خبره خو به نه وي؟"

ما وویل: "نه یاره، نن سهار مې ټکر وکړ، لږ خوږ شوی یم، نور څه خبره نشته."

اشرف پاڅېد او ویې ویل: "دا څه وایې، فرازه؟ بیا دې مونږ ته ولې نه ویل؟ مونږ ته خو دې ویلی وای."

هغه اکرام ته غږ وکړ: "اکرامه، ته ورشه د سلام کاکا له دوکان نه یو غټ جوس راوړه."

ما وویل: "نه، مننه، جوس ته ضرورت نشته."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی بیا کښېنولم او احمد وویل: "فرازه، موږ خو ملګري یو او ملګري لکه ورونه وي، نو تا ولې دومره غټه خبره پټه کړه؟ دا چیرته دې ټکر کړی دی؟"

ما وویل: "د یو ملګري کوژدن ته تللی وم کابل ته، له هغې خوا راتلم چې ټکر مو وکړ."

اکرام جوس راوړو، جوس مو اوڅښه. ما ترې اجازه واخیسته او کور ته لاړم.

ماښام لمونځ مې وکړ او ناست وم د کورنۍ سره. ورور مې راته وویل: "هلکه، دا رنګ دې څنګه داسې ګډوډ دی؟"

خور مې چغه کړه: "لالا، ورور مې کور ته راتلو، موټر یې ټکر کړی!"

ورور مې ژر راغی، خواته نږدې شو او ویې ویل: "ته ځان ښکاره که، کوم ځای خو دې ژوبل نه دی؟"

ما وویل: "ظاهراً خو ژوبل نه یم، په موټر کې په سیټونو لګېدلی یم، نو له هغې سره لږ خوږ شوی یم."

ورور مې وویل: "خو ماته به دې زنګ وهلی وای چې در پسې درغلی وم."

ما وویل: "که تاته مې زنګ وهلی وای، نو ته به غوصه شوی وې، ځکه مې ونه ویل."

ډوډۍ مې وخوړه او خپلې کوټې ته لاړم. نهه بجې وې چې نازنین ته مې پیغام وکړ: "سلام، ګراني."

هغې سمدستي زنګ وواهه، خو غږ یې ژړغونی و.

ما وویل: "څه خبره ده چې ژاړې؟"

هغې وویل: "فرازه..."

نازنین ژړل او یوه یوه سلګی یې هم وهله لکه د مخکې نه یې چې په ژړا خه زړه تش کړی وي

راته یې وویل فرازه زړه مې درد کوي

زړه مې داسې دي لکه چاچې په سیخانو کې ټومبلي وي او د اور پسر یې نیولي وي

فرازه نن له سهاره چې پاسیدلې یم هیڅ ارام مې نیشته هري خواته چې ګورم نو ستا تصویر مې سترګو ته کیږي

کور کې راته ټول وایي چې په تا څه وشول هغوي هم ټول راته خفه دي

زه د سهاره خپلي کوټه کې پرته یم او په سلګو سلګو ژاړم هیڅ مې نه هیریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار چې ستا له ټکره خبره شوم ترڅو چې مې تاسره خبري کولې نو په ما مرګ تیر شوي وو

خیر دي یو څه وکه زه نوره بې له ستا دیدنه نه شم صبریدلې

ما ورته وویل نازنین نن شپه زه سوچ او پلان جوړوم چې څنګه کابل ته خپله وظیفه تبدیله کم

زه هم نور بغیر له ستا د دیدنه وخت نه شم تیرولې که وظیفه مې ونه شوه نو ستا د پوهنتون په خواکې به یو دوکان جوړ کم ترڅو هره ورځ تا وګورم

نازنین زما په دي خبره خوشاله شوه او ارامه شوه

ویل یې چې هرڅه کوي ژر یې وکه زه نور بغیر له ستا د لیدلو وخت نه شم تیرولې

ما ویل سمه ده یوه خفته وخت راکه چې زه خپل پلان جوړ کم دا مې تاسره وعده ده چې زه به خامخا درزم کابل ته

خه دا خبري پریږده کابلې اوس دي حالات څنګه دي

ویل یې اوس چې تا دا خبره وکړه خه شوم فکر مې ارامه شو زه خو داسي وم ما ویل که مړه کیږم

او رښتیا ته ووایه چې ستا کورني څنګه ده خه به درله خفه وي

ما ویل هو مور او خور مې راته ژړل او شکرونه یې ویستل چې خه دي الله بچ کړي یې

نازنین وویل هو کنه په ما چې داسي مرګ تیر شو نو په هغوي خو به خامخا تیر شوي وي او وي نویل چې کابل کې دي څه کول

ما ورله ټوله کیسه وکړه خندل یې چې ځان دي په دروغو خلاص کړي

نازنین ویل ته د کور شمیره دي راکړه چې زه دي مورجاني ته ووایم چې دا کابل ته زما دیدن ته راغلې وو

ما ویل خه په غم مې واړوه دستي به مې ورور وژلي اوسم چې ته کابل ته بغیر له اجازي تللې یې

نازنین وخاندل ته په دي عمر کې د ورور نه ویریږي

ما ویل هغې مې مشر ورور نه بلکي پلار دې ډیر واړه وو چې پلار مو ش ه د شو همدې ورور مونږ تر دي ځایه رسولي یو

په انډیوالې کې ملګرې دي او په غلط کار نو بیا نه مخ ګوري نه سټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي خاندل رب مو همداسې لره

ما ورته ووېل نازنين ما د درد ګولۍ تيري کړي لک ارام به وکم ته هم ويده شه ناروغه يې بيابه سباه خبري وکړو

ويل يې د غم زويه ماته خوب نه رازي

ما ووېل سورت اخلاص ووايه او سترګي پټي کړه بيا وګوره چې څنګه درله خوب درزي

په همدې خبري سره مو خداى پاماني وکړه تليفون مې قطي کړو او ويده شوم

سحر چې پاسيدم د کورنۍ نه مې اجازه واخيسته چې ځم وظيفي ته مور مې ووېل نن هم پاتي شه چې سم خه شي بيا سبا لاړ شه هلته به تاته داسي خوراک څوک تيار کړي

ما ويل نه موري لاړ شم ملګري به مې هم کورونو ته په روخصتي ځي ماته به په طمعه وي

اجازه مې واخيسته او لاړم وظيفي ته

هلته چې ورسيدم نو ملګري مې ټول شول پښتنه يې راته وکړه او وي ويل

دفتر نه ځواب راغلي که تاسو کې څوک کابل ته ځان بدلوي هلته يو کس ته ضرورت دي

ما ژر ووېل زه غواړم ځان تبديل کم

ټول حيران شول چې ستا کور خو دلته دي هلته ولي ځان بدلوي

ما ويل بس غواړم کابل کې د وظيفي سره څه نوري زده کړي هم وکم نو ځکه ځان پدلوم

دفتر ته مې زنګ ووهو ورته مې ووېل کابل کې کوم کس ته ضرورت دي زه غواړم چې ځان تبديل کم خو که کيداى شي په فلانکي ځاى دفتر کې راته دنده راکړي

هغوي هم راسره ومنله ويل يې مونږ تاته خبر درکو منتظر اوسه

ماته به نازنين هر وخت ويل چې کار دي څنګه که ولي نه رازي

ما به ورته ويل دغه دوه ورځې صبر وکړه چې دفتر راته احوال راکړي نو بيا درته وايم

بل اخير دفتر نه زنګ راغې چې سباته دي امده ګي ونيسه او لاړ شه کابل ته

ما ورته ووېل اول به نن لاړ شم کور ته چې خپل وسايل واخلم سباه به حرکت وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مې د ملګرو نه رخصت او خ ای پامني واخيسته او کورته لاړم

کور کې مې مور ته وويل چې زما وظيفه کابل ته تبديله شوه سبا ځم کابل ته

مور خو مې وويل بلکل وظيفه مه کوه کور کې کينه کابل ته مه زه مور مې او کورنۍ مې رازي کړه سباه مې خپلي جامي او ضروري شيان مې واخيستل او سيده مخ په کابل مې حرکت وکړو

ما نازنين ته د ورتک نه وو ويلي هغې لا هم پوښتنه کوله چې دلته د راتک کار دي څنګه شو

کابل ته ورسيدم هغه ورځ مې دفتر کې تيره کړه دشپې مې نازنين ته ميسج وکړو سلام ګراني څنګه يې او سبا پوهنتون ته ځې کنه اوس هم ناروغه يې

ويل يې ډيري ورځې وشوي سبا ته ځم دشپې تر ناوخته مو خبري وکړي او بيا مو خدای يامانې وکړه

د نازنين پوهنتو او زمونږ دفتر سره نږدي وو

سهار په وخت پاسيدم ځان مې جوړ که او د پوهنتو په لور مې حرکت وکړو

پوهنتو ته لا د محصلينو راتک نه وو شروع شوي زه مخکي نه لاړم چې هسي نه نازنين رانه بي ديدنه پوهنتون ته دننه شي

د پوهنتون سره د يو دوکان ډډي ته ولاړ وم چې د محصلينو راتک شروع شو

ما هره محصله د نظر د سکين نه تيروله چې دي وخت کې مې لري نه نازنين په سترګو ښکاره شوه د خپلو همزولو په مينځ کې داسي ښکاريده لکه په ستورو کې چې سپوږمي روانه وي

ساړه هم وو چپتري يې د سيني سره کلکې نيولي وي

ما ورته ميسج وکړو سلام ګراني نن خو داسي ښايسته ښکاري لکه هوره کاش دي چپترو په حای زه واي او داسي کلک دي په غيږه کې نيوالي وي

ميسج مې ورته وکه هغې دستي موبايل ته وکتل ميسج يې خلاص کړو وي لوستو په ځای ودريده ګرده تاوه شوه ټول ماحول يې له نظره تير کړه ما ورته شا اړولي وه چې ومي نه پيژني

چې کتل مې زنګ يې ووهو اوکي مې که سلام فرازه ته چيرته يې ژر ووايه کنه اوس به راباندې څه چل وشي

ما ورته وويل هم ستا شاوخوا کې يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې ووایه کنه اوس چغې وهم

ما وویل دغې دکان خواته وگوره

چې وي کتل منډه یې کړه

زه ژر د دوکان بغل ته شوم چې چاته ښکاره نه شم

دا په منډه کې راغله او زمانه یې کلکه غاړه تاوه کړه او په دواړو مخ یې ښکل کړم

ما هم ترینه لاسونه تاو کړل غیږه کې مې ونیوله چې کتل مې له سترگو یې اوښکي رواني شوي

ما یې اوښکي پاکي کړي لیوني ژاړي ولي

ویل یې فرازه پریږده چې خه وژاړم دا د خوشالي اوښکي دي

دي وخت کې مې چې کتل یوه بله جلۍ راغله غږ یې وکړو نازني

نازنین منډه کړه راغله او زما د غاړي نه یې غبرک لاسونه تاو کړل زه یې په دواړو مخو ښکل کړم او کلک یې له غیږي سره ونیولم

ویل یې شکر چې بیا مې ژوندې او روغ ولیدلې خدایه شکر چې فراز دي یوځل بیا زما په غیږه کې راکړو

ما هم ترینه لاسونه تاوکړل او ښکل مې کړه

راته یې ویل ته کله راغلې یې فرازه

ما ویل پرون غرمه

ویل یې ولي دي نو بیا ماته نه ویل چې زه راغلې یم څوک داسي کوي زه ټوله شپه څومره خفه ومه

ما ویل د هغه انگریزانو خبره سرفرایز مې درکو ځکه مې ونه ویل

ویل یې نن چې هسي پوهنتون ته نږدي شوم نو د خوشالي احساس مې کاوو او ستا د غیږي بوي راباندې لږیده

په همدې خبرو کې وو چې یوه ډیره ښایسته جلۍ راغله زمونږ ټول مجلس یې په یو غږ سره ختم کړو

دا جلۍ زرغونه نومیده د نازنین د ماما لور وه د نازنین سره په پوهنتون کې محصله وه

ما ژر نازنین له ځانه جدا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه راغله اول يې سلام وکړو او بيا يې نازنين ته وويل

نازنين دا هلک څوک دي؟

نازنين ورته وويل زرغوني اوس چې دي وليدو درته وايم خو ګوره چې څوک خبر درنه نه شي

دا فراز نوميږي اصل کې د ننګرهار دي او زه ورسره مينه لرم زرغوني وويل نازنين ته پوهيږي چې ته څه وايې که کور کې درباندې څوک خبر شول نو وبه دي وژني ته خو ليونۍ شوي نه يې دا ته په کومه لاره سر شوی

نازنين وويل هو زه ليوني شوي يم او هغه هم د فراز د مينې مړه مې دي کړي زه يې په کيسه کې نه يم خو ته چاته مه وايه

ما ورله وويل زرغوني مونږ د يو بل سره مينه لرو ما د نازنين لپاره خپل ولايت کور کلي پريښود دلته راغلم زه غواړم نازنين خپله کړم ترسو جې د کور خلک يې پوهيږي له هغې مخکې زه ورپسې مرکه ليږم

نازنين وويل فرازه دا کار امکان نه لري مونږ په پردو خلکو کې خپلولي نه کړي نه يې کو مه خپل ژوند تباه کوه او مه د نازنين ته په دي هرڅه خبر نه يې لاړ شه بيرته دي خپل کور کلي ته وګرزه

ما وويل زرغوني ولي زه انسان نه يم کوم کمې دي راکي يا مينه کفر ده چې مونږ دواړه يې کوو

زرغوني وويل نه فرازه ستا کې د هيڅ کمي نشته او نه مينه کفر ده خو دا زمونږ رواج دي

زرغوني نازنين ته وويل رازه چې درس شروع کيږي زو

نازنين په تلو کې راته لاس راکو او وي ويل فرازه خه دي کړي چې راغلې يې بيا ليدل او خبري کوو هغوي روان شول او مخه خه مو سره وکړه

زه هم خپل دفتر ته لاړم او پخپل کار کې مصروف شوم

يو وخت يولس بجې وي چې نازنين پرله پسي اته ميسجي کړي وي ما بغير د ميسج له جوابه هغې ته دستي زنګ ووهو

نازنين موبايل اوکي کړو او د اوښي غوندې وغړمبيده

فرازه دا په تا څه شوي ته ولې زما ميسج ته په وخت ځواب نه راکوي ته وګوره څو ميسجونه مې کړي

د زرغونې په مخکي دي زما پوزه پري کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورله وویل ډیره ښښه غواړم کار کې دومره مصروف وم چې هیڅ مي موبایل ته پام نه دي شوي

نازنین وویل همدا اوس حرکت وکړه مونږ د فلانکی هوټل مخي ته ولاړ یو ژر راشه

ما هم حرکت وکړو لاړم هغوي دواړه د هوټل مخي ته ولاړ وو سلام مې وکړو ویل یې مخکي شه

زه مخکي هغوي راپسي هوټل ته دننه شولو

په هوټل کې کیناستو ما نازنین او زرغوني ته وویل تاسو څه خوري

هغوي وویل ته څه خوري ما ویل زه قورمه او پلو

دوي هم وویل چې مونږ هم همدا خورو

ما هوټلي ته وویل یو ټبل خوراکه قورمه او پلو راوړه او یو خوراک سابه راوړه خو د سبو مالګه کمه وي

ډوډۍ راوړه ما زرغوني ته وویل

زه او ته به یو ځای کینو دا پلو او قورمه به وخورو او نازنین به دا سابه وخوري ځکه ددي فشار جیګیږي دیته نه پلو خه دي نه قورمه

ما سابه د نازنین مخي ته وړاندې کړل

هغه په غوصه شوه فرازه ته په ما رشخند وهي

ما وویل نه تا اوس ناروغې تیره کړي د صحت خیال دي ساته دا پلو او قورمه همیشه وي خو صحت همیشه نه وي

ما زرغونې ته وویل ته بسم الله کړه که دا سابه خوري ودي خوري کنه یخني به ورته وغواړم

نازنین ویل هیڅ هم نه خورم تاسو یې وخوري چې ماړه شي

ما ویل سمه ده چې کورته لاړي هلته به یې وخوري

ما او زرغوني ډوډۍ خوړل شروع کړه

کله کله به مې د نازنین له قصده زرغونې ته قورمه یا غوښه مخته کړه چې ها دا وخوره دا ډیر خوند کوي نو په نازنین به ډیر بد لږیدله د سترګو لاندې به یې مونږ ته کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه هم شرمیده زړور خوراک یې نه شو کولي نو ما به ورته ویل

ښه زړور خوراک کوه بیل یې هسي هم نازنین ورکوي ځان موړ که خپل د کور سوچ ورته وکړه

نازنین به غبړ کو خاوري به زه بیل ورکم زهر مو شه څنګه په څلورو لګیا هستي

ما به بیا زرغونې ته قورمه مخ ته کړه او نازنین به د غوصي نه تکه سره شوه

ډوډۍ مو وخوړه ما ورله وویل نازنین ما او زرغونه به لاړ شو ته نور دا بیل ورکه

هغې وویل والکه ستاسو پلاران هم په ما بیا ورکړي ما څه خاوري خوړلي

ما او زرغونې ورپوري وخاندل هغه نوره هم غوصه شوه او پاسیده

رازه زرغونې چې ځو

ما زرغونې ته اشاره وکړه او بیا مې ورته وویل زرغونې نازنین ته به ټیکسي ونیسو دابه کورته ولیږو چې ناروغه ده زه او ته به لاړ شو قرغي ته

زرغونه په خندا شوه او د سر په تاید یې ماته ځواب راکړو

نازنین وویل ته ورسره لاړه شه مور او پلار ته دي وایم چې دا دغسي هلک سره قرغې ته په چکر لاړه

ما ناونین د لاسه ونیوله ورته مې وویل لیونۍ ته په ټوکو هم نه پوهیږي ته کینه تاته جوس غواړم

نازنین وویل تاسو دواړه یې وخوري چې ماړه شي

ما ویل ښه تا بیا زه د څه لپاره دلته غوښتلم چې اوس غوصه هم یې او خبري هم نه کوي

نازنین وویل ما بد کړي چې ته مې غوشتي یې ټول فکر دي راته خراب کړو

ما ویل زه سمه ده اوس خبره خو وکه څه خبره وه

نازنین روانه شوه مونږ هم ورپسي شولو د هوټل بیل مې ورکړو د هوټله ووتلو زرغونې وویل

فرازه نن تاسره ډوډۍ خوړلو راته ډیر خوند راکو ددي هرڅه نه مننه

ما ویل تاته به خوراک خوند درکړي وي خو زما له ستوني نه تیریده

ویل یې ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل ځکه چې نازنین ته خه نه وو او بل ماسره د هوټل د بیل سوچ وو

دریواړو وخاندل

نازنین وویل فرازه تاخو راسره چل اوکړو خو خیر زه به دي هم خوښه شم

ټیکسي راغله هغوي خدای پاماني وکړه او لاړل زه هم دفتر ته روان شوم په لاره کې وم چې موبایل ته مې زنګ راغې

ټیکسي راغله، هغوي خدای پاماني وکړه او لاړل. زه هم دفتر ته روان شوم. په لاره کې وم چې موبایل ته مې زنګ راغی. نمبر نا اشنا و. اوکې مې کړ. د هغې له خوا نه غږ راغی: "سلام فرازه."

ما چې غږ واورېد، زرغونه وه. "وعلیکم سلام!" مې ورته وویل. "څنګه یې، زرغنې؟ الله دې خیر کړي، په نازنین خو به څه نه وي شوي؟"

زرغونې وویل: "نه، په هغې هیڅ بلا نه ده لګېدلې. د دې لپاره مې درته زنګ وواهه چې مننه وکړم د نن غرمې ډوډۍ او قدردانۍ له امله."

ما وویل: "بیا بیا یې مه راته یادوه، زړه مې خفه کېږي. تاوان مې شوی."

په خوا کې یې نازنین وخندل. موبایل یې ترې کش کړ او وې ویل: "اورې فرازه؟"

ما وویل: "هو، اورم. څه، کوڼ خو نه یم." دواړو وخندل.

نازنین وویل: "د تاوان خبرې مه کوه. بیا به مې د ماما لور پیغورونه راکوي."

ما وویل: "دي کې د پیغور څه خبره ده، خو رښتیا وایم. په تاوان ان فرعون هم خفه کېده، زه خو لا شکر دی مسلمان یم."

هغوی بیا وخندل. نازنین وویل: "سمه ده، مونږ کور ته نږدې یو، بیا وروسته به خبرې وکړو."

ما وویل: "سمه ده، خو دا شمېره د چا ده؟"

نازنین وویل: "دا د ټیکسي د ډرایور ده."

ما وویل: "سمه ده، زه به هم نور دې ډرایور ته زنګ وهم او خبرې به کوم."

زرغونې ژر غږ کړ: "دا دروغ وایي، دا زما شمېره ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین وویل: "پام کوه، نور دې شمیري ته زنگ ونه وهي، که نه زرغونه به په غم ککړه شي!"

ما وویل: "سمه ده، ټوکه مې وکړه." په همدې سره مو اړیکه پرې کړه.

سیده دفتر ته لاړم، پاتې کارونه مې خلاص کړل. مازیگر شو، جامې مې بدلې کړې او ورو ورو پول خشتي خواته روان شوم. هلته مې یوه دوه پولاني وخوړله، او د هغې ځای نه په چکر چکر روان شوم عبدالحق څلور لارې خواته. مازیگرى و، ډېره ښکلې هوا چلېده، او د خلکو گڼې گوڼې ډېرې وې. ډېر محصلین له پوهنتونونو کورونو ته روان وو. ددې هر څه لیدلو راته یو خوند راکول.

د څلور لارې په منځ کې کیناستم او د موټرو ننداره مې کوله چې نازنین مېسج وکړو: "سلام فرازه، څنگه یې؟ او چیرته یې؟"

ما ورته وویل: "عبدالحق څلور لارې کې."

هغې وخندل: "هلته څه کوې؟"

ما ورته ولیکل: "موټري شمارم."

هغې بیا مېسج وکړ: "سبا جمعه ده، زه پغمان ته چکر ته ځم، ته هم راشه."

ما وویل: "سمه ده، خو زه به څه کوم؟ تا سره به دې فامیل وي."

هغې وویل: "خیر دی، د لرې نه خو به دې وگورم."

ما وویل: "د لرې نه مې ولې گورې؟ غواړم چې له نږدې دې وگورم."

هغې وویل: "هغه څنگه؟"

ما وویل: "زرغونه له ځانه سره که، بیا تا او زرغونه دې له فامیلیو څخه اجازه واخلي ، چې موږ چکر ووهو. په دې بهانه به سره ووینو."

هغې وخندل: "دا څه خورې چې دومره هوښیار یې؟"

ما وویل: "پلو او قورمه."

چې کتل مې نازنین زنگ یې ووهو

د موټرو گڼه گوڼه ډېره وه ورو ورو میکرویان کهنه په سرک روان شوم موبایل مې اوکې کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین سلام وکړو او شروع یې وکړه

فرازه زه په تا هوټل کې غوصه شوم ستا او د زرغونې یوځای ډوډۍ غوراک راته سخت زور راکو نه مې شو زغملي د هغې ښښنه راته وکړه خو اوس چې سوچ کوم ستا دي کار زه تاته نوره هم نږدي کړم او ستا مینه مې زړه کې نوره هم زیاته شوه

ته پوهیږي فرازه له هماغې وخته چې راغلي یو کور ته نو زرغونې راته ستا صفتونه شروع کړي او ستا دا کار او ستا د جرت ستاینه کوي

ما وخاندل او ورته مې وویل خه دا تاسو یادولم په پرینجو مو زما سته ویستله

نازنین وخاندل نو ته څه فکر کوي چې مور دي یادولي

دواړو وخاندل

ما وویل نازنین هغه صحنه ما لپاره ډیره سخته وه ما په ژوند کې د کومي جلی سره خوراک نه دي کړي خو دا هرڅه مې ستا لپاره وکړل چې سبا درله زما کومه نیمگړتیا ونه وایي او خوشاله اوسي

نازنین ددي هرڅه مننه وکړه

په دي وخت کې د دروازي د ټک ټک اواز شو نازنین وویل فرازه خبري مه کوه او بیا یې غږ که څوک یې رازه

د زرغونې خبري مې واوریدي راغله نازنین ته یې ویل لکه د فراز سره دي خبري کولي هغې وویل نه ارام مې کولو

ما غږ وکړو نه زرغونې ماسره یې خبري کولي

زرغونې نازنین ته وویل دي بالخت لاندې نه د غږ اواز رازي

نازنین وویل هو هما د غم زوي دي خوله یې نه بندیږي ما ورته وویل چې خبري مه کوه خو چاته وایي

زرغونې وخاندل ویل یې خه زه به لاړه شم

نازنین موبایل واخیست او زرغونې ته یې وویل چې اوس راغلي یې نو کینه

ما پري غږ وکړو نه لاړه شه بیا دا خبري نه شي کولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې ترینه موبایل واخیست سلام یې وکړو او بیا یې وویل فرازه دا خه کار نه کوي نازنین دي مونږ نه جدا کړي یو ساعت هم مونږ سره نه کینې دا ده او کوټه ده او ته یې لک لک خو یې زمونږ خواته هم لږه

ما ورته وویل ټوله تاسو سره ده اوجدً خو روځ زما سره ده

وي خاندل او وي ویل نو تش کال بوت به څه کړو چې نه مونږ سره کینې نه خبري کوي

ما ورته وویل زرغونې سبا د نازنین سره ته هم پغمان ته راشه زما او د نازنین ریباري وکړه

زرغونې وخاندل او وي ویل زما څه کار دي هسي ولي زه په غم ځان ککړ کم نه رازم

ما وویل خیر دي زما په خاطر که ته رانه شي نو زه د نازنین سره دیدن او لیدل نه شم کولي ستا د لاري مونږ کولي شو یو بل وګورو

زرغونې ومنل ویل یې سمه ده دا مرګ به ستاسو د دواړو لپاره په ځان قبول کم

ما وویل ته وګوره ته څومره ښه یې او نازنین دي راته څومره غیبت وکړو

نازنین موبایل واخیست فرازه ما کله غیب کړي دا دروغ ولي وایي

ما وخاندل ورته مې ویل ما ځکه دا خبره وکړه چې تا ځان ورک کړي وو غلې ناسته وي یو خو ته سمه د مرچو بار یې دستي غوصه کیږي

زرغونې وخاندل نازنین وویل خود غوصه کیږم اوس رانه په زوره زرغونه خفه کوي

ما ویل زرغونه پوهیږي چې زه ټوکي کوم او تا زوروم

هغې ویل سمه ده بس که نور خه وایه سبا به ته رازي

ما ویل ته به مې غواړي او زه به نه درزم خو چې زرغونه درنه پاتي نه شي

زرغونې اواز وکړو سمه ده درځم غم مه کوه

ما وویل سمه ده اوس به زه هم ورو ورو روان شم دفتر په لور ماښام نږدي دي چې ځان ورسوم

په همدې خبره مې خدای پاماني واخیسته خو په تلو کې زرغونې غږ کړو دفتر کې څه کوي شپې ته راشه د لیلا خواته دي

نازنین ورته په ارامه غږ وویل غلي شه بیشرمې په چا مو وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره مې اړیکه قطع کړه او دفتر ته روان شوم شپه شوه تر ډېره ما او نازنین یو بل سره میسجونه وکړل

یو وخت مې کتل زرغونې میسج وکړو لیکلي وو سلام فرازه نازنین لګه تنګه که

ما ولیکل ښنګه

ویل یې ورته ولیکه چې ستا ابي جامې په غاړه دي او د کوټې په دغه ځای کې پرته یې زه د اشداري لاندې ولاړ یم تا ګورم

ما نازنین ته همداسې ولیکل

زرغونه ژر له خپل ځایه پورته شوه اشداري کې یې وکتل میسج یې راته وکړو ته چیرته یې

زرغونې د میسج د لاري ټول معلومات راکړل

ما وویل اشداري کې مه ګوره زه تا ګورم چې اشداره دې خلاصه کړه

جلی یو دم زنګ ووهو

فرازه ته دروغ وایې که ربښتیا چیرته یې

اوس مې لکه په کورنۍ وژني

زرغونې بیا راته معلومات راکړل

ما ورته وویل کله دروازي ته زي او کله اشداري ته غلي پخپل ځای کینه زه لاړم

جلی حیرانه شوه فرازه ستا دي زما پسر قسم وي ووایه ته چیرته یې کنه اوس له کوټې نه اوزم

ما ویل دادي لاړم په دروازه ووتم

زرغونې خر وخاندل

جلی نوره هم حیرانه شوه

ما ویل نه یم راغلې زرغوني راته وویل چې دا تنګه که ارامه شه

جلی یو اوږده سا واخیسته وي ویل ځوک داسې ټوکې کوي اوس به مې سا وتلې وه

ما ویل سمه ده اوس ویده شه ناوخته دي سبا به ګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای پامانې مو وکړه

سهار مې جامي بدلي کړي چاى مې اوڅښلو نهه بجې وي چې نازنين ميسج وکو مونږ روان شولو

ما ورته جواب ورکو سمه ده ما هم ځان تيار کړي درځم

د ښار نه موټر کې کيناسم او روان شوم

قصر پغمان ته مې ځان ورسولو  نازنين څو ميسجونه راته وکړل چې څنګه دي ناوخته کړو

کله چې اورسيدم نو ميسج مې ورته وکړو چې زه ورسيدم په فلانکي ځاى کې ولاړ يم

چې کتل مې نازنين او زرغونه دواړه راغلل

زرغونې وويل تاسو مو خپلي خبري وکړي زه به شاو خوا ګرځم چې څوک رانه شي هغه لاړه زه او نازنين يې يوازې پريښودو

زرغونه لاړه پټه کښېناسته، څارنه يې کوله چې څوک رانه شي ما او نازنين ونه ګوري.*

نازنين راغله، کلکه غاړه يې راکړه او ويې ويل: "د غم زويه، هيڅ موقعه نه پيدا کېده چې تا غېږه کې ونيسم."

ما ورته وويل: "دا څه کوې، نازنين، زرغونه مو ګوري، پرېږده."

ويل يې: "ودي ګوري، زه نوره د دنيا په کيسه کې نه يمه. که مرګ وي يا ژوند، نو تاسره به وي."

ما له ځانه جلا کړه، د لاسه مې ونيوله او يو بغل ته کښېناستو، خبرې مو شروع کړې.

ما ترېنه د زرغونې په اړه پوښتنه وکړه.

ويل يې: "دا مې د ماما لور ده. کور يې کلي کې دى، دلته زموږ سره ژوند کوي د پوهنتون په خاطر."

ما وويل: " ولې ستاسو په ولايت کې پوهنتون نشته؟"

نازنين وويل: "شته، خو سم پوهنتونونه نشته. بل، دلته مې ملګري هم ده."

ما وويل: "پلار او ورونه دې څه کار کوي؟"

ويل يې: "دوه ورڼه مې په امريکا کې دي، يو کوچنى ورور مې دلته دى. پلار مې مخکې ډګروال و، اوس تقاعد شوى او کور کې ناست وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ پنځه خويندې يو، دوه واده شوې دي، او دوه له ما نه وړې دي، هغوي مکتب وايي او زه پوهنتون."

ما وويل: "ولې خپل ولايت کې ژوند نه کوئ؟"

ويل يې: "پلار مې له ډېر پخوا دلته کابل ته راغلی، زموږ پيدايښت دلته شوی. ترونه او ماماګان مې ټول په خپل کلي کې ژوند کوي."

ما وويل: "نازنين، زرغونې چې د پوهنتون مخکې کومې خبرې کولې، چې مونږ پردو خلکو کې خپلولي نه کوو، دا رښتيا دي؟"

نازنين وويل: "هو، دا رښتيا دي. خو زما پلار يو روشنفکره سړی دی، هغه دغو خبرو پسې نه ګرځي. دا زاړې خبرې دي."

ما وويل: "کور مو کوم ځای کې دی؟"

هغې د کور مکمل ادرس راکړ.

ما وويل: "که دې خوښه وي، زه به خپل مشران په جرګه در ولېږم، چې پلار دې څه وايي."

نازنين وويل: "صبر وکړه، دا مې د پوهنتون اخيري کال دی. پوهنتون نه فارغه شم، بيا به دا خبرې وکړو."

ما وويل: "نه ته خپل پوهنتون سر ته ورسوه، خو يو ځل به دې پلار وګوړو چې څه وايي. که يې ښه وکړه، نو کوژده به وکړو او واده به د فراغت نه وروسته وکړو."

په دې وخت کې زرغونې ميسج وکړ، چې "د کورنۍ غړي دېخوا در روان دي."

نازنين ژر پاڅېده، ماته يې وويل: "په ځان پام کوه"، او روانه شوه.

ما هم په قصر پغمان کې يو څو عکسونو د کيمري والا باندې واخيستل او روان شوم.

دفتر ته راغلم، کور ته مې زنګ وواهه، د کورنۍ پوښتنه مې وکړه. مور مې وويل: "زويه، کله راځې؟"

ما وويل: "وګورم نو، چې کله راغلم. دغسې خطرناکې لارې دي، ژر تک راتک ښه نه دی." مور مې هم ومنله.

بيا مې خور تليفون واخيست. ويل يې: "وروره، چې راتلې، د کابل نه ځان سره روټ او کلچې راوړه."

ما وويل: "انجونې کالې غواړې، بنګړي غواړې، ته دا شيان."

ويل يې: "نه، وروره، ته چې څه يادوې، دا دلته هم شته. او ما چې څه ياد کړي، دا مې د ادي لپاره غوښتي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "سمه ده، خوري، چې راتلم، راوړم یې."

اړیکه مې پرې کړه.

یو ساعت وروسته، نازنین مېسج وکړ: "سلام، فرازه، مونږ هم حرکت وکړ، راځو کور ته."

ما وویل: "ولې؟ تا خو ویل چې مونږ تر ناوخته پاتې کېږو."

ویل یې: "د پلار مې څه کار پیدا شو، ویل یې چې ځو کور ته."

ما وویل: "په خیر سره راشئ."

شپه شوه. اته بجې د یو نا اشنا نمبر نه زنګ راغی. وکي مې که، سلام مې وکړ.

هغې راته وویل: "وعلیکم سلام. ته فراز یې؟"

ما وویل: "هو، زه فراز یم. تاسو څوک یاست؟"

ویل یې: "زه د نازنین پلار خبرې کوم."

ما وویل: "سلام، کاکا، څنګه یاست؟"

ویل یې: "ښه یم، بچیه، غواړم تا له نږدې وګورم او خبرې درسره وکړم."

ما وویل: "په سترګو، کاکا. چیرته او څه وخت؟"

ویل یې: "اوس خو ناوخته دی، سبا نهه بجې زمونږ کور ته راتلې شې؟"

ما وویل: "که غواړې اوس درځم. کور مو چیرته دی؟"

کور خو یې راته نازنین مخکې ویلي و، خو ځان مې نانګاره کړ.

ادرس یې راکړ. ویل یې: "زه به ستا په طمعه یم."

ما وویل: "سمه ده، کاکا، حتماً درځم."

خدای پاماني مې وکړه او موبایل مې بند کړ.

ما دستي نازنین ته میسج وکړ، چې ورته ووایم څه خبره ده چې پلار دې زنګ وهلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نازنین ځواب رانکړ.

سودا مې شوه. زرغونې ته مې میسج وکړ، هغې هم ځواب رانکړ.

په همدې سوچونو کې اوختم رااوختم. لس بجې شوې، چې کټل مې نازنین مېسج وکړ.

ما دستي زنگ وواهه.

ما وویل: "هلو، نازنین، غږ مې اورې؟"

نازنین په قراره او غلي غږ وویل: "هو، اورم، څنگه یې؟"

ما ورته د پلار یې ټوله کیسه تیره کړه، چې زه سبا درځم ستاسو کور ته.

ویل یې: "هو، پلار مې زه او ته دواړه لیدلي وو چې هلته ناست وو. اوله کې مې انکار وکړ، خو نه یې منله. بیا مې ټوله کیسه ورته وکړه او ستا نمبر یې رانه واخیست."

خو بیا یې وویل: "ته مه راځه."

ما وویل: "ولې نه راځم؟ څه خبره ده؟"

ویل یې: "بس، مه راځه."

ما وویل: "نازنین، مونږ کوم جرم نه دی کړی. مینه کوو. که درنه شم، تاته به وایي چې ودي کټل، پټ شو او رانغی. زه درځم که هر څنگه وي."

نازنین وویل: "زه ډارېږم چې کوم څه ونه شي."

ما وویل: "نازنین، چې تراوسه څه نه دي شوي، اوس به هم نه کېږي. بل، ما ستا د پلار خبرې واورېدې، هغه داسې کوم څه نه کوي. کنه، ما ورته وویل چې اوس درځم، خو پلار دې وویل چې سبا راشه."

نازنین وویل: "فرازه، اوس په ځان هم ډارېږم چې دا شپه به څنگه تېرېږي."

ما وویل: "مه ډارېږه. دروازه بنده کړه او زرغونه ځان سره څملوه."

ویل یې: "سمه ده، خو ډېره ډارېږم."

ما وویل: "هیڅ خبره نشته، کلیمه ووایه او ویده شه. دا ستا وهم دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکه مې پرې کړه، خو هیڅ خوب نه راتله.

زرغونې مېسج وکړ. هغې هم ټوله خبره راته وکړه.

ما وویل: "زرغونې، بیداره اوسه او په نازنین پام کوه. زه سبا درځم او د نازنین پلار سره خبرې کوم."

زرغونې هم راته د نه راتلو مشوره راکړه، خو ما هغه پوهه کړه او خدای پامانې مې ورسره وکړه.

ویده شوم، او سهار چې پاڅېدم، چای مې وڅښه. کشر ورور ته مې زنگ وواهه، ورته مې وویل: "یو دوه کسان واخله او په رنجر کې راشه، چیرته ځم، کار مې دی."

ورور مې وویل: "که څه لانجه دې کړې وي، چې رنجر د سرتېرو نه ډک راوړم؟"

ما وویل: "نه، دوه کسه بس دي. لانجه مې نه ده کړې، صرف د یو چا لیدلو ته ځم."

ورور مې وویل: "سمه ده، زه درغلم."

ما هم ځان تیار کړ. اته نیمې بجې وې، چې ورور مې راغی.

ورسره د رنجر په مخکې سیټ کې کېناستم، او د نازنین د کور مخې ته لاړو.

ما د نازنین پلار ته زنگ وواهه، چې "زه بیرون د دروازې مخې ته ولاړ یم."

هغه راووت، مونږ ټولو سره ستړې مشي وکړه، او بیا یې د حجرې ته د تللو بلنه راکړه.

ورور مې وویل: "مونږ به همدلته ودرېږو."

خو د نازنین پلار کلک شو.

ورور مې یو عسکر په رنجر کې پرېښودو، او مونږ درېواړه لاړو حجرې ته.

هلته یې د چایو او شربت د راوړلو وویل. چای او شربت راغلل، هغه مو وڅښل. بیا د نازنین پلار وویل: "که ستاسو اجازه وي، زه د فراز سره یو څو خبرې وکړم."

ورور مې وویل: "دا سرتېری به بیرون لاړ شي، زه به پاتې شم."

ما وویل: "نه، وروره، ته هم لاړ شه."

نازنین پلار وویل: "دا دی ورور دی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "هو، دا مې کشر ورور دی، په وزارت دفاع کې قومندان دی."

ویل یې: "سمه ده، دا دی هم پاتې شي."

عسکر ووت. د نازنین پلار خبرې شروع کړې:

"فرازه، بچیه، ته ډېر غیرتي او پښتون ځوان یې. د اخلاقو نه معلومیږي چې د ډېرې ښه کورنۍ نه یې. ښه ځواني لرې، خو بچیه، زما د لور نه لاس واخله. زاري درته کوم، زما دې سپینو ډکو ته وگوره. په پښو درته پرېوزم، ما مه شرموه. زه قام لرم، قبیله لرم، توربور لرم. د الله روی وکړه، د دې کارونو نه تېر شه."

په دې سره یې له سترگو اوښکې راغلې.

زما په سر کې یو کړس شو، لکه چې په مرمۍ ولگېږم. د زړه نه مې د درد یوه څړیکه پورته شوه.

په یو لاس مې خپل زړه کلک ونیوه. یوه شیبه غلی او خاموش وم. زړه مې لږ ښه شو. ما وویل: "کاکا، زه به ټوله کیسه تر نن شپې پورې درته وکړم، او بیا به له تاسو نه لاړ شم."

ما هغه ته د زما او د نازنین د اولې ورځې نه نیولې تر نن شپې پورې ټوله کیسه وکړه، چې دا هر څه یو تصادف سره پیښ شول، او زمونږ مینه وشوه.

په دې خبرو سره مې ورور وپاڅېد. له سترگو یې اوښکې روانې شوې.

وویل کاکا : "د دې له خوا زه بښنه غواړم."

بیا یې ماته وویل: "وروره، ته زما نه مشر یې، هیڅ نه شم ویلی. خو دومره درته وایم چې کور کې خپلو خویندو ته نظر وکړه، او بیا داسې کارونه کوه. ما په تا ډېر حساب کاوه، مگر تا نن یو سپینږیری پلار وژړاوه. تا یو سپینږیری دومره مجبور کړ، چې د خپل عزت په خاطر ستا پښو ته ټیټ شو. ما هېڅ فکر نه کاوه، ان ذهن ته مې هم نه راتلل، چې زه به داسې حال له تا گورم."

همداسې د کوټې نه ووت، او رنجر یې چالان کړ، او لاړ.

ما ورته وویل: "ډگروال صاحب، که غواړې، زه به خپل مشران درولېږم. که مو زه خوښ نه یم، نو صرف د یو زنگ وهلو اجازه راکړه، چې زه له نازنین سره د ټول عمر لپاره خدای پامانې وکړم. ما وبښه."

هغه وویل: "بچیه، ودرېږه. مه ځه، زما خبره لا خلاصه نه ده."

زه بیرته تاو شوم. ما وویل: "وایه، ډگروال صاحب."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل: "بچیه، خبره د خوښې نه ده. ښایسته ځوان یې، او نازنین درسره مینه هم لري. زه د قام او دستور له رواج نه هم درته تېرېدم، خو خبره داسې ده چې ما نازنین په ماشومتوب کې د هغې تره زوی ته ورکړې. دا چې پوهنتون خلاص کړي، کوژده یې کوو."

زما په زړه کې د درد بله څړیکه راغله. کېناستم، زړه مې کلک ونیولو. اوبه مې وڅښلې، او ورته مې وویل:

"کاکا، قسم دی که له دې هر څه خبر وم. او نه نازنین دا خبره راته کړې وه. ماته نور اجازه راکړه. زه درسره وعده کوم چې زه به له نازنین نه د خپل ژوند په بیه لرې لاړ شم. بیا به نه ما وګوري او نه به مې غږ واوري."

همداسې شرمنده له کوره ووتم.

په ټوله لاره مې ژړل، او سلګۍ مې وهلې، چې: "نازنین، تا ولې ماسره داسې وکړل؟ تا مانه ولې دومره لویه خبره پټه کړه؟ تا ولې زما د زړه سره دومره لوبې وکړې؟"

لاړم دفتر ته. خپلې جامې مې واخیستې. همکارانو ته مې وویل: "زه نور نه راځم."

استعفاء مې هم ونه لیکله. له دفتره ووتلم. نیغ لاړم تر هډې، په موټر کې کېناستم او حرکت مې وکړ.

چې کتل مې، د نازنین زنګ راغې.

هډه کې موټر کې کیناستم. له سترګو مې اوښکې همداسې روانې وې. موټر حرکت وکړ. په همدې وخت کې د نازنین زنګ راغی. د موبایل په سکرین مې چې د نازنین نوم ولیدو، په زړه کې مې سلګۍ شوې. خواکې ناست نفر راته وویل، "وروره، خیر خو به وي؟ څه بده پیښه شوې؟"

ما وویل، "هو، بده پیښه شوې." نور مې څه ونه ویل.

د نازنین اړیکه مې پرې کړه. نمبر مې تور لیست کې واچاوه. ډېره سخته وه، هغه څوک چې به مې په موبایل ځارلو، شپې به مې په خبرو سبا کولې، نن مې د هغې نمبر تور لیست کې واچو چې بیا اړیکه ونه نیسي. کتل مې، پیغام یې رالیږلی و. پرته له لوستلو مې پیغام هم تور لیست ته واچو. ژړا مې نه دریدله.

یو وخت سروبي ته ورسیدو. ډریور ته مې وویل، "استاده، یو دوکان ته ودریږه، لږې اوبه اخلم." موټر ودرید، ټولې سوارلۍ کوزې شوې. زه سیند غاړې ته ښکته شوم، مخ او لاس ته مې اوبه واچولې، راغلم دوکان ته، اوبه مې واخیستې او حرکت مو وکړ.

کتل مې، زرغونې پیغام رالیږلی و: "سلام فرازه، ښه یې او چیرته یې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ځواب ورکړ: "زرغونې، تا او نازنین ماسره ښه ونه کړل. تاسو زما د زړه سره لوبې وکړې. الله دې تاسې ته سزا درکړي. نازنین ته ووایه چې نور به نه د فراز شکل ویني او نه به یې غږ اوري."

زرغونې راته وویل، "فرازه، څه خبره شوې ده چې ته داسې وایې؟"

ما ځواب ورکړ، "زرغونې، اوس خبرې نه شم کولی. وروسته به درته وایم."

نور مې هغې ته ځواب ورنه کړ. تر جلال آباده مې له سترګو اوښکې روانې وې. مازیګر کلی ته ورسیدم. کور ته لاړم، ټول رانه تاو شول او سترې مه شي یې راته وکړه. زه لاړم، کوټه کې پریوتلم.

کتل مې، مور مې راغله، وې ویل، "فرازه زویه، څه خبره ده چې داسې بې وخته پریوتی یې؟"

ما وویل، "هیڅ، ستړی یم، ما یوازې پرېږده."

مور مې لاړه، زه بیا سلګو ونیولم، ښه مې زړه تش کړ.

کتل مې، خور مې راغله، وې ویل، "وروره، اوبه درته تیارې کم. ولامبه، سا او صورت به دې په ځای شي

زه پاسیدم او غوصه شوم ما ونه ویل چې ما په ارامه پرېږدي فکر مې ګډوډ وو خو رمي ونیوله او یو څلور خپیړي مې په مخ وخله هغه کیناسته په ژړا شوه

لاس نه مې ونیوله پورته مې کړه غاړه مې ترینه تاوه کړه سلګو ونیولم خه ډیر مې وژړل

خور مې راته وویل وروره څه شوي څه خبره ده ماته ووایه

ما وویل خوري ما وبښه چې په تا مې ګوزار وکړو هیڅ نه دیي شوي

خور مې وویل نه وروره څه خبره ضرور شوي ته خو ما کله په داسي حالت کې نه یې لیدلي ووایه خیر دي کنه اوس ادي ته غږ کوم

ما وویل هیڅ نشته یوځل مې وویل کنه نوره غلې شه

دي وخت کي مي په زړه درد راغې کیناستم ما ویل هله اوبه راوړه

چې کتل مې مور مې هم راغله اوبه یې راکړي ویل یې

فرازه څه خبره ده دا خور دي ولي داسي ورخطا ده او تاسو ولي ژړلي

ما مې مور نه غاړه تاوه کړه چې موري زړه مې درد کوي هیڅ نه پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې غيږه کې کلک ونيولم ويل يې څه خبره ده ووايه

زما بيا ماغذه خرابه شول او له کوره ووتم

لاړم لري وياله وه هلته کيناستم او په ژړا شوم چې وه خدايه دا دي په څه عذاب ککړ کړم ما داسي کومه ګناه کړي وه چې تا ماته دومره سخته سزا راکړه

تا ولي زه د نازنين په مينه کې داسي ګير کړم

هغه يې رښتيا ويلي

چې خداى رسول چاته په قهر شي

نصيب يې خوار شي په ورکړي مين شينه

نازنين تا ماته له اوله دا خبره ولي نه کوله

بل خوا زرغونې زنګونه او ميسجونه کول چې يوځل خبري وکړه نازنين خه نه ده مونږ په شفخانه کې يو

زنګ يې راغې ما همداسي ژړل وکې مې که هغې چې زما غږ واوريدو نو زرغونه هم په ژړا شوه

ما ويل زرغونې که هغې رانه دا خبره پټه کړي وه نو تا خوبه ويلي وو تا راته ولي نه ويل چې نازنين کوژده شوي يايي بل چاته ورکړي اخير ولي نازنين ولي يا الله ماته مرګ راکې نه يم خوشاله په دي ژوند

نور په ځان پوه شوي نه يم

يو وخت چې مې کتل په صحت عامه کې ومه ټوله کورنۍ مې سر ته ولاړه وه

ما ويل څه وخت دي په ما څه شوي

کشر ورور مې هم له کابله راغلې وو ويل يې ته پرون بي هوشه شوي وي صحت عامي ته مو راوړي يې

ما جيب ته لاس که چې تليفون مې وګورم په جيب کې مه نه وو زه پاسيدم چې روان شم خو د تلو توان راکي نه وو ومې ويل زما تليفون راکي

ورور مې وويل هغه کور کې پاتي دي

بيا مې د پاسيدو اراده وکړه ورور مې وويل ته اوس له کومانه راوتلي يې تاته د ارام ضرورت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل اوس خه يم زو كور ته او په دي سره مې د كورته تلو ضد وكړو

ډاكترانو وويل اوس له خطري نه بهر دي خو خفگان ورله خه نه دي تاسو كولي شي دا كور ته يو سي

حكت مو وكړو كورته راغلو د راتک سره مې خور ته وويل زما موبايل راوړه خور مې موبايل راوړو دوه سوه زنگونه او ميسجونه د څو نمبرو نه راغلې وو

خور مې وويل وروره د زرغونې په نوم يوي جلۍ درته ټوله شپه او ورځ زنگونه وهل ستا پوښتنه يې كوله او ويل يې چې نازنين اوس خه ده

خو ډير يې ژړل وروره دا څوک ده او ولې يې تاته ژړل او نازنين څوک ده او څه ناروغه وه

مامې خور طرفه ته په غوسه سترگې واړول هغه پوهه شوه او غلي شوه

دي وخت كې د زرغونې زنگ بيا راغې

ما غوښتل چې له كوره بهر خبري وكړم خو چا اجازه رانكړه ما وويل خير ما يوازي پريږدي هغوي لاړل ما د زرغونې موبايل اوكي كړه سلام يې واچو

اوس څنگه يې فرازه

ما ويل خه يم اوس له شفخاني نه راغلو

خا ډاكترانو څه وويل

ما ويل خبر نه يم خو ورور مې ويل كوماته تللي وي

ويل يې د نازنين پوښتنه نه كوي

زما زړه بيا راډک شو په ژړا شوم ويل مې شكر چې خه شوي

خبري ورسره كوي

زرغوني غلې شه نوره ولي غواړي چې تكليف كې شم اوس خو د هغې نوم په اوريدو مې زړه ټوټه ټوټه كيږي كه غږ يې واورم مړ به شم زه به هغه هيڅ كله هم ونه ښښم هغې زما په زړه لوبي وكړي

دا دی ستاسو متن مې اصلاح كړی دی:

ما وويل، "څه وخت دی؟ په ما څه شوي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشر ورور مې چې له کابله راغلی و، وویل، "ته پرون بې هوشه شوې وې، صحت عامه ته مو راوړې وې."

ما جیب ته لاس کړ چې تلیفون مې وګورم، خو په جیب کې مې نه و. پاڅېدم چې روان شم، خو د تلو توان راکې نه و. ومې ویل، "زما تلیفون راکړئ."

ورور مې وویل، "هغه کور کې پاتې دی."

بیا مې د پاڅېدو اراده وکړه، ورور مې وویل، "ته اوس له کوما نه راوتلی یې، تاته د آرام ضرورت دی."

ما وویل، "اوس ښه یم، ځم کور ته." په دې سره مې د کور ته تلو ضد وکړ.

ډاکټرانو وویل، "اوس له خطري نه بهر دی، خو خفګان ورته ښه نه دی. تاسو کولی شئ دا کور ته یوسئ."

حرکت مو وکړ او کور ته راغلو. د راتګ سره مې خور ته وویل، "زما موبایل راوړه!" خور مې موبایل راوړو. دوه سوه زنګونه او پیغامونه د څو نمبرو څخه راغلي وو.

خور مې وویل، "وروره، د زرغونې په نوم یوې جلۍ ټوله شپه او ورځ زنګونه وهل. ستا پوښتنه یې کوله او ویل یې چې نازنین اوس ښه ده. خو ډېره یې ژړل، وروره. دا څوک ده او ولې یې تاته ژړل؟ نازنین څوک ده او څه ناروغه وه؟"

ما خپلې خور ته په غوسه سترګې واړولې. هغه پوه شوه او غلې شوه.

په دې وخت کې د زرغونې زنګ بیا راغی. ما غوښتل چې له کوره بهر خبرې وکړم، خو چا اجازه رانکړه. ما وویل، "خیر، ما یوازې پرېږدئ." هغوي لاړل، ما د زرغونې موبایل ته اوکی کړه. زرغونې سلام واچو.

"اوس څنګه یې، فرازه؟"

ما وویل، "ښه یم، اوس له شفاخانې راغلم."

ډاکټرانو څه وویل؟"

ما وویل، "خبر نه یم، خو ورور مې ویل چې کوما ته تللی وې."

زرغونې وویل، "د نازنین پوښتنه نه کوې؟"

زما زړه بیا راډک شو، په ژړا شوم، ومې ویل، "شکر چې ښه شوې."

زرغونې وویل، "خبرې ورسره وکړه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل، "زرغونې، غلې شه، نوره ولې غواړې چې تکليف مې راکړې؟ اوس خو د هغې نوم په اورېدو مې زړه ټوټه ټوټه کېږي. که غږ يې واورم، مړ به شم. زه به هغه هيڅکله هم ونه ښنم. هغې زما په زړه لوبې وکړې،

"فرازه، د نازنين پلار هم غواړي چې ته د نازنين سره لږ څه موده خبرې جاري وساتې، کنه هغه به مړه شي. د هغې درمل او ډاکتران اوس يوازي ته يې."

ما وويل، "پرېږده چې مړه شي! نه غواړم نور د هغې غږ واورم."

زرغونې وويل، "فراز، نور به اړيکه پرې کوم، خو په نازنين پام کوه."

تليفون مې پرې بند کړ.

بل خوا نازنين ته د تره زوی له امريکا زنگ وهلی و. هغه د نازنين د ناروغۍ نه خبر شوی و. نازنين ورته ويلي وو، "سباون، يوه خبره، يو سوال درته کوم. منې يې؟"

سباون ويلي وو، "هو، هره خبره دې منم."

نازنين د قسم نه تېر کړی و او بيا يې ورته ويلي وو، "سباون، که غواړې چې زه ژوندۍ پاتې شم، نو ته د دې رشتې نه تېر شه، کومه چې زما او ستا ده. په تا کې هېڅ نيمگړتيا نشته، ښايسته يې، د کاکا زوی يې، تعليم يافته يې، ډاکتر يې، خو زه..."

سباون وويل، "ته څه؟ ته څه غواړې؟"

نازنين وويل، "زه له يو بل چا سره مينه لرم، په هغه مينه شوې يم. نن چې مې کوم حالت دی، دا هم د هغه د لاسه دی. خير دی، زما خبره ومنه او د دې رشتې نه تېر شه."

سباون وويل، "نازنين، چې تا راته حقيقت وويل، نو زه هم درته حقيقت وايم. زه هم په يوې جلۍ مين شوی يم، دلته له ماسره ډاکتره ده، خو ستا په خاطر ما ورته څه نه دي ويلي."

نازنين وويل، "سباون، ته دې خپل فاميل پوه کړه او د دې رشتې نه تېر شه. له هماغې جلۍ سره واده وکړه، زما په خاطر. ته به په ما څه بوخت شې چې وجود مې تاسره وي او زړه مې د بل سره."

سباون خپله هم مجبور و، د خپلې مينې په خاطر. او همدا موقع يې لټوله. نازنين هم مجبور کړه چې د دې رشتې نه انکار وکړي. سباون ورته وويل، "تر ماښامه وخت راکه. زه به درته جواب درکوم. اول له مور او پلار سره خبرې کوم، بيا درته وايم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه هر ساعت وروسته ماته زنګ وهلو. هغه نازنین ته ویل، "فراز زما نمبر او پیغامونه بند کړي دي، ته ورسره خبرې کوه، پوښتنه یې کوه."

یو میسج یې وکو چې دا ټپه یې لیکلي وه

ستا به زما نه ګلیه کیږي

زه د رواج په زولنو تړي یمه

ما چې زرغونې ته وویل، "د هغه نوم راته مه اخله"، نو ما د هغې ژړا واورېده، ځکه زرغونه د نازنین په څنګ کې ناسته وه.

د زرغوني نه مې چې خبري بس کړل، پاسیدم د کوټې ووتم. مور مې وویل:

"زویه، لري لاړ نه شي چې تاته ګرزیدل خه نه دي."

ما ویل:

"سمه ده، موري، هیڅ چیرته نه ځم، د کور مخي پټو کې کینم."

بهر ووتلم. د پټې په پوله کیناستم. مازیګري وو. طبعیت خپل رنګونه ټولو. آسمان د زرد او نارنج رنګونو په رنګین پرده پوښل شوی و، چې د لمر وروستۍ شعاعوې د غره په سرونو کې لګیدلي او هر څه ته یې یوه نرمه روښانتیا ورکوله. د مرغانو او مرغیو اوازونه وو، ډلې ډلې، جوړه جوړه په هوا کې روان وو او خپلو کورونو ته یې د تګ تیاري نیوله. د باد نرمې څپې د ونو ترمنځ تېرېدې، چې د طبیعت د زړه دهړکن ته ورته وې.

ټولې فضا د شرایطو په رنګینو رنګونو کې د ارامتیا او خوشالۍ احساس ورکاوه. د ورځې د وروستیو شېبو هوا د یادونو او احساساتو د سفر لاره پرانستله، او ما ته یې د نازنین یادونه بېرته را تازه یا fresh کړه،

په دې وخت کې مې کتل زما څلور کلیوال ملګري راغلل. سترې مشي مو وکړه، هغوی هم کیناستل. وصال راته وویل:

"فرازه، خبر شوی یې چې ناروغ شوی وې؟ الله دې خیر کړي، وروره! دا څه پېښه وه؟ د شپې مور مې کور کې راته وویل چې په تا څه چل شوی او شفاخانه ته یې وړی وي."

"ډېر ناوخته وو، کنه درته راتلم."

شېرعلي وویل، "هو والله، موږ چې ماښام کور ته راغلو، خو کور کې دې ورته نه وو چې پوښتنه مو کړې وای."

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدوس وويل، "اوس دې حالات څنګه دي؟"

ما له ټولو نه مننه وکړه، ورته مې وويل: "شکر دی، اوس ښه يم. بس داسې راباندې يو چکر راغی، نور نه پوهېږم چې څه شوي وو."

په دې وخت کې عباس، چې زموږ د محفلونو مالګه به مو ورته ويل، او الله تعالی ورته ډېر خوږ غږ ورکړی و، ټپه يې پورته کړه:

په ژوندانه به خوار و زار وي

تل به په غم کې را ايسار وي

بس ګيله من به له خپل يار وي

که څوک روغ زړګی په کار وي

زما دې واوري، يارانه دې نه کوي نه."

دې ټپې ډېر خوند وکړ. ما او ملګرو ورته وويل: "ادامه ورکړه!"

هغه بيا ټپه شروع کړه:

که مې ژړا که واويلا ده

تا ته مې تل په خوله دعا ده

دا ليونۍ برخه زما ده

تا په ما کړې څه بلا ده

په مخ مې غبرګې اوښکې ځي، خوله درکومه."

په دې ټپه سره مې يو ځل بيا نازنين مخې ته ودرېده، او د هغې يادونه مې د زړه په تل کې بيا ژوندۍ شوه.

قدوس بيا ټپه شروع کړه:

"ورځ به ماښام شي، بيا به شپه شي

شپه به له کاله پرې اوږده شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته به گرانه گذاره شي

جانان چې ځي، په مخ دې ښه شي

زړه یې زما په زلفو بند دی، رابه شینه."

ما پرې غبر وکړ: "ملگرو، نور دا ټپې بندې کړئ."

وصال وویل: "فرازه، خیر خو به وي؟ ولې نن ټپو ته بې چورته یې؟ ستا خو داسې بنډارونه ډېر خوښ وو، نن څنگه خفه یې؟"

ما وویل: "خیر دی، بس نن مې زړه یو څه خفه دي

تر ناوخته د پټي په پوله ناست وو. ماښام اذانونه پیل شول. ما ملگرو ته وویل، "راځئ، ماښام ماسره لاړ شي."

هغوی وویل، "نه، کورونو ته ځو. که کولای شې، د شپې د غفور کاکا حجرې ته راشه. گپ به هم ولگو او ساعت به دې تېر شي."

ما وویل، "سمه ده. که کور کې یې اجازه راکړه، درځم." په همدې سره مو خدای پاماني وکړه او روان شوم کور ته.

کله چې کور ته لاړم، نو پوه شوم چې زما کشر ورور زما ټول حال مشر ورور، مور او کورنۍ ته ویلي و. ورته ویلي یې و چې: "د هلک زړه مات شوی، گذاره ورسره کوئ، چې په ځان څه ونه کړي."

د شپې ډوډۍ مو وخوړه. مشر ورور مې راپسې غوسه شو، ویې ویل:

"سپیه رزیله! تا کابل ته ځان د دې لپاره بدلوه چې هلته داسې دله توبونه وکړې؟ دومره پخپل سر شوی یې چې اوس دا کارونه کوې؟ مور ته دې ولې دروغ وویل؟"

همدې خبرو سره راولاړ شو چې راپسې راشي. کشر ورور مې مخې ته ودرید او ویې ویل:

لالا، کېنه. هر څه چې وو، هغه وشول. اوس یې غلی پرېږده. دا هم پښېمانه دی."

مشر ورور مې بېرته کیناست. مور ته مې وویل: "سبا لاړه شه، د جبار کاکا لور ورته وغواړه، چې دا ټولې ستونزې پای ته ورسي او هر څه یې هېر شي."

ما وویل، "نه وروره! زه ښځه نه کوم. غواړم خارج ته لاړ شم. روپۍ راسره شته، نور مې دا وطن په سترگو ښه نه ښکاري."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې بیا په دې خبره غوسه شو او پاڅېد. ویې ویل: "ته دومره پخپل سر شوی یې چې خارج ته ځې؟ ها! ته صبر شه چې دا پښې دربانديې ماتې کړم، چې د کور د دروازې نه هم بهر تللې ونه شي!"

کشر ورور مې بیا هغه کښېنولو او ویې ویل: "لالا، خیر دی. ته څه مه وایه. مور به خبرې وکړو."

مور مې وویل: "زویه، که دې خوښه وي، د جبار خان لور به درته وغواړم. ښکلې جلۍ ده، کاریګره او سوادداره هم ده."

ما وویل: "مور جانې! خبره د ښایست او بدرنګۍ نه ده، نه د سواد او کاریګرۍ. ما په خپل حال پرېږدئ. زما زړه سوری دی. زه اوس دې کارونو ته جوړ نه یم. تاسو کښېنئ، خپلې خبرې وکړئ. زه ځم، ارام کوم."

همداسې پاڅېدم او خپلې کوټې ته لاړم. چې کتل مې، زرغونې اووه یا اته پیغامونه رالېږلي وو:

"سلام فرازه! څنګه یې؟ ناروغې دې څنګه ده؟ نازنین اوس ښه شوې ده، خو تش بوت ترې جوړ شوی. که خبرې هم کوي، نو یوازې تا یادوي."

بلخوا، سباون ماښام خپلې مور ته زنګ وهلی و. هغې ته یې ویلي و: "مورې، دلته زما سره یوه ډاکتره جلۍ ده. موږ دواړه یو بل سره مینه لرو. هغه په وطن کې د هرات ولایت نه ده. تاسو یې کور ته په جرګه لاړ شئ."

مور یې حیرانه شوې وه او ورته ویلې یې و: "زویه، موږ خو ستا د تره لور ستا لپاره په نوم کړې ده د ماشومتوب نه. ته څنګه داسې کار کوې؟"

سباون ورته ځواب ورکړې وو: "مورې، هغې ته زه د خور په شان فکر کوم. موږ دواړه یوځای لوی شوي یو. هغه ماته د د ناحیدې خور په څېر ښکاري. زه څنګه د هغې سره واده وکړم؟"

وروسته یې له پلار سره خبرې کړې وې. پلار یې ورته ویلې و: "زویه، موږ به ستا تره ته دا خبره څنګه وکړو چې سباون نه غواړي د هغه لور سره واده وکړي؟"

سباون ورته ډاډ ورکړ: "پلاره، ته بې غمه اوسه. کاکا مې زه پوهومه. هغه به په دې خبره زموږ نه خفه نه شي."

بیا یې خپل کاکا ته زنګ وهلی و او ټوله کیسه یې ورته کړې وه. د نازنین پلار د خپلې لور په زوریدو او فراز ته په مینه کې د رسیدلو له امله خوشاله شوی و. هغه له دې خبرې ډاډه و چې نازنین یې د خپل زړه ملګری موندلی دی.

بیا یې نازنین ته زنګ وهلی و، ویې ویل: "اوس ځان خپلې مینې ته ورسوه او خپل یې کړه. زما له خوا ازاده یې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په موبایل کې روپۍ نه وې. نو د ورور له موبایل نه مې زرغونې ته زنګ وواهه، ورته مې وویل: "کورنۍ مې غواړي ماته ښځه وکړي، خو دا وطن نور زما لپاره اور دی. غواړم زه خارج ته ولاړ شم. دلته نور نشم پاتې کېدای."

زرغونې په اندېښنه کې وویل: "په خارج ته تګ سره به ستا غمونه ختم شي؟ نازنین به دې له ذهنه ووځي؟ داسې مه کوه! که لاړې، نازنین به مړه شي!"

ما نور د زرغونې خبرو ته غوږ نه شو نیولی او اړیکه مې پرې کړه.

یو ملګري مې چې د ویزو په دفتر کې کار کاوه، ورته مې وویل: "سبا سهار راځم، ماته د جرمني ویزه په هر قیمت وي، ووهه." د هغه سره مې خبرې ختمې کړې، خپل موبایل مې بند کړ، او ویده شوم.

سهار مې خور راغله، راته یې وویل: "وروره، پاڅه چې لمونځ درنه قضا نه شي."

زه هم پاځېدم، لمونځ مې وکړ، او لاړم. مور مې خپل لمونځ ختم کړی و او دعا یې کوله. مخې ته یې په مسله یا جاینماز کېناستم او ورته مې وویل: "په دې دعا باندې ما دم کړه." هغې دعا پای ته ورسوله. بیا مې خپلې خور ته وویل: "خورې، لرې اوبه راته کېده چې جامې بدلې کړم." او بیا مې د مور په غېږ کې سر کښېښود.

مور مې په ویښتانو کې ګوتې وهل او راته یې وویل: "زویه، نور دا خفګان دې ختم که، ټوله شپه مې ستا د خفګان له امله خوب نه دی کړی. تاسره چې څه وشول، دا به په تقدیر کې لیکل شوي وو. ته اوس د تقدیر سره جګړه کوې؟"

ما ورته وویل: "مورې، زه دېته خفه نه یم چې نازنین ولې زما په نصیب کې نه شوه. خفه دېته یم چې نازنین ولې دومره لویه خبره مانه پټه کړې وه."

په دې سره مې له سترګو اوښکې روانې شوې. "مورې، هغې به له لومړۍ ورځې څخه راته ویلي وای چې زه د بل چا په نوم یم، ولې یې راسره داسې وکړل؟"

مور مې غمجنې سترګې راته واړولې او ویې ویل: "زویه، ته داسې فکر کوې چې هغه به خوشاله وي؟"

ما وویل: "نه مورې، هغه هم زما په څېر په روغتونونو ګرځي او ناروغه ده."

مور مې وویل: "ښه نو، که هغه ستا له غمه په داسې حال ده، نو ولې یې ملامتوې؟"

ما په ژړغونې غږ وویل: "مورې، ملامته په دې ده چې ولې یې زما او خپل ځان سره داسې وکړل؟ زما علاج اوس یوازې مرګ دی، مورې. زه پوهېږم چې د دې درد علاج نشته."

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې له ژړا نه په ډک غږ وويل: "مړه دې ستا دښمنان شي، زويه، بيا داسې خبرې مه کوه. دومره زور نه لرم چې ستا غم وگورم."

ما په آه سره وويل: "موري، که څه راباندې وشول، ښښنه راته وکړه. که ته مې ونه ښښې، خدای به مې هم ونه ښښي."

مور مې په خوله نرم گوزار راکړ او ويې ويل: "بنده کړه خوله دې، دا څه کم‌عقلي خبرې دي چې کوې؟"

په همدې وخت کې مې خور غږ وکړ: "وروره، اوبه او جامې دې په تشناب کې دي، لاړ شه."

زه پاڅېدم، جامې مې بدلې کړې او کور ته مې وکتل. خور مې له سره ښکل کړ او ومې ويل: "مننه، زما گوډې، چې اوبه دې راته تيارې کړې."

بېرته راغلم، مور ته مې وويل: "موري، وگوره، زه څنگه ښکاري؟"

مور مې وويل: "ماشاءالله، سم شهزاده ښکاري."

ما ورته په ټوکه وويل: "نه يې منم، تر هغو چې د سر نه مې ښکل نه کړې."

سر مې ښکته کړ، مور مې ښکل کړم، او دواړو لاسونو يې زما په سر باندې کش کړل. يوه شيبه په کور کې وم، بيا ووتلم، پرته له دې چې څه و وايم. د ښار په موټر کې کېناستم او مستقيم د خپل ملگري خواته لاړم.

ملگري ته مې وويل: "رئيسه، زما ويزه څنگه شوه؟"

هغې مخکې نه خبره کړې وه، پاسپورټ مې وراکړ او ويزه يې پرې وهله. له هغې ځايه مې حرکت وکړ، لنډه دا چې نن مې د تک ټول کارونه خلاص کړل. اوس يوازې پرواز ته انتظار وم.

شپه شوه، نهه بجې وې، سوج مې وکړ. ته يوه ځل تليفون وگوره او کور ته خبر ورکه چې زه د ملگرو سره يم.

تليفون چې مې چالان کړ، د دومره ډېر ميسجونه راغلي وو. زرغونې تر اويا ميسجونه کړي وو. زه د ميسجونو لوستلو ته شروع شوم.

کله چې تر غرمې زما درک نه وو شوي، نو زرغونې مې ورور نمبر ته زنگ وهلی و چې "فراز چيرته دی او تليفون يې ولې بند دی؟"

زما کشر ورور ته زما ټول ملگري معلوم وو، ټولو ته يې زنگونه وهلي او د خپلوانو نه يې معلومات کړې، خو هېچا ورته معلومات نه وو ورکړي. بيا يې زما هغې ويزه والا ملگرې ته زنگ وهلی، هغې ورته ټوله کيسه کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ویزه یې وهلې او نن شپه دوه بجې یې پرواز دی. نو ورور مې د تیاره میدان په دروازه کې د ماښام نه ناست زه یې څارلم چې منې مې کړي.

بلخوا، چې ما د زرغونې میسجونه وکتل نو راته معلومه شوه چې ټول خبر شوي دي زما په اړه. زرغونې لیکلې وو:

"سلام فرازه، ته چیرته یې؟

فراز، زیری درکوم، په زیری کې به څه راکوي؟

فراز، ولې ځواب نه راکوې؟

فراز، د نازنین حالت بیا نازک دی، د ډیر تشویش نه لېونی کېږي.

فراز، دا ته څه کوې؟ الله او رسول ته وګوره، داسې کار مه کوه.

فراز، نازنین ستا شوه، هغه زیری دا وو، هغه د تره زوی ازاده کړه.

سلام فرازه، نازنین یم، نور بس! که نور مې د هجرا په اورونو سیځه.

زه ستا د یو غږ اورېدو ته ژوندې یم، داسې مه کوه، خیر دی، اوس خو هر څه ښه شول.

فراز، که تر شپې دې جواب رانکړم نو خبر به شي چې زه مړه شوی یم، نور د دې هر څه زغم نه لرم.

فراز، که غواړې، پلار به مې خپله درسره خبرې وکړي. هغه خبره ختمه شوه، ما ستا لپاره دومره قربانۍ ورکړې، او ته مې یوازې پرېږدې؟"

چې کتل مې د زرغونې زنګ راغی، ما دا میسجونه لوستل او ورته مې ژړل. زنګ مې وکې که چې یوه چغه مې واوریده. "فراز، د خدای لپاره راشه، کنه زړه مې نور چوي!" دا چغه د نازنینې وه چې په ژړا او سلګو کې یې راته کړه.

بیا یې وویل: "فرازه، په زړه مې څه کیږي، مړه کیږم." په دې وخت کې یې پلار موبایل واخیست او له کوټې نه ووت. راته یې وویل: "فراز، بچیه، ته همدا اوس حرکت وکړه او مونږ کره راشه، کنه دا ځل نازنین نه بچ کیږي، زما د سپینو ږکو خاطر وکړه."

ما ورته وویل: "کاکا، نازنین ته موبایل ورکه." هغې موبایل نازنین ته ورکړ. ما ورته غږ وکړ: "نازنین، زما غږ اورې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازنين زړه سلګو دومره ستړی کړي وو چې نور يې غږ نه شو کولي راته. ما بيا وويل: "نازنين، ګوره، زه دغه دي روان يم ستا خواته، خو ته اول ماسره خبري وکړه، کنه زما حالات هم خرابيږي."

نازنين، قربان دې شم، يو غږ راته وکړه، او په دې سره په ژړا شوم. نازنين زما غږونه اوريدل، په ډېره تکليف يې وويل: "ته راځې؟"

ما وويل: "هو، دستي رسيږم، خير دی، ته ځان بيداره کړه، که داسې مه کوه. هو، موبايل بند نه کړې، خبري کوه، دغه دی حرکت مې وکړو."

پاسيدم روان شوم، ټيکسي مې ونيوله. نازنين سره مې خبرې کولې. ما ويل: "نازنين، ډوډۍ دې خوړلې؟" ويلې يې: "هو."

زرغونې غږ وکړ: "نه، هغې نه ده خوړلې، د سهار نه اوږي ده." ما وويل: "نازنين، خه راوړم، ما هم نه ده خوړلې، بولاني راوړم." هغې راته څه نه ويل. زرغونې غږ کړه: "بيراني راوړه، ددې ډير خوښيږي."

ما ډريور ته وويل: "موټر يو هوټل ته تاو کړه." هوټل کې مې بيراني ډوډۍ او يو څه نور واخيستل، او روان شولو. د نازنين غږ ورو ورو خه کيده.

لنډه دا چې کور ته نږدې شوم. ما زرغونې ته وويل: "موبايل کاکا ته ورکه." موبايل يې د نازنين پلار ته ورکه. ما ورته وويل: "کاکا، که بده يې نه منې، زه درزم، ما نازنين او زرغونه يوازې پريښې، تاسو دې کوټې نه اوزی."

هغې وويل: "سمه ده، بچيه، پخير راشه."

کور ته يې ورسيدم، ما موبايل کې وويل: "دروازه خلاصه کړه." دروازه يې خلاصه کړه. د نازنين پلار وويل: "هغه کوټې کې ده." زه لاړم کوټې ته، ننوتم او دروازه مې پوري کړه. نازنين چې زه وليدم، منډه يې کړه او په غاړه مې پريوته. دومره يې زما په سينې وژړل چې زما ګريوان د هغې په اوښکو لوند شو. ما هرځومره ورته ويل چې بس، بس کړه، خو اخير يې راباندې ګوزارونه شروع کړل: "تا ماسره ولي داسې وکړل؟ ته چيرته ځې او ما پريږدې؟"

زرغونه پاسيده، ما ترې لاس تاو کړ. د سر نه مې ښکل کړه او ورته مې وويل: "ليوني، زه هيڅ چيرته نه ځم او نه تا يوازې پريږدم، وګوره، درته مخکې ولاړ يم."

نازنين خه ځان په ژړا ستړې کړ،

ارامه مې کړه. غلې شوه. ځای ته مې يوړه، سر يې زما په زنګون کېښودو او اوښکې يې روانې وې. ما ورته وويل: "نور بس کړه، ليونې، او پاسي، ډوډۍ مې راوړې، دا وخورو، اوږې شوې يم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما هم اوښکې روانې وې، خو ځان مې کلک کړی و.

نازنین ته مې وویل: "اوس به دې پلار راشي، شرم دې."

ویل یې: "نه، پاسم رادي شي. نه شم کینیستلی، زړه مې درد کوي."

کوټه کې ارامه شوه. د نازنین مور او دواړه خورگان راغلې. "ستړي مه شي!" یې وکړه. زه غلی، د نازنین له خوا پاسیدم. نازنین کلک ونیولم، "چیرته مه ځه، کینه."

بیرته کینیستم. موبایل ته مې فکر شو. کتل مې، ورور مې راته څو زنگونه وهلي وو. ما نازنین ته وویل: "دې ورور ته مې جواب ورکم، سودا به یې وي."

ویل یې: "همدې ځای نه زنگ ووهه."

زرغونې راته وویل: "هغه ستا په خاطر د ماښام نه د تیاره میدان په دروازه کې ولاړ دی."

ما ژر زنگ ووهو. "هلو، وروره، ته چیرته یې؟"

ما وویل: "وروره، زه نازنین دي کره یم ته لاړ شه، خپلې وظیفې ته."

ورور مې حیرانه شو. ویل یې: "زه د ماښام نه دلته ولاړ یم چې تا هیسار کم لاړ نه شي."

ما وویل: "وروره، نورې خبرې بیا کوو، زه هم درزم. ناوخته ستا خواته

ته کور ته زنگ ووهه چې د مورجانې به سودا وي. نوره مې اړیکه پرې کړه او راغلم د نازنین سره، ته ودریدم."

ما زرغونې ته وویل: "زرغونې، هغه ډوډۍ واچوه، زه اوږې شوي یم، او نازنین به هم اوږې وي، چې وخورو."

نازنین مې کینوله، او د نازنین مور ته مې وویل: "مورجانې، که ستا اجازه وي، زه به نازنین ته په خپلو لاسونو د چایو سره ډوډۍ ورکم، ځکه دې ته ورجې ښې نه دي."

ټولو وخاندل.

نازنین وویل: "قسم دی، که یو کپ ډوډۍ د چایو سره وخورم."

ما وویل: "نازنین، اوږې کیږه، مه دا ورجې، هر وخت پیدا کیږي، خو ستا صحت نه پیدا کیږي. ته به د چایو سره ډوډۍ خوري."

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې زرغونې ډوډۍ تیاره کړه، دسترخوان یې هوار کړو. نازنین مې ښکته کړه، ما وویل: "د لاسونو لپاره اوبه راوړي."

نازنین وویل: "زما لاسونه مې پاک دي."

ما وویل: "خاوري پاک دي، د سهار نه په ژړا یې او پوزه پرې کشوي، ورشه، لاسونه دې ومینځه."

بیا ټولو وخاندل، خو نازنین ضد وکړ او کیناسته.

مونږ دواړه په ډوډۍ خوړلو شروع وکړ، زرغونه مې هم کینوله. نازنین وویل: "گوره، زرغونې ته بیا هغسي صتونه ونکړي چې ډوډۍ خوره دا وخوره هغه وخوره ، کنه زه پاسم." ما او زرغونې ورپوري وخاندل

نازنین د ډوډۍ خوړلو په دوران کې راته وکتل، او بیا په ژړا شوه او په غاړه مې پریوته: "خه، ته ما پریږدي، او زی، زما دې حالاتو ته هم نه گوري! فرازه، تا ماسره ولې دا څو ورځې داسې وکړل؟ هېڅ دې په ما زړه درد نه کو، هېڅ دې نه ویل چې دا به مړه شي."

ما ورته وویل: "نازنین، زه هیڅ چیرته نه ځم، دا وگوره، درسره ناست یم، او چې څه مې کول، هغه مجبوري وه، موږ سره هغه وخت دا کار مناسب نه و."

بیا مې ورته وویل: "هله نازنین، ما او تا په خبرو شو، او زرغونې هرڅه خلاص کړل."

یو ځل یې وخاندل: "تاسره د خیتي غم دی، د غم زویه."

ډوډۍ مو وخوړه، نازنین لاړه، مخ او لاس یې پرې مینځله، د سر ویښتان یې جوړ کړل، ټکري یې سم کړم.

کیناسته د خبرو شور شو یو بل سره مو خبري کولي د نازنین پلار هم راغې او کیناستو خبري مو شروع کړي ماته یې د خپل وراره کیسه وکړه چې دغسي کار یې وکړو

ما ورته وویل کاکا جانه زه هیڅ په دي اړه ویل نه غواړم که یې ووایم تاسو به وایي چې دا په دي کار خوشاله دي خو نه

څه چې وشو په هغې کې زه هیڅ گنهگار نه یم زه هیڅ خبر نه وم پاتي شوه د وراره مسله دي

هغه د هغې حق دي دا ډیر غلط کار دي چې څوک لور خور په ماشومتوب کې د چا په نامه کوي یا خپل ځوی ته یو څوک په نامه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هري پيغلي او ځوان حق دي چې د خپل ژوند ملګري پخپله وټاکي په دي کار کې باید والدین مداخله او خپله خوښه ونکړي

تر ناوخته ناست وو د نازنين مور خورګاني او زرغونه د نازنين سره په خبرو مصروف وو ما چاى وڅښلو د نازنين پلار ته مې وويل

کاکا جانه زه به اوس لاړ شم شپه هم ناوخته شوي او ورور به مې هم په طمعه وي

نازنين پاسیده پلار ته یې وویل دا پري نږدي چې لاړ شي همدلته یې پاتي که

ما ويل نه نازنين ځم ورور به مې په طمعه وي

ويل يې زه د هرڅه نه خبره يم چې تا ويزه او ټيکټ اخستي او نن شپه دوه بجي زي خارج ته

د نازنين پلار وويل زويه داسي كار ونكړي لاړ نه شي زه به دي ورور ته زنګ ووهم چې فراز مونږ هسار که

ما ويل نه كاكا نه پاتي كيږم ځم

نازنين زه هيڅ چيرته نه ځم سهار بيا رازم ګورم دي

نازنين وويل نه فرازه ته نه رازي بيا

هيڅ چيرته نه شي تللي

که بيا هم نه حساريږي نو پاسپورد او اسناد دي ماته راکړه بيا لاړ شه

نازنين ټينګار کاوه چې پاتې شم. ما غوښتل په يوه چل ځان خلاص او لاړ شم، نو نازنين ته مې وويل: "زما ټول اسناد او وسايل په هوټل کې دي، زه هيڅ ځاى ته نه ځم." خو نازنين زما خبرې هېڅ نه منلې. ما بيا د نازنين پلار ته وويل: "كاكا جانه، غواړم له تا سره يوازې خبرې وكړم."

زه او د نازنين پلار له نورو جلا شوو، او ما ورته وويل: "كاكا جانه، ما ټكټ اخيستى، نن شپه دوه بجې مې پرواز دى. زه نه شم كولى چې پاتې شم، غواړم لاړ شم."

د نازنين پلار راته وويل: "زويه، كه دې مخكې موبايل نه واى اوكې كړى، نو په الله يقين وكړه چې موږ فكر كاوه نازنين به نن شپه ژوندۍ پاتې نه شي. ستا په راتګ او ليدو حالات يې بيرته سم شول. زويه، كه ته بيا ولاړ شې، نو نازنين به مړه شي. زه نازنين په داسې حالت كې نه شم ليدلى. ته پوهېږې چې كله مې وراره انكار وكړ، ما ځومره د نازنين د خوښۍ لپاره هڅه وكړه. زويه، ته هر څه پرېږده، د هر څه تاوان به زه دركوم. نور خلك د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک لیار په خواست پسې زي، خو زه خپله لور لیاره تاته په مرکه درځم. خو خیر دی، ته پاتې شه او له خپل کار نه تېر شه."

ما چې د نازنین د پلار خبرې واورېدې، زړه مې ډېر زیات درد وکړ. ورته مې وویل: "راځه، کاکا، لاړ شو."

نازنین ته مې خپل د سفر ټول اسناد ورکړل، ورته مې وویل: "واخله، نازنین، چې اعتبار دې پرې وشي. تا همدا غوښتل، اوس اختیار ستا دی. څیرې کوي یې، سوزوه یې که، که له ځان سره یې ساتې."

نازنین زما په دې کار دومره خوشحاله شوه چې له سترګو یې اوښکې روانې شوې. ما ورته وویل: "ښه نو، اوس اجازه راکړه چې لاړ شم. ورور به مې انتظار وي، سودا به یې وي."

د نازنین پلار او کورنۍ یې ډېر ټینګار وکړ.

"خو ما وویل چې نه، اوس ځم، او سهار خامخا راځم. د هغوي سر مې خدای پاماني وکړ او ترېنه روان شوم. لنډه دا چې د ورور خواته مې ورسیدم. ورور ته مې ټوله کیسه وکړه چې خبره دغسې شوه. هغه هم خوشاله شو، ویې ویل: 'ته سهار هغوي کره لاړ شه او ورته ووایه چې مور مرکه دروړ.' ما وویل: 'سمه ده، زه به سهار ورشم.'

بلخوا، د نازنین د تره زوی د نازنین په خاطر خپلې کورنۍ او د نازنین پلار ته دروغ ویلي وو چې هغه له یوې جینۍ سره مینه کوي. د دې موخه دا وه چې نازنین خپلې مینې ته ورسیږي.

شپه تېره شوه، سهار شو، ما د ورور نه اجازه واخیسته او د نازنین دي کره لاړم. چای یې راوړ، او د چای تر څښلو وروسته مې د نازنین پلار او نازنین ته وویل چې 'زه ځم کور ته، چې د مور به مې سودا وي.' بیا مې ورته وویل: 'کاکا ککه دي خوښه وي تاسي هم راسره لاړ شي، زموږ کره. د کلي ننداره به هم وکړي او زموږ ژوند به هم وګورئ. کنه، زه وایم چې همدا اوس یو ځای لاړ شو.'

نازنین په خوښۍ چغه کړه: 'څومره ښه! زما هم ډېر ارمان دی چې کلیوالي ژوند وګورم. زه چې لاړ شم، پلاره؟' پلار یې وویل: 'فرازه زویه، ته لاړ شه. موږ به په ورځ-دوو کې درشو او خامخا درځو.' ما وویل: 'سمه ده کاکا، زه به په تمه یم او ستاسو په راتګ به ډېر خوشاله شم

په همدې مو صلاح وکړه او ما ترېنه رخصت واخیست.

نازنین په تلو تلو کې راته وویل، "ګوره فرازه، دا وار سم موټر کې کېنه چې بیا خدای مکړه د کومې حادثې سره مخ نه شې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل، "سمه ده." موټر کې کیناستم، حرکت مې وکړ، او کور ته چې ورسېدم، ورور مې راباندې شروع وکړه. ښه سم یې وغربولم.

خو دا ځل مې زړه خوشاله وو. چیرته د تختېدو نیت مې نه وو. ځان مې غلی نیولی وو. ورور مې چې ښه ځان ستړی کړو، کیناستو او راته یې وویل، "وروره، ته انسان یې که زناور؟ ته ولې په خبرو پوهېدل نه غواړې؟

ایا زما په روزنه کې کمي راغلې وې که په پالنه کې؟ ما خو د دې ورځې لپاره تاسره خواري نه کوله چې ته دې داسې بې سره شې. ما خو د خپل وجود په خولو لوی کړی یې. په تا مې تعلیم وکړ چې درنه سم انسان جوړ شي. تا دا هر څه هېر کړل. دومره نه وایې چې د دې مور او ورور په زړه څه تیریږي.

ګناه دې خپله ده او سزا یې مور ته راکوي. ولې، فرازه، دا په تا څه وشول؟

مور خو په تا ډېر ناز کاوه، ډېر حساب مو کاوه."

بیا یې زما مور ته وویل، "تن جبار کاکا کره لاړه شه او د دې د کوژدې غم وخوره."

زړه مې درز وکړ، "خدایه! دا په څه لانجه واوښتم؟ اول د نازنین هغه لانجه او اوس چې هر څه سم شول، دلته دا لانجه."

ما ورته وویل، "وروره، خیر دی. دې خبرې نه تېر شه. ما جلۍ خوښه کړې ده. زه بغیر له هغې د بلې جینۍ سوچ هم نه شم کولی."

د ورور سترګې مې له اوښکو ډکې شوې او وې ویل، "ښه، سمه ده. دا حق هم زمونږ نه واخله. مونږ خو تا لپاره داسې ځای خوښ کړی وو او دا زما او د مور ارمان هم وو."

ما مې مور او ورور ته وویل، "خیر دی، وروره. تاسو د هغې کورنۍ وګورئ، جلۍ وګورئ. که مو خوښه نه شوه، بیا به زه ستاسو خوښه کوم. خو یو ځل تاسو هغه خلک وګورئ."

مور مې وویل، "زویه، څنګه چې فراز خوشاله وي، مونږ هم خوشاله یو."

ددي چې کومه جلۍ خوښه ده هماغه به ورته وکړو

ورور مې هیڅ ونه ویل پاسیدو او روان شو

ما مې مور ته وویل خیر دي موري ته مې ورور پخلا کړه زه بغیر له نازنین نه د بل چاسره واده نه کوم

مور مې وویل سمه ده زویه ته غم مه کوه زه یم هرڅه سموم ته بي غمه شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې ماښام شو ټول کور کې ناست وو مور مې مشر وررورته وویل زویه خفګان پریږده دا ددوي ژوند دي پریږده چې دوي خوشاله وي مونږ یې ورسره څه

رورر مې وویل سمه ده چې دا خوشاله دې په دي رشته زه هم ددې خوشالي غواړم خو زه به د جبار کاکا لور زرور غواړم او کوم به یې

ما وویل ورروره د جبار کاکا کورنۍ زما هم خوښه ده هغه به مې کشر ورور ته وغواړو.

ورور مې ومنله خو ډیر خفه وو

شپه مو جوړه کړه زه لاړم خپلي کوټي ته ما د ورزي په جریان کې څو ځل د نازنین پوښتنه کړي وه خو بیا مې ورته میسج وکړو

سلام نازنین ښنګه یې اوس د طبعیت ښنګه دې

ویل یې خه یم د خان صیب زویه اوس به دي هم پوښتنه نه کوله

ما ورته ولیکل نازنین د کورنۍ سره مې ناست ومشوري مو کولې

خه کورنۍ دي ښنګه ده فرازه

ما ویل شکر دي خه ده خو زما پوښتنه مه کوه زه خه نه یم

نازنین ولیکل الله دي خیر کړي څه شوي فرازه

ما ویل مشر ورور مې دومره ووهلم چې ټول اوجود مې ټوک ټوک دي

ولې په څه خبره یې وهلي

ویل یې چې ته ښنګه دومره غټ کار بغیر زمونږ له اجازي کوي او کړي دي دې

نازنین وخاندل هههههه شکر چې خمبیره یې کړي د ورور د لاسونو قربان شم ما ښیرا کړي وه چې خدای دي زما د دردولو بدله درنه واخلي او دغه دي زما خیرا قبوله شوه

ما وویل نازنین زه د ورور په ګوزارونو او وهلو خفه نه شوم خو کله چې سترګي له اوښکو ډکي شوي او راته یې وویل چې ما ته د همدې ورځې لپاره لوی کړي وي چې داسي به کوي نو دي وخت کې مې زړه ډیر خفه شو او له ځان سره مې وویل فرازه لعنت شه او په تا شه چې د مور سره دي د پلار په شان ورروره هم خفه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنين هم زما د ورور د حالت په اوريدلو خفه شوه

وي ويل فرازه ستا د لاسه ما هم خپل مور او پلار ازار کړل تکليف مې کړل ټول ستا د لاسه

تا دومره ماته صبر ونکړو چې زه مسله هواره کم تا د غوايي په شان منډه ووهله

زړه خو مې غواړي چې درته خر وليکم خو بيا وايم چې د خر توهين ونه شي

ته ولي دومره کم عقل شي يودم

ما ووېل دا هرڅه ستا د لاسه وشول

چې کتل مې د زرغونې زنګ راغې.

زنګ مې اوکې که سلام يې وکړو او شروع شوه

هاى بي انصافو وير او ژړا لپاره زه ومه د خير او خيريت خبرونه ما ورل راوړل وژړيدم زه ستاسونه زياته اوس چې خپلو کې خوشاله هستي د يو ساعت نه زياد وخت وشو چې نه تا فرازه وويل چې زرغونه څنګه ده يا سلام مې کوه او نه نازنين وويل چې زرغونه سلام کوي مطلب اشنا خلکو

ما ورله په ټوکو کې وويل زرغونې د نازنين نه تا ماسره ډير بد کړي که زنګ دي نه واي وهلي اوس به جرمني کې وم خو ستا د لاسه دي بلا ته پاتي شوم

زرغونې په کړس کړس وخاندل غوښتل يې چې نازنين ماپسي په غوصه کړي نو کړل يې

خا تاته اوس نازنين بلا ښکاري دي غريبي ستا لپاره امريکه پريښوده ته يې احسان هم نه مني

موبايل د دواړو مينځ کې ايخي وو او اواز يې جيګ وو

نازنين وويل فرازه د يو جرمني تک لپاره دي زه بلا کړم ما ستا لپاره څه ونکړل اخير مې د منني نتيجه دا شوه

ما ورته وويل نازنين ستا د لاسه خو زه هم نن خمبيره شوم او ورور مې خه په مړه خيټه وهل راکړل ديته خو نه ګوري

په دي خبري زرغونې وخاندل

نازنين وويل سمه ده چې زه بلا يم نور به درسره خبري نه کوم همدې سره يې موبايل بند که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما که هرڅومره د نازنین او د زرغونې موبایل ته زنګونه او میسجونه وکړل ځواب یې رانکړو موبایل مې سر ته کیښود او ویده شوم

سهار په وخت نازنین دوه زنګونه ووهل او بیا یې میسج وکه پاسه لمونځ وکه

ما ورته ځواب ورنکړو کټل مې خورمې راغله ویل یې وروره ویخ یې رازه اوبه مې درله د اودس لپاره اچولي لمونځ وکه

پاسیدم لمونځ مې وکړو راغلم خپل ځای ته کتل مې نازنین بیا دوه میسجونه کړي وو چې ولي ځواب نه راکوي

ما بیا ځواب ورنکړو چای ته لاړم مشر ورور مې وویل زمونږ ګاونډي بلال ته یې کوژده کړي شپې ته یې د شیرین خوري پروګرام دي ټول کلیوال یې داعوت کړي

ماته یې وویل تاسو ټول مونږ کره مازیګر راشي ستاسو کور کې به سړیو ته ځای جوړ کو

مور مې وویل سمه ده زویه ګاونډیتوب دي او یوه شپه ده خیر دي تکلیف به وکو

چای مې وڅښو او بهر ووتلم ګورم چې ټول کلیوال ملګري راټول دي

خواته یې ورغلم هغوي د بلال د کوژدي خبري کولي ګپ مو لګولو نهه بجې وي چې،

نازنین میسج وکو فرازه موبایل اوکي که یو څه درته وایم ما بیا ځواب ورنکړو لګه شیبه وروسته د نازنین پلار زنګ ووهو

بلاله بچیه مونږ درزو ستاسو خواته

ما وویل که ورته وایم چې مه رازي دلته داسي چل دي هم نه کیدو که ورته وایم چې راشي هم نه کیدو دوه لانجو کې ګیر وم

اخیر مې ورته وویل سمه ده کاکا جانه راشي زه به مو مخي ته درشم

ویل یې تکلیف مه کوه خو صرف ادرس راکوه مونږ خپله درزو

ما وویل سمه ده چې ننګرهار ته ورسیدي زنګ ووهي زه درله ادرس درکوم

موبایل مې بند کړو لاړم کور ته ورور مې هم کور کې وو ما مې مور ته وویل موري هغه خلک رازي

مور مې وویل کوم خلک زویه ما وویل هغه نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم څوک یادوي هغه هغه کوي او نور نوم یې نه اخلي

ما وویل هسي نه ورور مې غوصه شي

ورور مې وویل رزیله خو سمه خبره وکه کنه اوس پاسیږم درپسي

ما وویل نازنین دي کورني رازي چکر ته او مونږ کره رازي

ورور مې وویل اوس به څنګه وکو شپې ته خو دلته خلک رازي او دوي هم دي

مور مې وویل نو څنګه کوي زه خیر دي مونږ سره به لاړ شي ګاونډیانو کره ساعت به یې هم تیر شي

لنډه دا چې زه بازار ته لاړم د غرمي لپاره مې تیاري وکړو دولس نیمي بجي وي چې نازنین دي ورسیدل.

زه او ورور مې مخې ته لاړو. ورور مې وویل: "فرازه، ته دا ښځې کور ته یوسه، زه او ډګروال صاحب به حجرې ته لاړ شو."

زه له نازنین دي سره شوم او کور ته مې یوړل. ټولې کورنۍ مې ورته ستړي مه شي وویله، بیا مې هر یو ورته بېل بېل معرفي کړل. خو کله چې د نازنین نوبت راغی، هغه زما نه مخکې شوه او ویې ویل: "زما نوم نازنین دی." بیا مې د مور غوږ ته نږدې شوه. زه هم نږدې شوم چې څه وایي. مور مې وویل: "لري شه، زموږ په منځ کې کار نه لرې." نازنین یو څه ورته وویل، مور مې وخندل او له سره یې ښکل کړه.

ما مور ته وویل: "موري، اوس به ماته حال ووایي چې دې درته څه وویل."

مور مې وویل: "نازنین وایي، پلار مې تږي شوی. فراز ته ووایه چې حجرې ته اوبه یوسي."

ما ورته وویل: "نه موري، دا خبره نه وه. ویې ویل، ته ځې که لرګي درپسې واخلم!"

خور مې په جیګ کې اوبه راوړلې چې دا یې یو څه حجري ته. ما اوبه واخیستې او مور مې نازنین دي مخکې کړل. کوټې ته ننوتل. ما د نازنین پلار ته ګیلاس ډک کړ. هغه اوبه وڅښلې.

ما ورته وویل: "کاکا جانه، په لاره کې خو به تکلیف شوی نه یې؟"

میرویس خان کاکا وویل: "نه بچیه، ډېر ښه او په آرامه راغلو. بس تا چې کومه لاره خودله، په هماغه روان وو. هېڅ مشکل نه و."

ما وویل: "کاکا جانه، ډېر ښه کار مو وکړ چې چکر مو وواهه. لکه به ستاسو ذهن هم بدل شي او د ماشومانو هم، او د نازنین لپاره هم ښه ده چې فکر یې یو څه سم شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې مې د ورور فکر یوسل او اتیا درجې ګډوډ ښکاره شو. چې مې وکتل، شونډې یې وچیچلې او پاڅېد. ویې ویل: "ډګروال صاحب، که ستاسو اجازه وي، دوه دقیقو لپاره به بهر ووزم."

ورور مې ووت. میرویس خان کاکا وویل: "هو بچیه، د کلي تازه هوا او ارام چاپیریال انسان ته سکون ورکوي، او چې بیا شنه فصلونه ګوري..."

دې وخت کې مې ورور آواز وکړ: "فرازه جانه، ته دا ترکاري کور ته یوسه."

ماته خو د ورور وضعیت معلوم و. کله چې له حجرې ووت، نو په ځان مې کلمه ش ه ادت وویله او روان شوم. څنګه چې مې د حجرې له دروازې قدم بهر کېښود، ورور مې په ویښتانو کې ګوتې واچولې او د حجرې شاته یې کش کړم.

"د شرمېدلي زویه! ته نه شرمیږې چې د نازنین د پلار مخې ته داسې خبرې کوې؟ تا کې شرم شته کنه؟ تا خو زه وشرمولم!"

ما وویل: "وروره، ما نو څه کړي چې ته اوس غوسه یې؟"

ویل یې: "خلک د خسر مخې ته داسې خبرې نه کوي! او کله دې ما ته په مینه ویلي چې ورور جانه؟ د نازنین پلار ته هر خبره کې کاکا جان، کاکا جان کوې! زه دې وشرمولم."

ما زر وویل: "وروره، میرویس کاکا غږ وکړه."

دې سره یې یوه کلکه لغته راکړه: "ورکه شه، د شرمېدلي زویه!"

زه هم نېغ د کور په دروازې د ګډوډو ویښتانو سره ننوتم. چې کتل مې، نازنین او زرغونه زما خور سره په اشپزخانه کې ډوډۍ تیاروي. نازنین زما د حالت په لیدو وخندل او ویې ویل:

"فرازه، دا ویښتان خو دې اوس پورې سم وو. دا څنګه داسې ځنګل شول؟"

نږدې شوم، ټول غوږ شو. ما وویل: "ورور مې یوه لغته راکړه او له ویښتانو یې ځوړند کړی وم!"

نازنین او زرغونه وخندل. خور مې پاڅېده، زما ویښتان یې سم کړل او راته یې وویل: "ولې وروره، څه دې کړي وو؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "هیڅ، صرف دومره مې د نازنین پلار ته وویل چې ښه دې وکړل چې ماشومان دې چکر ته راوړل. زه د نازنین په لیدو ډېر خوشحاله شوم، نو ورور اول خپله له حجرې ووتو او بیا یې ماته اواز وکړ، او د دې خبرې سزا یې راکړه."

هغوی بیا وخندل. خور مې وویل: "شکر وباسه چې د هغې بلې ورځې په شان یې نه یې وهلی!"

نازنین وویل: "ښه ده چې ستا حال مې په سترګو ولید چې ځان سمبال کم!"

دې وخت کې مې د ورور تږوخی شو. ننوت کور ته. زه اول د خور شاته پټ شوم، بیا مې وویل: "هسې نه چې د دوی په مخ کې دې سپک کړي!" ژر ووتلم، خو بیا یې هم ولیدم.

ما خور ته اواز وکړ: "ځانګې، دا ډوډۍ څنګه شوه؟ مېلمانه مو له ولږې مړه کړل، ژر کوه!"

ورور مې هم راغی چې خور پسې غوصه شي. نازنین غږ وکړ: "دا بېچاره خو لګیا ده، که ته یې کار ته پرېږدې! راغلې یې او د مشر ورور غیبت دې شروع کړی!"

رنګ مې تک ژېړ شو. ورور مې وویل: "ورشه فراز جانه، ته حجره کې کینه. ډوډۍ زه خپله راوړم. بیا دې کور کې ونه وینم، رزیله!"

ما منډه کړه او له کوره ووتلم. حجرې ته لاړم. ما او میرویس کاکا خبرې کولې، چې کټل مې، ورور، خور، نازنین او زرغونې ډوډۍ راوړه. زه ژر پاڅېدم، لاسونو کې مې اوبه واچولې، دسترخوان مې هوار کړ، کیناستو ډوډۍ ته. ورور مې وویل: "ورشه مالګه راوړه!"

لاړم د مالګې پسې. نازنین مې مخې ته شوه. ما ورته وویل: "رزیلې، څوک په داسې وخت کې داسې خبرې کوي؟ تا خو مرګ ته جوړ کړی وم! اوس مې هم زړه وایي چې خیر دی، نشته!"

نازنین وویل: "تا ولې د ځان د خلاصون په نیت ځانګه بېچاره په خوله کې ورکړه؟"

ما وویل: "مالګه راکړه کنه، اوس به بیا راخوشي وي!"

مالګه مې واخیسته او لاړم. ورور مې بیا وویل: "لاړ شه چاقو راوړه."

بیا لاړم، چاقو مې راوړ. ویې ویل: "لاړ شه، لږه شربا راوړه!"

شربا مې راوړه. ویې ویل: "لږې وریجې راوړه!" وریجې مې راوړې، قراري یو ځای ته کېناستم.

میرویس کاکا وویل: "راشه فرازه، زموږ سره ډوډۍ وخوره."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "نه کاکا جانه، تاسو چې راتلئ، زه وږی وم، هغه وخت مې وخوړه. اوس مې زړه ته نه کېږي."

ورور مې وویل: "خوره ډګروال صاحب! هلک دی، هر وخت چې وږی شي، ډوډۍ به وخوري!"

دوی ډوډۍ وخوړه، ما لوښي چلول پیل کړل. د ولږې له امله مې کولمې تاوېدې. چې کور ته لاړم، هغوی هم ډوډۍ ته ناست وو. خور ته مې اشاره وکړه، هغه راغله. ما ورته وویل: "ماته ژر ډوډۍ واچوه! هلته خو راباندې ورور ډوډۍ زهر کړه کنه، د ولږې له امله بیهوشه کېږم."

خور مې راته ډوډۍ واچوله، او همالته په اشپزخانه کې کېناستم. نازنین ډوډۍ خوړلې وه، لوښي یې راوړل. زه یې ولیدم، راته یې وویل: "ولې دې هلته زما د پلار سره نه خوړله؟"

ما وویل: "خبرې مه کوه، ټول ستا د لاسه!"

نازنین راغله، د وریجو نه یې مړۍ جوړه کړه. دې وخت کې زرغونه او خور مې هم راغلل. نازنین وویل: "خوله خلاصه کړه!" او مړۍ یې راکړه. خور مې لاړه. زرغونې وویل: "څه یوه فلمي صحنه ده؟ څه مینه ده چې معشوقه په خپل لاس عاشق ته ډوډۍ ورکوي!"

ماته خندا راغله، او هر څه مې بیرته وګرځول. چپلۍ ته مې لاس کړ، تخته زمونږ ټوله مینه دې خرابه کړه! ته خو دا خبرې د سوخت نه کوې!"

زرغونه په خندا شوه. ما نازنین ته وویل: "ته لاړه شه کوټې ته، که په دې حال کې مې ورور ولیدم، د غواګانو سره به مې تړي!"

هغوی وخندل، نازنین روانه شوه. زه هم پاڅېدم او بیرون، حجرې ته لاړم. چې ګورم، ورور مې او ډګروال صاحب په حجره کې نه شته. زه هم د ویالې په لور روان شوم. چې کتل مې، هغوی اودسونه کړي او د کلي مسجد په لور روان دي.

زه بیرته کور ته ستون شوم. خور ته مې وویل: "خوري، دې مېلمنو ته خو دې باغ پوري چکر ورکړه، چې تازه مېوې او سبزي وګوري."

خور مې وویل: "سمه ده وروره، اوس خو مو ډوډۍ وخوړه، مازدیګر به یې یوسم."

نازنین وویل: "هو، مازدیګر به لاړ شو."

ما وویل: "اوس تیار ماړه هستي، تش به ورته ګوري! مېوې او سبزي به درنه په امان کې وي!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې وویل: "هرڅومره چې ماړه یو، ستا له کسته یې شکو او خورو!"

ما وویل: "بلکل، تاسو خو د اوښ د نسل نه هستي! ګوره، دلته ښار نه دی، خپل ځان سره مو ګوزاره کوي. بیا مو په نیمه شپه نه شو په منډه کولی!"

دریواړو خندا وکړه. نازنین مې خور ته وویل: "راځه، اول به لمونځونه وکړو او بیا به لوښي ومینځو."

زه هم بهر ووتم. مازدیګر و، کور مو خالي کړ. دننه کور کې مو دیګونه باندې کړل، او بهر حجره او ډېره کې مو کټونه او سترنجي هوارې کړې د سیل او مېلمنو لپاره.

سهار، موږ ملګرو په پټه پلان جوړاوه چې هنرمندان به راوړو. ما ملګرو ته وویل: "زما خو مېلمانه راځي، تاسو ښار ته لاړ شئ او هنرمندان راولئ." هغوی همداسې وکړل. هنرمندان هم ورسېدل، هلکان ورسره شول او د کلي په پټو کې یې چکر ورکاوه. ورور مې او د نازنین پلار هم د کلي پټو ته په چکر وتي وو. ټول کلیوال په خوشالۍ سره د کارونو کې بوخت وو، هر یو په منډه وو.

نازنین راته زنګ وواهه: "فرازه، چېرته یې؟"

ما ورته وویل: "ډېره کې یم."

وې ویل: "باغ ته راشه."

لاړم، چې کتل مې، خور مې د ټکري په پلو کې مالګه له ځانه سره وړي. نازنین، خور مې، او زرغونه په پټو کې بادرنګ شکول. ما ورته وویل: "دا د خوړلو نه دي، واړه دي!"

وې ویل: "موږ یې خورو، ستا یې څه؟" بیا یې ماته کامره راکړه او وې ویل: "ته په دې زموږ عکسونه اوباسه!"

هغوی بادرنګ شکول، ما یې عکسونه ویستل. کیناستل د بادرنګو خوړلو ته. ماته یې وویل: "ته هم راشه!" ما وویل: "زه یې نه خورم او له تاسو سره هم نه کینم."

زرغونې زما خور ته مې وویل: "ته راځه، لاړ شو هغه ځای نه لږ مولۍ سرخک هم راوړو." هغوی لاړل، زه د نازنین خواته نږدې شوم. نازنین وویل: "د غم زویه، یوه غاړه راکړه! څنګه دومره لري لري ګرځې؟"

ما وویل: "د غم لوری څه پوهېږې؟ د قارون په شان ورور مې دي ډېر پام کوه کنه، هر څه به خراب کړي. او بل، د ځانګې مخې ته زه نه شم کولی له تا سره سمې په مینه خبرې وکړم."

وې ویل: "سمه ده، فکر مې دی، پام کوم، خو ډېر مه ورکېږه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "نازنین، زموږ کورنۍ دې خوښه شوه کنه؟"

وې ویل: "ستا نه مې دوی ډېر خوښ شول! مورجانه وګوره، که شپه او ورځ خبرې ورسره وکړې، انسان نه تنګېږي. ورېندار وګوره، څومره د مورجانې خیال ساتي."

نازنین وویل: "او د څانګې خو مه وایه! که موږ بېرته واپس لاړو، نو قسم دی چې د څانګې پسې به ژبې شمه. څومره خوږه او مهربانه ده، فرازه! هېڅکله څانګه خفه نکړه، ډېره معصومه جلۍ ده."

پاتې شو کلی، دا مې هم ډېر خوښ شو. څومره ارامه، شنه، او خوږه فضا لري! ته په الله یقین وکړه، ډېر مې زړه خوشاله دی."

ما ورته وویل: "لکه چې بد زه یم، چې هېڅ تعریف دې راته ونکړ!"

دې وخت کې زرغونې وویل: "تعریف، تعریف نه لري!"

نازنین وویل: "بد به ستا په لیدو شکر وباسي! چې دا خو موږ نه هم بد دې. تا ماسره څه ونه کړل! ټول عمر کې مې ډاکتر نه پېژانده، ستا د لاسه مې هغه هم ولید! لیدل خو لا څه کوي، په شفاخانه کې دې راباندې شپې وکړې. تا کې ښه توب چیرته دی؟"

خور مې وویل: "نازنین خورې، ته پوهېږې چې په دې کوم حالتونه تېر شوی؟ په ډېرو سختو کې یې نه دی ژړلی، مګر چې کابل نه راغی، دومره یې وژړل چې ان ډاکتر ته مو یووړ. یوه نیمه ورځ په کوما کې و."

"یوه ورځ خو ورته په تعجب کې شوم. هېڅ بې هېڅه یې زه ووهلم، او بیا یې د غاړې نه تاوه کړم. راته یې ویل: 'خفه نه شې' او ژړل یې."

په دې خبرو د نازنین سترګو کې اوښکې راغلې. راته یې وویل: "فرازه، ستا دې زما په سر قسم وي، که ته به په څانګه نور لاس پورته کوې!"

ما وویل: "سمه ده، تاسو مو کیسې او خوراکونه کوئ، زه درنه لاړم."

حرکت مې وکړ، لاړم ډېره ته. ماښام شو. لمونځونو نه وروسته مو ډوډۍ ورکړه. ډوډۍ خلاصه شوه، هنرمندانو خپل سازونه سر کړل او سیل شروع شو.

لومړۍ نغمه یې په ساز کې دا ونیوله:

"دا زموږ زیبا وطن"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې يې دا نغمه ونيوله:

"ورور مې ولاړ وو، تا مې تاوکړل مړوندونه..."

وې ليدم: "قسم دی ياره، وې ليدم!"

دې نغمه پسې يې د ملنګ جان روباعي او غزل شروع کړ. د غزل پسې يې چاربيته وويل. او نور يې سروکي او تپې شروع کړل.

زموږ د کلي ځوانانو ډله معلومه وه، هر يو به نمبر په نمبر پاڅېده او ګډاګانې به يې کولې.

ورور مې هم ناست و، د نازنين پلار هم ناست و. هلکانو زه هم ګډا ته پورته کړم، ما هم ښه ګډا وکړه. هلته په کور کې د ښځو سيل هم شروع و، نازنين ورته عجيب عجيب کتل او خوشاله وه، ښه ساعت يې تېر و.

موږ هم ميدان ګرم کړی و، ګډاګانې او اتڼونه مو کول، چې نازنين زنګ وواهه. ما اوکې کړه. ويې ويل: "فرازه، زه په بام ناسته يم، ته ګډا وکړه چې دې وګورم."

ما چې بام ته وکتل، سم نه ښکاره کېده، خو بام ډک و. چای راوړه، هنرمندانو ته يې سيل بند شو، چای يې وڅښل، بيا يې چې شروع کوله، زه لاړم هنرمند ته مې وويل: "دغه ساز ونېسه، فارسي."

"به اولين نگاه تو ای نازنين دل باختم

ای کاش نمی‌ديدم تو را

دل را به دام انداختم."

ما ورته وويل: "په همداسې ترڅ کې زه يوه پښتو سندره وايم."

هنرمند همدا سندره ساز کې ونيوله، ما مايک واخيست او شروع مې کړه:

په اولين ليدو مې تا، ای نازنين زړه وړی دی

ای کاش چې ته مې نه ليدلی، زړه مې په تا بايللی دی

په اولين لدو مې تا.

زړګي زما که وو نادان، ستا په خندا که تېر وتو

اول منزل مې وو اسان، اوس ګړنګونو کې پريوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نه صبرېږمه له تا، دا څه جادو دې کړې دې

ای کاش چې ته مې نه لیدی.

تېر شو هغه د مستۍ ورځې، پاته له تا ادا شوه

مینه زمونږ نه شوه پټه، مینه زمونږ رسوا شوه

بس دې، توبه مې ده، نور ځم، راته اور ستاسو کلی دی

ای کاش چې ته مې نه لیدی.

نه به د چا سره یار شمه، نه به زه چاته جانان وایم

نه به بیا چاته زړه ورکم، نه به زه چاته ارمان وایم

چې جدا شوی یم له تا، زړه مې ستا غم خوړلی دی.

مینه کې ډېر دردونه دي، مینه کې ډېر غمونه دي

ما ستا د دوو سترګو لپاره، تېر کړي ډېر تکلیفونه دي

دا ګناه ستا نه وه، زما وه، زړه مې په اور سیزلی دی.

ولې کوي نازونه ته، اخلې د زړه آزارونه ته

زه خو مئین یمه په تا، مه کوه نور ظلمونه ته

دا هریو شعر غازي ګوره، دا ستا په یاد لیکلي دي

ای کاش چې ته مې نه لیدلی، زړه مې په تا بایللی دی.

دا غزل مې چې په ختمېدو و، هنرمند ته مې په غوږ کې وویل: "دا ساز ونېسه."

شینوګي بل ته ورکړه، هغې دا ساز ونیو، او ما په همدې ساز کې دا سندره په دې بیت پیل کړه:

"زه به چاته لیوني ویم، زه به چاته ښاپیري ویم

فیصله وشوه غلطه، توپوس وکړي د لیلا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ژوند مې پکار نه دی، ربه سا وهلې زمانه."

په همدې وخت کې مې خپل موبایل له جیبه راویست، چې ګورم، نازنین راته میسج کړی و: "نور بس که، فرازه، کنه زړه مې چوي، ستا غږ په ما څه کوي."

ما ورپسې یو دوه ټپې وویل، مایک مې ورکړ او روان شوم. ملګرو چغې کړې: "فرازه، ادامه ورکړه!" خو ما ځان د خلکو منځ کې پټ کړ. وروسته چې مې فکر شو، ما وویل: "دا په تا څه وشول؟ دا دومره خلک دي، ورور دی، د نازنین پلار دی. نه لیدو او سندرو ته دې کش ورکړی و."

ما وویل: "نن شپه به دې په جومات کې وي د ورور له لاسه." لاړم د خلکو شاته ودرېدم، ځان مې پټ کړ. ښه شیبه وروسته، لاړم د نازنین د پلار څنګ ته کېناستم. ورور مې وویل: "هلکه، ته خو ډېر ښایسته غږ لرې، جامې دې واخله او همدغو خلکو سره ګرځه."

د نازنین پلار ورته وویل: "پرېږده یې، ځوانان دي، چې زړه خوشاله کړي."

کټ کې ناست وم، د نازنین پلار ته مې وویل: "کاکا، چې زړه دې تنګ نه شي."

ویل یې: "نه، بچیه، ښه ساعت مې تېر شو. د ځوانۍ وختونه او د کلي محفلونه یې راته یاد کړل."

په دې وخت کې راته میسج راغی، پټ مې وکوت، زرغونې لیکلي و: "دلته راشه، دا بلا وهلې غلې کړه."

زه ژر روان شوم. نازنین دې کور ته راغلې وو. خور مې، زرغونه، او نازنین دریواړه هلته وې. ما د کور دروازه بنده کړه او دننه لاړم. چې مې کتل، نازنین په ژړا سترګې سرې اړولي وې. چې څنګه یې زه ولیدم، پورته شوه او زما غاړې نه تاوه شوه.

ما وویل "څه خبره ده، نازنین؟ خیر خو به وي؟ ولې دې ژړلي؟"

نازنین وویل: "نه پوهېږم، په زړه مې څه چل کیږي. ډېر زیات تنګ دې."

ما ورته وویل: "نازنین، دا خو کابل نه دی چې چیرته دې چکر ته یوسم. دا کلی دی، او دلته د ورځې انسانان ګرځي او د شپې پیریان. اوس زه تا چیرته یوسم؟"

بیا مې ورته وویل: "راځي، کوټې ته لاړ شو." خور ته مې وویل: " ته لاړه شه او زما د کوټې نه هغه لډو راوړه، لوبه به وکړو."

خور مې لډو راوړه. ما وویل: "نازنین، ته او څانګه لوبه وکړئ. زه او زرغونه یو ځای کیږو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین په مسکا وویل: "نه، زه له تاسره کیږم." زرغونې وویل: "سمه ده."

لوبه مو شروع کړه. نیمه لوبه مو چې وکړه، نو په دې وخت کې د نازنین حالت بدل شوی و. ما ورته وویل: "نازنین، تاسو دریواړه لډو وکړئ. زه به لاړ شم، که نه ملګري به رانه خفه شي."

نازنین وویل: "سمه ده. موږ هم نور لډو نه کوو. کوټې ته پورته کیږو او سیل به وکړو. خو، فرازه، یوه سندره به بله ونه وایې."

ما په مسکا ورته وویل: "اوس مې هم د خوب ځای معلوم نه دی. کېدای شي جومات کې راباندې شپه تېره شي ورور مې. که بله سندره مې وویله، نو په کلي کې به مې هم پرې نه ږدي."

زه لاړم. نور ترېنه روان شوم. خور ته مې وویل: "ځانګې، د انګړ دروازه راپسې بنده که."

لاړم دیرې ته، کتل مې چې، ورور مې او د نازنین پلار پاسیدل. ما پوښتنه وکړه: "چیرته ځئ؟"

ورور مې وویل: "حجرې ته ځو، ارام کوو. ته لاړ شه او زموږ لپاره ځای تیاره که."

زه هم ژر لاړم، هغوي ته مې بسترې هوارې کړې او بیرته دیرې ته راغلم. د ملګرو ترځنګ کیناستم. شپه په پخیدو کې روانه وه، د غزل او داستان موسیقي فضاء په سر اخستې وه ټول خلک خاموشه ناست وو. ډېر زبردست مجلس روان و.

نازنین راته میسج وکړ: "فرازه، زه د بام په سر ناسته یم او ستا د غږ په انتظار یم."

ملګرو هم ټینګار کاوه چې څه ووایم. کش یې کړم او مایک یې راته راکړ. ما هم لومړی یو رباعي وویله او بیا مې دا غزل شروع کړ:

ستا د دوو سترګو لپاره د هرچا خبرې وړمه

ای زما ماشومه یاره، د هرچا خبرې وړمه

ستا ماشومي اداګانې، ستا وړې وړې خبرې

رب دې لوی کړه زما لپاره، د هرچا خبرې وړمه

ته په مینه نه پوهېږې، که دې ځان نانجاره کړې

خدای دې پوه مکړه، دلداره، د هرچا خبرې وړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته زما د چمن ګل يې، ته زما د زړګي سر يې

رسول خان داستا لپاره، د هرچا خبرې وړمه

اى زما ماشومه ياره، د هرچا خبرې وړمه

په دې غزل کې دومره ژور تللى وم چې هر څه مې هېر شوي وو. خلک ټول په خاموشۍ سره ناست وو، حيران او غوږ وو. ما هم په ډېر ژور احساس سره دا غزل ووايه.

د غزل له ويلو وروسته، خپل ځاى ته راغلم او کيناستم. لنډه دا چې پروګرام پاى ته ورسېد او اذانونو ته يو نيم ساعت پاتې و.

خلک کورونو ته لاړل. څه مېلمانه ما حجرې ته يووړل او څه نورو ملګرو. مونږ څو ملګري پاتې شوو، کټونه مو په ديره کې جوړ کړل او پرېووتو.

سهار وختي ورور مې راغى او وې ويل: "پاڅه چې مېلمانو لپاره د چايو بندوبست وکړو."

پاڅېدم سترګې مې ومخلې او لاړم کور ته. چې مې وکتل، مور مې پراټې پخول، خور او وريندار مې حويلۍ پاکوله. زرغونه ناسته وه نغري ته، او د چايو لپاره يې اور بل کړى و.

ما مور ته وويل: "موري، دوکان ته لاړ شم څه راوړم؟"

مور مې وويل: "نه زويه، دا مېلمانه خو تل د دوکان شيان خوري، خو نن به مونږ ورته کليوالي خوراک تيار کړو. شيدې، چاى، پنير، او پراټې شته."

ما زرغونې ته وويل: "زرغونې، تاسو سهار کې څه خوري چې را يې وړم؟" په دې وخت کې مې د نازنين مور راغله، او زرغونې ته يې وويل: "ته پاسه، زه د شيدو چاى جوړوم."

مور مې وويل: "ته ځان مه تکليفوه، دا زموږ د لګو کار دى، سترګې به دې اوسوزي."

د نازنين مور وويل: "خير دى، که کابل کې اوسو، مونږ هم په کلي کې ډېر په اور پخلى کړى دى."

هغې بيا وويل: "فرازه زويه، نور هيڅ شى ته ضرورت نشته، هر څه چې په کور کې دي، هماغه به خورو او خوښ مو دي."

په دې وخت کې د نازنين وړه خور راغله. هغې راته سلام وکړ او ويې ويل: "فراز لالا، بيګا خو دې ډېره ښه سند

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سمدستي په خوله ورته لاس کېښود. مور مې او د نازنين مور دواړو راته وکتل، او مور مې په خندا وويل: "جلی، پرېږده چې خبره پوره کړي!"

ما په ټوکه وويل: "نه، زه اوس هندو يم چې دې راته 'لالا' وويل!" په دې سره د ټولو خندا په کور کې جگه شوه.

مور مې وويل: "فرازه، ورور به دې څه وايي؟ که نه، زه به دې خوښه شم. اوس خو څه نه وايم ځکه چې نازنين دې دلته دي، خو وروسته به گورو. تا خو مونږ وشرمولو!"

رنگ مې تک زيړ شو. نازنين هم راغله او په خندا يې وويل: "هو کنه، مور جاني، زرغونې هم خندل. فراز رښتيا هم مونږ وشرمولو!"

ما په ټوکه وويل: "نه، موري، دا دروغ وايي!"

"دا هر څه راباندې همدې پيشو وکړل!" ژړل يې او راته يې وويل چې سندره ووايه."

د نازنين مور په مسکا وويل: "موږ پسې ماشومان راغلل چې راشئ، فراز لالا سندرې وايي. موږ هم بام ته پورته شوو او غوږ مو ونيولو. فرازه، ډېر ښايسته غږ دې دی، ډېرې ښايسته سندرې دې وويلې. ډېره مزه يې وکړه."

مور مې په خندا وويل: "بيا شرمېدلې نه چې 'نازنين، نازنين' دې ويله."

نازنين وويل: "هو کنه، د ټولو کليوالو مخکې يې زما نوم اخيسته، زه يې وشرمولم!"

زه هک پک ولاړ وم او هيڅ خبره مې نه شوه کولی. چې مې کتل، ورور مې راغی، او نور مې هم حالات خراب شول.

ورور مې وويل: "زنچو ته دلته ما ليږلې يې که دوکان ته؟"

د نازنين مور وويل: "زويه، موږ ورته وويل چې له دوکانه څه مه راوړه. هر څه کور کې شته، همدا به خورو."

نازنين هڅه کوله چې ورور مې غوصه کړي، خو ما ژر وويل: "وروره، زه به حجرې ته لاړ شم، مېلمانه يوازې ناست دي."

ورور مې وويل: "ورک شه له سترگو مې! ډمه!"

زه په منډه ووتلم. ورور مې د نازنين مور ته وويل: "تاسو خفه کېږئ مه. دا راباندې ډېر گران دی، نه غواړم چې خپل سر او بې لاره شي. که داسې و نه کړم، نو ټول کلی به په سر واخلي."

نازنين په خندا کې ورور ته وويل: "هو کنه، ودې نه واهه، د وهلو لايق دی!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې په موسکا ځواب ورکړ: "د وهلو زړه مې پرې نه کيږي، خو چې ډېر مې مجبور نه کړي. دا لا ماشوم دی، بايد بې لارې ته يې پرې نه ږدم."

زه په حجره کې ناست وم چې ورور مې راغی او وې ويل: "راځه، مېلمانو ته چای راوړه."

ما چای راوړ. بلال ته مې وويل: "کوم مېلمانه چې ما سره دي، د هغوي په اړه ته بيغمه اوسه. د کور مېلمانه سمبال که."

چای مو وڅښل، مېلمانه لاړل. زه، ورور مې، او د نازنين پلار لاړو باغ ته. د باغ په ليدو د نازنين پلار ډېر خوشاله شو. ورور ته مې وويل: "ژوند دغه دی."

هر څه تازه تازه په کور کې پيدا کيږي. چې مو کتل، نازنين دي هم راغلل. هغې خپل پلار ته وويل: "پلار جانه، مونږ چکر ته يوسه؟"

ما ورته وويل: "چکر څه کوې؟ ديګونه دلته راوړي، ښايسته باغ دی، ميوې او ترکاري شته. په ديره کې پسه ولاړ دی، هغه به حلال او ځوړند کړو، هر څنګه چې ديګ مو خوښ وي، هماغسې به پخلی وکړو او وخورو. که چکر ته ځئ، نو ها د غره غاړې ته، د کوچيانو خيمې هم شته. هلته چکر وهئ، نور څه غواړې؟"

د خبرې په اورېدو يې وويل: "سمه ده، همداسې به وکړو." نازنين، دواړه خويندې يې، زرغونه او ځانګه، ووتل پټو ته. ما په باغ کې کټ واچاوه او ميرويس خان کاکا ته مې وويل: "دلته به کښېنو."

ورور مې په ديره کې پسه پټ حلال کړی و او باغ ته يې راوړو. د نازنين پلار ډېر خفه شو او ويې ويل: "ولې مو دومره غټ تکليف وکړ؟"

ورور مې په موسکا وويل: "ډګروال صاحب، تاسو به بيا کله راځئ؟ دا خوشالي او راتګ هر وخت نه وي. پرېږده چې د ماشومانو ساعت تېر شي."

ورور مې بيا ماته وويل: "هله، ونه کې پړي واچوه چې دا ځوړند او پاک کړو." ما پړي واچول. د نازنين پلار هم پاڅېد او ويې ويل: "ماته هم چاړه راکړئ چې کومک وکړم." ما ژر خپله چاړه ورکړه.

ورور مې په غوسه شو: "نه ګورې، ډګروال صاحب مېلمه دی!"

خو د نازنين پلار وخندل او ويې ويل: "نه، زه له شوقه کار کوم، دا کار زما خوښيږي."

ما ورور ته وويل: "وروره، تاسو دا پاک کړئ، زه به هغه جلکياني راوړم چې ديګونه باندې کړي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې وویل: "همدې لپاره دې ځان اوزګار کړی دی، لاړ شه."

زه لاړم، نازنین د ترکارۍ په پټو کې ناسته وه، د ملۍ پاڼې یې خوړلې. ما په خندا ورته وویل: "ته خو د غوا غوندې لګیا یې، غرمه به ډوډۍ نه خورې که څنګه؟ ځې چې زو، دیګونه پاخه کړې."

باغ ته چې راغلو، ورور مې پسه پاک مینځلی او ځوړند کړی و. دوی چې پسه ولیدو، ډېر خوشاله شول.

نازنین وویل: "زه به ترینه روش پخوم."

زرغونې وویل: "زه به ترینه ازبکي پلو پخوم، په غوښه کې."

خور مې وویل: "زه به قورمه تیاره کړم."

بس، دیګونه یې راوړل، لرګي هم تیار او وچ پراته وو. نازنین لومړی له پسه سره عکسونه واخیستل او بیا یې په دیګونو پخول شروع کړل.

ښه شیبه وروسته دیګونه پاخه او دم شول. اورونه یې د نغرو څخه لرې کړل او انګار یې ورپسې پرېښود. راغلل او په سترنجي کښېناستل. مامې خور ته وویل:

"ته هم ستړې شوې یې، او ګرمی هم وهلې یې. خو زه خیر دي. نازنین دې ته چای راوړه چې لږ دمه شي."

زرغونې وویل:

"غرمه ده، چای نه څښو. دې پټو کې به ترکاري وکړو ترڅو چې یې پاکو، غرمه کېږي."

دریواړه لاړل ترکاري پسې. زه هم لاړم، لیمو او نارنج مې وشلول او را مې وړل. هغوی ترکاري وکړه او راغلل، په پاکولو یې شروع وکړه، او ډېر ښایسته سلات یې تیار کړ.

لنډه دا چې د غرمې ډوډۍ تیاره شوه. همدې باغ کې کښېناستو، دسترخوانونه هوار شول، ډوډۍ راغله. زه ډېر وږی شوی وم.

ټولو د پخلي صفتونه شروع کړي وو، خو زه غلی ناست وم. زرغونې وویل:

"فرازه، ته څنګه غلی یې؟ څه نه وایې؟"

ما ویل:

"یو څه خو وخورم، بیا به وایم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین ته مې وویل:

"نازنین، په کوتو او لاسونو دې برکت شه! روش ډېر ښایسته راغلی. زما له خوا نه دې سل نمرې شوې."

خو د زرغونې پلو هم ډېر زیات مزه ناک راغلی. اول به دا وخورم، هسې نه د روش په خوړلو رانه پاتې شي.

نازنین وویل:

"هغه څنګه؟"

ما ویل:

"ځکه چې روش ته ګورم، ستا پوزه راته مخې ته کېږي."

ورور مې په غصه شو:

"رزیله سپیه! خره! په یوه سا یې راته لس رقم نومونه واخیستل. ته غلی کېږې که نه؟ دې بېچاره څومره ښایسته پوخ کړی، ته دا خبرې کوې؟"

ما وویل:

"خو زه غلی ناست وم، زرغونې وویل چې ته خبرې نه کوې."

ورور مې وویل:

"دا رزیل نور په خبرو مه اچوه. غلی یې پرېږده."

ما وویل:

"وروره، ما خو د زرغونې سره خبره کړې وه. زر افغانیو ته داسې وکړه چې نازنین ډېر ښایسته روش پوخ کړی. ته نازنین ته انعام ورکړه، زه به یې زرغونې ته."

ورور مې وویل:

"د سخي ارسلا خان زویه، دواړو ته یې خپله ورکړه."

نازنین وویل:

"ځانګې ډېره ښایسته قورمه پخه کړې، زما په ځای انعام دې هغې ته ورکړه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل:

"تاته یې لا نه درکوم، ته د ځانګې خبره کوې!"

نازنین غصه شوه:

"فرازه! ګوره نور بس که، کنه په دې قاشقه دې سر ماتوم!"

ورور مې ورته ویل:

"ته لا ګورې؟ ګوزار پرې وکړه چې خوله یې بنده شي!"

ټولو وخندل. مور مې وویل:

"فرازه زویه، دا جنګی مه تنګوه. پرېږده چې ډوډۍ وخوري."

ما یو غوري ورجي او دوه کاسې روش وخوړې. زرغونې ته مې وویل:

"ماته یو قابګیر ورجي نورې واچوه."

په دې وخت کې نازنین وویل:

"فرازه، پاسه ودېږه."

زه حیران شوم او پاڅېدم. نازنین لاندې وکتل او وې ویل:

"فرازه، تا دا دومره ډېره ډوډۍ چېرته ځایه کړه؟"

ما وویل:

"ولې؟ و مې خوړه!"

ویې ویل:

"دومره خوراک خو غویان هم نه کوي! نور بس که، څه درباندې ونه شي!"

ما ورته وویل:

"دا خبېه زما ده که ستا؟ د خپل ځان غم کوه! ماښام برخه اوس مه خوره، ماښام ته سیخ کباب تیار دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین وویل:

"اوخ ته لا ماښام ته هم ډوډۍ خوري؟ ته انسان یې که څه شی یې؟"

ما ویل:

"زما غم مه کوه."

ډوډۍ مو وخوړه، لمونځونه مو وکړل، مازیگر شو. نازنین وویل:

"مونږ د غره غاړې ته ځو ترڅو کوچیانو خیمې او رمې وگورو."

ما مخکې کړل، لاړو. زه لرې ودرېدم، هغوی خیمو ته نږدې شول او د کوچیانو ښځو سره په خبرو شول. همالته د خیمو مخې ته کښېناستل، زرغونې ورته عکسونه اخیستل. بیا یوه اوښه پرته وه، نازنین کوچۍ ته وویل:

"زه کولای شم په دې اوښه کښېنم او داسې چکر ووهم؟"

کوچۍ اوښه ونیوله، نازنین کښېناسته، او اوښې حرکت وکړ. نازنین ماته د لرې نه لاسونه خوزول.

بېرته ښکته شوه، چای او چرمغز یې ورته کېښودل. چایو نه وروسته یې حرکت وکړ، راغلل، او بیا د کلي په لور روان شوو.

نازنین ډېر تینگار کاوه چې غر ته خېژو. ما وویل:

"ناوخته دی، څه کور ته."

راغلو کلي ته. نازنین وویل:

"مونږ په پټیو کې تازه سابه کوو، درزو ته. زه لاړ شه؟"

زه هم کلي ته د ملگرو په طرف روان شوم.

ملگري ټول ناست وو د ویالي په غاړه. سلام مې وکړ، ټولو سترې مه شئ وکړه، کښېناستو.

فرهاد وویل:

"فرازه، د شپې دې د ډېر درد نه سندرې وویل، ډېر زیات خوند یې وکړ."

بلال وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فرازه، مننه کوم او د تکلیف کولو بښنه غواړم چې کور مو مونږ لپاره خالي کړ ترڅو مونږ پکې مېلمانه کښېنول."

ما وويل:

"بلال جانه، دا کومه خبره کوې؟ د ګاونډي په ګاونډي ډېر حق وي، دا خو وړه خبره ده. او بل کېداى شي سبا زما کوژده يا واده وي، تاسو به راسره مرسته کوئ، دا خبره بيا مه کوه."

بلال وويل:

"بيا هم، مېلمانه دي وو او دومره غټ کومک دې راسره وکړ. او بل محفل دې هم ښه ګرم کړى وو. د ټولو ملګرو مننه چې دومره لوى تکليف يې راسره ويست."

ما فرهاد ته وويل:

"داسې به وکړې چې د شپې لپاره به ښه سم منګي او رباب والا راپيدا کړې چې يو ساعت خوشالي بيا وکړو."

ويې ويل:

"سمه ده، بيا زمونږ حجرې ته راشه."

ما ترېنه اجازه واخيسته چې زه به لاړ شم کور ته، ځکه مېلمانه لرم. بلال وويل:

"فرازه، دا مېلمانه څوک دي؟"

ما ويل:

څه ووايم؟ دا مې د کابل ملګري دي، راغلي چکر ته."

بلال بيا وويل:

"د څه نه چې خبر شوى يم، الله دې وکړي."

ټولو ملګرو ورته وويل:

"د څه نه خبر شوى يې؟"

ما بلال ته وويل:

"اوس دا خبره له ځانه سره وساته، د وخت سره به ټولو ته ووايم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما حرکت وکړ، لاړم حجرې ته. ورور مې او د نازنين پلار ناست وو په ډېره کې. ما ميرويس کاکا ته وويل:

"کاکا، خوښه دې نه ده چې نن شپه دربانډې د ستار او منگې سيل وکړم؟"

ويې ويل: "ولې نه، بچيه! دا خو به سم کار وشي. ډېر وخت مو نه دی کړی."

ما وويل: "سمه ده."

ورور مې وويل: "فرازه، سيل دا چېرته کوې؟"

ما وويل:

"د فرهاد دي په حجره کې."

ويې ويل:

"سمه ده. ته به کور ته پاتې شې، چې کور هم يواځې نه شو پرېښودلی. زه او ډگروال صاحب به لاړ شو."

ما ويل:

"وروره، ته مشر يې او دا د ځوانانو محفل دی."

چپلۍ ته يې لاس کړه، "ډارک يې، گوزار به وکړ! زه درته وايم چې ته کور ته پاتې شه، او ته خوله راسره وخې."

"زه او ډگروال صاحب ځو!"

ډوډۍ مو د شپې وخوړه، ورور مې او د نازنين پلار د فرهاد دي حجري ته لاړل او زه يې په کور کې پرېښودم. سم مې فکر خراب و، په خپله کوټه کې پروت وم چې کتل مې، نازنين او ټول راغلل. نازنين وويل، "ولې خفه يې؟"

ما وويل، "ورور مې دغسې کار راسره وکړ، هيڅ فکر مې بلې خواته نه اوړي."

نازنين وويل، "راځه چې لډو کوو، فکر به دې بدل شي."

ما وويل، "نه، پوچکان يا ډک او تش کوو. هغه شي چې په لاسونو کې يې پټوو او وايې چې کوم کې دی."

نازنين وويل، "سمه ده."

د نازنين دواړو خوېندو وويل، "موږ يې هم کوو." ما وويل، "راځي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین ته مې وویل، "ته به ماسره نه یې، زه او دا دواړه وړي. تاسو درېواړه غټانې شئ."

نازنین وویل، "نه، زه تاسره کېږم."

بس، لوبه مو شروع کړه. کمپل مو په پښو واچوله او ځانونه مو پکې پټ کړل. لومړی ځل مې د نازنین وړې خور ته بادام ورکړو او غوږ کې مې ورته وویل، "ونه وېرېږه."

لاسونه مو له کمپلې نه بهر کړل او پوښتنه مې وکړه، "کوم کې دی؟"

هغوی د نازنین لاس ښکار کړ، موږ یوه نمره وګټله.

بیا مې خپله واخیستو، په همدې ډول مو لس نمرې وګټلې.

چغې به شوې، شور به شو. مور به مې ویل، "چغې مه وهئ، په ارامه خبرې وکړئ."

هغوی ډله چې به بادام لاس کې پټ کړو، ما به یې سترګو ته کتل.

یوه ځل مې د زرغونې سترګو ته وکتل، سترګې یې له شرمه ټیټې کړې. ما ورته وویل، "تیغ راته وګوره." او دې لاس نه راکړه، بادام مې ترېنه واخیست.

زرغونې وویل، "نور به ته ماته نه ګورې، ورخطا کېږم."

ما وویل، "چل همدا دی چې چا سره یې او هغې ته وګورې نو ورخطا شې."

نازنین به د کمپل لاندې راسره په لانجه وه چې ماته یې راکړه، بیا به یې کلک وشکنډلم.

لومړی میدان موږ وګټو.

دوهم میدان چې نیم ته ورسیدو ورور مې دروازه وټکوله ژر پاسیدم لاړم ویل یې حجري ته اوبه راوړه دشپې یولس نیمې بجې وې

بیرته راغلم نازنین دي ته مې وویل تاسو لوبه وکړې زه ځم حجري ته اوبه وړم او بیا ځم سیل ته

نازنین ډیره کلکه شوه چې خیر دي مه زه اوس مو ایله ساعت تیر شو ما ویل نه ځم

ویل یې سمه ده بیا دشپې رانه شي ستا کوټه کې مونږ ویده کیږو ما وویل سمه ده او ترینه روان شوم

لاړم د فرهاد دي حجري ته خه سیل مو وکړو سیل ختم شو زه هملته په حجره کې د فرهاد دي سره ویده شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار وختي ميرعلي کاکاا د فرهاد پلار راغې لمانځه ته يې پاسولو

زه هم پاسيدم لاړم کورته چې کتل مې ورور مې او ډګروال صيب لمونځونه کړي وو ديره کې کټ کې ناست وو

ورور مې وويل ته لکه دشپي کور کې نه وي او ځان دي رسولي وو

ما ويل وروره فرهاد راپسي دشپي زنګ ووهو ځکه لاړم

خه ورشه لمونځ درنه قضاء کيږي لمونځ وکړه

لمونځ مو وکړو د چايو نه وروسته مې ورور کورته ننوتو زه او د نازنين پلار يوازي پاتي شولو

د نازنين پلار وويل فرازه بچيه د مېلمه پالني نه دي ډيره ډيره مننه ډير زياد خوشاله شوم چې ستاسو کورنۍ مې له نږدي وليده

ما تاسره يوه وعده کړي وه زه به دي ورور سره خبره وکم

ما ورته وويل کاکا جانه مونږ تاسو ته هيڅ لا نه دي کړي او تاسو هيڅ چيرته نه شي تللي دا هفته به مونږ سره تيروي

پاتي شوه د وعدي خبره نه مونږ درزو ستاسو کورته او دا خبره هلته کوو

ميرويس کاکا وويل نه بچيه کور مو تش پريښي مونږ نور ځو بيا به که خير وي درشو اوس خو مو کور وليدو

لنډه دا چې حرکت يې وکړ

مور مې ټولو زنانو ته جامي اخستوي خور مې نازنين دي ته بنګړي اخيستي وو وريندار مې هم ورته څه اخستي وو

چې تلل د نازنين او زرغونې سترګي له اوښکو ډکي وي زما خور لپاره

نازنين موقه پيدا کړه ماته يې وويل فرازه ته به دي کورنۍ کله راوړي مونږ کره

ما وويل راتلونکي هفتي ته درزو فکر مه کوه او نور دا غمونه هم مه کوه چې بيا خرابيږي

څوک نه وو کلکه غاړه يې راکړه ښکل يې کړم راته يې وويل زه به دي په طمعه يم.

ما وويل سمه ده اوس روانه شه کوټي نه اووزه چې څوک رانه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین لاس راکړو د خدای پاماني لپاره رنګ یې یو رقم ته شو

ما وویل وخانده کنه بیا ژاړم

نازنین مسکي شوه او لاړه زه هم بهر ووتم خدای پاماني یې وکړه زه ورسره موټر پوري لاړم څه شیدي او پنیر وو هغه مې هم یوړل

موټر سره مو خدای پامني وکړه هغوي حرکت وکړو

نازنین د موټر نه لاس ویستي وو او ماته یې خوزو

چې کله هغوې پنا شول زه هم کورته روان شوم

کورته راغلم د نازنین په تلو ډیر خفه شوم او زړه مې تنګ شو

کور داسې خاموشه فضاء غوړولې وه تا به ویل که خدای مکړه غم شوې اوسی

خپلې کوټي ته لاړم ګورم خور مې لګیا ده کوټه راته جوړوي او ډیره غمجنه ده

راته یې ویل وروره کور ته دې فکر دې څنګه خاموشه او بي خونده شو د نازنین دي په تک

ما وویل هو زما هم زړه تنګ شو او خفه یمه

بیا یې وویل وروره زه به مور سره خبري وکړم اوس خو مو نازنین هم ولیده کورنۍ یې هم ډیر خه او مینه ناک خلک دي چې ستا او د نازنین خبره وکړي

زه غلې شوم خورمې بستري ټولولې او د نازنین دي صیفتونه یې کول وروره زرغونه څومره خوږه جلۍ ده زما ډیره خوښه شوه او د نازنین هغه وړې خویندو څومره په تربیه وي څومره اخلاقې وې

مور یې ددوي نه ښه ښځه وه د ادي ورسره داسي ساعت تیر وو ټوله ورځ به سره ناستي وي خبري به یې کولي داسي معلومیدي لکه خویندې او یا لکه د ټول عمر نه چې سره پیژندل

خور مې خبري کولي او زه د نازنین یادونو له ځانه سره وړې وم

خور مې راباندې غږ وکړ وروره زه تاته لګیا یم او ته مې غږ نه اوري کوټه یې جوړه کړه ما وویل رازه چې لاړ شو د مور خواته

د مور کوټي ته لاړو ورور مې وریندار او مور مې ناست وو هغوي هم د نازنین دي صیفتونه او خبري یې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

خور مې وویل موري اوس مو څه خیال دې نازنین او کورني خو مو ولیدله ډیر خه خلک دي نازنین هم خه او قابله جلۍ ده نو ښنګه جرګه ورپسي نه ځي

ورور مې وویل فرازه ته څه وایې لاړ شو څه خبره خو به یې له کورني لخوا یې پیښه نه شي

ما ورته د نازنین د پلار کیسه وکړه

په میرویس کاکا نازنین ډیره ګرانه ده کله چې دا خبري زمونږ مینځ کې راغلې خبره خفګان ته ووتله او زه خارج ته روان شوم نو د نازنین حالات ډیر خراب شول اتا شفخانه کې بیستر وه

بیا چې زه خبر شوم کور ته یې لاړم نو پلار یې راته وویل چې فرازه بچیه د هلک کورني ځي د جلۍ کورني ته په جرګه

که ته غواړي زه به ستاسو کور ته د نازنین په خاطر درشم او خپله لور به په کور کې درکم خو ته چیرته مزه کنه نازنین مړه کیږي

نو نن سهار چې کله تلل د نازنین پلار راته وویل چې بچیه غواړم خپله وعده پوره کم او د ورور سره دي ستا او د نازنین خبره ختمه کم

ما ورته وویل چې نه کاکا دا کار به ستاسو کور کې کیږي دلته نه او راتلونکي هفته کې به مونږ درشو

اوس ستاسو خوښه ورورہ چې هروخت ورځي

ورور مې وویل ډیره نره او د پښتو خبره دي کړي چې تا کې دومره سړیتوب له کومه شوه په اول ځل درنه خوشاله شوم

مور مې وخاندل او ورور ته مې وویل فراز خه خبره کړي تر هغې به مونږ هم ځانونه تیار کړو څه مشران به خبر کړو او لاړ به شو

ما وویل موري زه به د نازنین پلار سره خبره وکم که ویل یې مشران راولي یو به یې سو کنه مونږ به یوازي بیا لاړ شو

ورور مې غوصه شو اوس داسي بي پښتو کار راباندې کوي زه مشران وړم چې هم د میرویس کاکا سترګي جیګي شي هم د نازنین او هم خلک خبر شي چې سبا راته پیغور رانکړي چې دا څه رقم خلک وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل سمه ده ښځنګه چې ستاسو غوښه وي

زه دیري ته ووتلم کتل مې نازنین میسج وکړو

سلام فرازه ډیره خفه یمه هیڅ مې نه ته او نه ستا کورني له سترګو لري کیږي

زړه مې سم تنګ دې دا وخت به ښځنګه تیریږي

ما وویل زمونږ ټوله کورني هم خفه ده او اوس یې هم ستاسو صفتونه کول او زمونږ د کوژدي خبري یې کولي

نازنین وویل خا سه یې ویل کله به رازي

ما وویل راتلونکي هفته درزو سره د مشرانو

ویل یې خیر دې ته سبا حرکته وکړه راشه زړه مې ډیر تنګ دې

ما ویل سبا نه کیږي دلته به د کوژدن لپاره تیارې نیسو کارونه دي دا خلاص کړو

ویل یې نو دا هفته به ښځنګه تیریږي دا خو ډیر وخت دې

ما ویل په تلیفون زنګ وهه خبرې به کوو

خه نازنین زما ملګري راغلل زه نور میسجونه نه شم کولې چې دوي لاړل بیا خبري کوو په ځان پام کوه

ملګري مې راغلل ستړي مه شي مو وکړه لاړم کټونه مې برابر کړل کیناستو

فرهاد وویل میلمانه دي لاړل

ما وویل هو لاړل اوس مې ورسره خبري کولي لا نه وو رسیدلي لاره کې وو

بلال وویل فرازه رنګ نه خو داسې معلومیږي لکه چې خفه اوسې

ما وویل نه خفه نه یم ورور مې راته خبري وکړي هغې خفه کړې یم

چې کتل مې ورور مې هم راغې

ویل یې فرهاد او بلاله تاسو مو یو اته ملګري د بندار خبر کړي راتلونکي هفته د فراز کوژدن ده زو کابل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو خوشاله شول او ويل يې فرازه اوس خبره معلومه شوه چې ته ولې خفه يې او بهانه کوي ورور

ورور مې وويل دا بي شرمه شرميږي هسي ما بهانه کوي

ټولو ملګرو وخاندل

فرهاد مې ورور ته وويل چې يو موټر په ما شو تک او راتک

بلال وويل مټيان او ميوه د هغې ځای په ما شوه

امجد وويل د کوژدي ګل او چاګليټ په ما شول

ورور مې د ټولو نه مننه وکړه چې تاسو صرف مونږ سره لاړ شي چې هغې خلکو ته مو سترګي جيګي شي او بيا ګيله ونکړي

ټولو وويل چې نه مونږ چې څه وويل هغه مونږ کوو نور کار ستاسو خپل دې

ساحل وويل د فراز مکمله جوړه په ماشوه بس پروګرام مو ونيولو ورور مې د کلي ملک ملا او يو شپږ سپينږيري نور هم خبر کړل په سبا يې ما د نازنين پلار ته زنګ ووهو

کاکا سلام مونږ خو درزو خو ورور مې ځان سره شل نفره مشران او ځوانان هم راوان کړي

د نازنين پلار وويل فرازه بچيه خلکو ته تکليف ورکول څه ضرورت دي صرف ته ورور دي او مور دي راشي د خپل کور خبره ده

ما وويل نه کاکا پريږده چې درشي ستا سرلوړی به هم وشي او د خلکو خفګان به هم ختم شي

که ته څوک غواړي وه غواړه

ويل يې سمه ده بچيه چې څنګه ستاسو خوښه وي

دا هفته د کال پشان اوږده شوه انتظار ډير سخت وو

دشپې خپله کوټه کې ناست وم سوچونو او فکرونو په مخه کړی وم چې نازنين زنګ ووهو اوکي مې که

دي وخت کې مې خور هم کوټې ته ننوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین د سلام نه وروسته وویل فرازه چې رازي ځانګه هم ځان سره راوړه کنه بیا رانه شي

ما وویل کورته به څوک پاتي کیږي چې ځانګه درړو

ځانګي غږ وکړو چې ته به کور ته پاتي شي مونږ به درله دستمال راوړو

ستا تک ته هیڅ ضرورت نشته او زه خو نه پاتي کیږم زه د نازنین او زرغونې پسي خفه شوي یم

نازنین وویل فرازه ته دا موبایل ورکه ځانګي ته زه هم ورپسي خفه شوي چې دا غږ یې له نږدي واورم

موبایل لوډسپیکر مې جیک که

نازنین ځانګي ته وویل ګراني ته ګوره خامخا راشي چې ګوره ژبي شوي یم درپسي که کورته څوک نه پاتي کیدل نو فراز پریږدي او تاسو راشي

ما غږ وکړو سمه ده بیا نیکاح مې د ورور سره وتړه د غم لوري

نازنین وخاندل ویل یې سمه ده چې ته وایې

ما له ځانګي نه موبایل واخیستو خا نوي یاران شول او زاړه دې هیر کړل

نازنین وویل نه فرازه زه تا چیرته هیرولي شم خو ځانګه مې هم ډیره یادیږي

ما ویل رابه شي لخیره بیابه دي وګورم

ویل یې وبه ګوري ځانګه به په سر ګرزوم

ما ویل سمه ده نور تلیفون بندوم خوب رازي

ویل یې تاسره خو مې لا خبري پاتي دي ما ویل سبا یې کوو اوس ویده کیږم همدي سره مې خدای پاماني وکړه اړیکه مې بنده کړه لاړم د مور کوټي ته مې

هغوي د کوژدي لپاره ترتیبات جوړول چې دا به وکو دا به وکو

ما ورته ویل خه فکر وکړي چې څه کم نه شي یا پاتي نه شي

او هو هغه چیلی مو هیره نه شي هغه په ګوته کوي یې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو وخاندل ورور مې وويله زه وروره لاړ شه کوټې ته دې که ته داسې خبرې کوې نو مونږ نه هرڅه پاتې دي

ما ويل نو ما څه ويلي چې شړې مې

ورور مې وويل هغې ته چيلی نه وايې خر وايې خره ورک شه

مور مې په خندا شوه زويه چيله يادوې هغه چيله ده

ما سر وګرو روان شوم کوټې ته مې ټولو راپسې خندل

د کوژدې نه يوه ورځ مخکې نازنين زنګ ووهو ژړل يې ويل يې فرازه راشه مونږ کره همددا اوس حرکت وکړه

ما ويل الله دې خير کړي څه خبره شوې

ويل يې کاکا مې راغلې لانجې کوې ته راشه

ما وويل سمه ده درځم دا کاکا دې لا پکې د کومې پيدا شو هسې راباندې ځان وژني که څه کوې

اړيکه مې بنده کړه کورته راغلم مور او ورور ته مې وويل

زه ځم کابل ته د نازنين پلار زنګ وهلي وو چې راشه چې دلته د ميلمنو لپاره پروګرام جوړ کو

ورور مې وويل سمه ده لاړ شه که کار ډېر وو هلته دې ورور تيار شته هغه هم له ځانه سره کړه مونږ هم سبا درزو

حرکت مې وکړو لاړم

په ټوله لاره کې مې فکرونه او سوچونه وهل چې دا لانجه پکې له کومې راغله

ملګرو مصروفيت مې بيخي زياد دې دغه شې مې درله برابر کړو د اصلاح لپاره يې وخت نه لرم بښنه کوي

وخت راباندې نه تېرېده، اندېښمن وم، لاره همداسې اوږدېدله. ما دا موضوع له خپل ملګري عبدالرحيم دلسوز سره شريکه کړې وه. هغه راته ويلي وو: "چې لاړې، لغتې ورته بنده که او په وهلو يې له کوره وباسه." ما هم همداسې نيت کړی و.

لنډه دا چې کور ته ورسېدم، دننه شوم. د نازنين پلار او تره سره مې ستړې مه شې وکړه او کيناستو. هغوې خپلو کې خبرې کولې. ټول ناست وو. د نازنين تره د نازنين پلار ته وويل: "زه خو خپله زمه ما درته خبره خلاصه کړه، ګوره چې زما په امانت کې خيانت ونکړې."

ما ورته وويل: "کاکا، د څه امانت او د څه خيانت؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: "نازنين مې خپل مشر زوی ته په ماشومتوب کې په نوم کړې وه، خو هغه اوس له دې کاره په شا شو. اوس غواړم چې د کشر زوی لپاره مې وکم."

ما ورته وويل: "کاکا، دا خو ستا څاروی نه دی چې يو وانه خستو نو په بل يې پلورې."

ويې ويل: "نه."

ما ورته وويل: "ستا کونډه هم نه ده چې د يو زوی د مرگ نه وروسته يې بل ته واده کړې."

ويې ويل: "نه."

ما ورته وويل: "اول خو د ماشومتوب هغه ورکړه نه منل کېږي، او بل، ستا زوی دا جواب کړی. دا ستا زرخريد مال نه دی چې پيسې دې پرې ورکړې وي."

بيا مې وويل: "ستا زوی يو ښه انسان دی، هر څه کې خپله گټه مه گوره. ودې کتل چې هغې څانته ډاکتره پيدا کړی خوشاله شوي، اوس غواړي چې رازه نازنين بل زوی ته وکړه."

ورپسې مې وويل: "اول خو په تا کې پښتو او غيرت نشته، ډېر بې غيرته پلار يې. که په تا کې غيرت وای، نو خپل زوی به دې دي کار ته نه پرېښود. تا خو ميرويس کاکا د ټول قوم مخکې وشرمو او لور دې پرېښوده."

ميرويس کاکا وويل: "وروره، ته زما مشر يې، هيڅ نه شم درته ويلی څکه زه شرميږم. بيا زما کور ته په دې نيت رانشې او دا تمه هم مه لره. ما خپله لور فراز ته ورکړې، او سبا يې دستمال يا کوژدن ده. نو له تانه هيله کوم چې په دې خوشحالۍ کې ماسره برخه واخله."

نازنين وويل: "کاکا، زه د لوبو کومه نانځکه نه يم چې يو به مې گوزاروي او بل به مې اخلي. نور زما د ژوند واک او فيصله ته نه شې کولای. پلار مې شته."

د نازنين تره په غوصه شو او د نازنين د وهلو په نيت يې لاس اوچت کړ. ما يې لاس ونيوه او ورته مې وويل: "کاکا، خير دی، هغه جلۍ ده، حق لري چې د خپل ژوند فيصله خپله وکړي. ته ورسره ولې ځان کم عقل کوې؟"

د نازنين تره ودرېد او ويې ويل: "زه گورم چې څوک داسې کار کوي."

ما بيا هغه د لاسه ونيوه او ورته مې وويل: "کاکا، کينه، دا د کور خبره ده، خفگان پکار نه دی."

هغه وويل: "زه گورم چې داسې کوم نر دی چې د نازنين دستمال واخلي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته غوصه راغله او ومې وویل: "کاکا، خبره زور ته مه اوباسه، کنه قسم په الله چې دلته اوس غم جوړوم."

د نازنین پلار وویل: "وروره، خبره غیرت او پښتو ته مه وړه او مجبوره مې مه چې سبا پورې انتظار ونکړم."

د نازنین تره وویل: "ته وکه، چې زه تا گورم څنگه یې کوې."

د نازنین پلار خپلې ښځې ته غږ کړ: "ورشه، هغه د چاکلیټو پاکټ راوړه."

د چاکلیټو پاکټ یې راوړ، او ماته یې په لاس کې راکړ. ویې ویل: "فرازه، بچیه، مبارک دې شه، نازنین مې درکړه."

ما هم تمانچه له بغل نه ویسته، د کوټې نه ووتلم، پوره اووه ډزې مې وکړې. بیا راغلم کوټې ته، د نازنین تره د نازنین پلار ته مې وویل: "بس، زما او ستا ورورولي ختمه شوه او دوښمني شوه."

ما ورته وویل: "کاکا، دا خو د دوښمنې خبره نه ده، هسې ځان مه خفه کوه، نور ستا حق نه رسي. ته پنځه کسان راوغواړه، چې څه درته وایي،

د نازنین تره وویل: "ته خبرې مه کوه، تاسره به هم وگورم."

ما ورته وویل: "کاکا، خبره د کټلو نه ووتله، راځه کینه، زاري درته کوم، ږیره دې نیسم، نوره خبره ختمه شوه. اوس نازنین زما امانت شو، راځه دا خوشالي په شریکه تیره کړو."

سړی څادر په اوږه واچوه او له کوره ووتلو. ما د نازنین پلار ته وویل: "کاکا، نور ورونه او وریرونه دې خبر کړي؟ د نازنین ماماگانو ته دې ویلي؟"

ویې ویل: "هو، ټول مې خبر کړي، روان دي، ماښام به ورسیږي. بچیه، ته زما د ورور په خبرو خفه نه شې، هغه ډېر سرزوری دی، بچیان یې هم ترې تنگ دي. ماښام به هغوی هم راورسیږي او به یې گورې، ډېر ښه اولادونه یې دي."

ما وویل: "نه کاکا، ولې به خفه شم؟ مشر دې سپینږیری دی. خو اوس اجازه راکړه چې زه مې د ورور خواته لاړ شم، د سبا په خاطر تیاری وکړو."

د نازنین مور وویل: "زویه، ته دلته راشه، کار مې درسره دی."

ما ورته وویل: "امر کوه، مورجانې."

ویې ویل: "زرغونه او نازنین دې غواړي، د سبا لپاره یې څه پکار دي، هغه درته وایي، په کوټه کې دي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لاړم کوټې ته، دننه شوم. چې ننوتلم، نازنین منډه کړه او زما غاړه نه کلکه تاوه شوه، ښه یې ښکل کړم. زرغونې وویل: "لکه خو مانه وشرمیږي، دومره هم نه ګوري چې زه ولاړه یم."

نازنین وویل: "فرازه، اوس خوشاله شوم، ټول غمونه او فکرونه مې ختم شول. نور نو له ما نه خلاصیږي، اوس زما شولې."

پرون راهیسې خو ما ځان په ژړا مړ کړ، د تره د لاسه مې. ما ویل چې څه به پېښ شي."

ما ورته وویل: "نازنین، دا داسې اسانه کار نه و چې ستا تره ورته فکر کړی و. زه ډېر په غصه راغلی وم. ما ویلی و چې نن به زما آخري ورځ وي، دلته مې درته وژلو. هغوی په ما څه فکر کړی و؟ موږ هم مشرقیوال یو."

نازنین وویل: "شکر چې هر څه په خیر تېر شول."

ما وویل: "هو، کنه اوس به په محبس کې بندي پروت وم."

ویې خندل: "ته زما لپاره تر دې حده هم کولای شې؟"

ما نازنین ته وویل: "نازنین، ستا لپاره خو خپل ژوند نه هم تېرېدی شم. څوک چې د خپل ژوند کیسه کې نه وي، هغه به د بل په کیسه کې څنګه وي؟ خو اوس راته اجازه راکړه چې لاړ شم د ورور خواته، ترڅو د سبا لپاره تیاری وکړو. او تاسو راته ووایئ چې ستاسو څه پکار دي، زه خو ستاسو په کارونو نه پوهېږم."

نازنین وویل: "هیڅ مو پکار نه دي، بس د سبا په انتظار به زړه شم."

زرغونې بیا یو غټ لېست راته وویل: "دا به ماته راوړې، ځکه ټوله سخته په ما تېره شوه."

ما ورته پیسې ورکړې او ورته مې وویل: "خپله لاړه شه او ځانته یې واخله، دا شیان به زما له یاده وځي."

ویې ویل: "دومره ډېرې پیسې؟" ما نوري هم ورکړې او ورته مې وویل: "نازنین هم له ځانه سره یو څه چې دا هم د ځان لپاره، څه شیان واخلي."

ما نازنین له سره ښکل کړه او ترې روان شوم. لاړم د نازنین پلار خواته، ورته مې وویل: "ښه، کاکا، د ماښام او د سبا ورځې لپاره څه پکار دي چې را یې وړم؟"

ویې ویل: "بچیه، هر څه بندوبست زه کوم، صرف تاسو راشئ."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ترې خدای پاماني واخیسته او روان شوم د ورور خواته. غرمه مې د ورور سره تېره کړه، ښار ته لاړو څه ټک ټوک سودا مو وکړه.

یو وخت مې کتل، د نازنین زنګ راغی. "سلام، فراز جانه، چیرته یې؟"

ما ویل: "د ورور سره ښار کې یم، سودا کوو."

ویې ویل: "شاه دوشمشیره خواته راشه."

ما وویل: "سمه ده. ورور ته مې وویل: 'وروره، ته دا سودا له ځانه سره یو څه، زه د نازنین خواته ځم او بیا د هغوې نه سیده ځم کورته، چې سبا د ورور او مشرانو سره یو ځای راشم. ته به سهار وختي د نازنین دي کورته لاړ شې، که کوم کار وي، هغه به هم وکړي، او هو، تازه مېوه هم واخله سهار.'"

ویې ویل: "سمه ده."

زه لاړم د نازنین دي خواته. زرغونې وویل: "موږ سودا خلاصه کړې، اوس ته په موږ سکریم وخوره، لاړو، سکریم مو وخوړو."

ما ورته ټکسي ونیوله چې تاسو لاړ شئ کورته.

نازنین وویل: "راځه، ته هم نن شپه موږ سره وکړه."

ما وویل: "نن نه، بیا کله. زه او ورور مې هم سودا کوو."

ما ورته ونه وویل: " چې زه زم کورته بیا یې نه پرېږدم."

لنډه دا چې دوی مې رخصت کړل، او زه هم قضا مازیګر د هډې نه مخ په ننګرهار روان شوم. د شپې اته نیمې بجې کورته ورسیدم.

ورور مې وویل: "څنګه چل و؟ د نازنین پلار څه ویلې؟"

ما ورته ټوله کیسه وکړه، او بیا مې د چاکلیټو پاکټ ورکړ چې دغه دې نازنین یې راته راکړ.

ټول ډېر خوشاله شول. ورور مې وویل: "ډېر نر او د پښتو کار دې کړي، افریں!"

ما وویل: "زه ځم د فرهاد دي حجري ته، ملګري ټول راټول شوي چې د سبا لپاره د تک پلان جوړ کړو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې وويل: "ما مشرانو ته ويلي چې د سهار لمونځ مو وکړی، زموږ ديرې ته راشي، وختي چای څښنو او حرکت کوو."

ما وويل: "سمه ده."

لاړم حجرې ته. د ملګرو سره مې خبره شريکه کړه. يو موټر ملګرو د خپل ځان لپاره نيولی وو. دوه موټر مې ورور نيولي وو، يو د کورنۍ لپاره او بل د مشرانو لپاره.

بس، د سهار د چای نه وروسته مو حرکت وکړ

موټرې درې واړه زموږ د کليوالو وې. ورور مې ورته ويلي وو: "که تاسو زموږ سره تر راتک پاتې کيږئ او کوژده راسره تيره وي نو خه دې، کنه موږ نورې موټرې نيسو."

هغوی ويلي وو: "دا خو زموږ خپله خوشالي ده، بغير د روپو، مياشت درسره هلته تيرو، دا کومه خبره ده؟"

ساحل راته ښايسته کاټن جوړه بوټونه، واسکټ، خولۍ او دستمال اخيستي وو.

لاړو د نازنين دې کور ته ورسيدو. د نازنين پلار، ترونه، د تره زامن، ماماګان او د ماما زامن ټول راغونډ شول، ستړې مشي يې وکړه، او بيا لاړو حجرې ته.

مونږ حجرې ته لاړو او زنانه لاړ دننه کور ته

مونږ حجره کې ناست وو دا چې د نازنين پلار زمونږ د اکثره کليوالو سره په هغه دوه ورځو کې بلد او ليدلي وو نو د ټولونه مخکې يې خپل ورونه وريرونه او د نازنين ماماګان او د ماما بچې مونږ سره معريفي کړل

چای سره د مټايانو کلچو او کيکونو سره راغې چای مو اوڅښنو خبرو خبرو کې غرمه شوه

ميرويس کاکا د غرمې ډير ښايسته ترتيبات کړي وو ډوډۍ مو وخوړه لمونځونه مو وکړل

د لمانځه نه وروسته مولوي صاحب او ملک صيب د زرمينې پلار ته وويل

ميرويس خانه ته خو پوهيږې او خبر يې چې مونږ د څه لپاره رغلې يو که دا خبره ختمه کو ځکه مونږ هم بيرته واپس زو کورونو ته ځای مو لرې دې او ناوخته کيږي

مونږ راغلې يو چې ستاسره خپلوي وکړو او دا به زمونږ لپاره وياړ وي چې ستا په شان يوه کورنۍ زمونږ خپله شي دا به ستا په مونږ لوی احسان خيګڼه وي چې ته مونږ سره دا خپلولې وکړې

فراز خو ته هم خه پيژنې ډير يو غيرتې پښتون اخلاقي او بې بدو ځوان دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د ټول کلي مثال دې ټول کلیوال ترینه ډیر خوشاله دې د ځوانانو خو پریږده چې د مشرانو سره هم انډیوالي او ناسته پاسته لري ټول مشران ترینه ډیر خوشاله دي الله دي ترینه خوشاله شي

میرویس کاکا وویل ستاسو د ټولونه ډیره مننه کوم چې تر دې ځایه مو ځان په تکلیف که ماته مو دومره عزت او ویاړ په برخه که الله دې ستاسي قدمونه په تله د میزان کې واچوي

دا ما لپاره ویاړ دې چې ستاسو په شان درانه او پښتانه مشران راغلې

پاتي شو فراز دا به زما نیکبختي وي چې داسي یو ځوان سره زما د لور او کورني رشته کیږي

زه یواځې فراز نه اخلم زه به تاسو ټول اخلم د فراز نه ماته تاسو ډیر محترم هستي فراز خو مې هسي هم زي دې

او بیا یې ورور ته وویل ورشه هغه ګل چې دوي راوړي هغه راوړه

ګل یې راوړو مولوي صاحب وویل میرویسه وروره دا چې مهر یو شرعي شرط او د هري پیغلي حق دې تاسو مو مونږ ته خپل شرطونه او د مهر اندازه ښکاره کړي

میرویس کاکا وویل مهر به 50 زره افغانی وټاکم او څلور تولي سره

که زمونږ د خلکو له رواجه خبر شي نو توبي به اوباسي خو زه دا هرڅه ستاسو لپاره او د خپل لور او فراز لپاره کوم

زمونږ مهر نه بلکي ولور اخلي چې د 5 لکونه شروع تر 15 لکو پوري روپي اخلي زه ددي هرڅه سره خلاف یم

ټولو مشرانو د میرویس کاکا نه مننه وکړه او ډیري دعاګاني ورته وکړي

بیا دوه کسه چې ورور مې او کاکا مې لاړل د شاهیدي لپاره نکاح مو وتړله خواږه مو تقسیم کړل

ورور مې میرویس کاکا ته وویل اجازه ده چې ډزي وکړو

میرویس کاکا وویل وکړي زه هیڅ کوم عتراز نه لرم

ورور مې خپلو عسکرو ته وویل بهر ووزي او ډزي وکړي

ملک صیب او مولوي صاحب میرویس کاکا ته وویل چې اوس مونږ ته اجازه راکه لار مو اوږده ده ایله تر ماښامه ورسیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرویس کاکا ورته وویل نن خو په هیڅ رقم رانه نه شي تللي سبا سهار چې مو چاى اوڅښنو بيابه لاړ شي

میرویس کاکا په شین زور پاتي کړو

کشر ورور مې مشر ورور ته وویل لالا شپې ته یو بنډار نه جوړو یو هنرمند راوړ او سیل وکړو

ورور مې ورپسي غوصه شو وي ویل دا څه د خرو سره مې سر دې

دا د جني کور دې دلته څوک دا کارونه نه کوي چې کلي ته لاړي هرڅه چې کوي وي کړي

میرویس کاکا د ورور خبري مې واوریدي ورته یې وویل چې زړه یې غواړي ودي کړي ځوانان دي اوس دا هم ستاسو کور شو

دي وخت کې ماشوم راغې ماته یې اشاره وکړه چې راشه کور کې دې غواړي

د نازنین ورور راسره شو لاړو دننه شو نازنین یې جوړه کړې وه ناسته وه په چوکي کې مور مې ویل راشه دا گوته ورته په لاس که

لاړم د نازنین سره خواکي په چوکي کیناستم ورته مې غلي شان وویل  لک د خفگاناو د ژړا تمثل وکړه شرم دي خلک به وایي چې دا خوشاله ده ورته میړه نه پیدا کیدو

نازنین مې مور ته اواز وکړو مور جاني دي فراز ته وگوره کنه ماته وایي چې وژاړه

مور مي راته سټ کې په قلاره گوزار راکړو ولې یې ژړوي ته خوشاله نه یې چې دا خوشاله ده بیا ورته څه ونه وایې

ما غبر کړو سمه ده موري که په ژړا ددي ارایش خرابیږي زه به ددې په ځاى وژاړم دا خو نه ژاړي

ټولو ښځو وخاندل

ما نازنین ته وویل دیخوا شه چې دا چیلي درته په گوته کم

نازنین وخاندل او پټ یې راته وویل د غم زو نور سم شه ټول خپلوان مې ولاړ دي شرم دې.

ما وویل سمه ده چیله مې ورته په گوته کړه چک چکي شوي ټولو چغې کړي مبارک مو شه الله مو پخير سره زاړه که

(c) ketabton.com: The Digital Library

شربت مو یو بل ته ورکو زه ترینه پاسیدم نازنین وویل موبایل ته دې فکر کوه چې بیا درته زنګ وهم ما ویل سمه ده

لاړم حجري ته کلیوالو سره کیناستم.

ملګرو وویل زه چې لاړ شو چکر ته

ما وویل ملګرو دلته که د شپې لپاره د څه ضرورته شي او مونږ نه یو بده به وي

زي تاسو داسي وکړي د ورور سره مې لاړ شي چکر به هم وهي او هم به موسقي والا د ځان سره راوړي زه به همدلته یم ملګرو وویل ډیر به خه شي مامي کشر ورور ته وویل دا هلکان یو څه چې چکر هم وهي او تاسره به هم کومک شي

ورور مې او کلیوال ملګري لاړل ماته زرغونې میسج وکړو فرازه ډیر ډیر دي مبارک وي تا خو بلکل صبر ونکړو چې مبارکي مې درکړې وې

ما ورته جواب ورکړو مننه کوم زرغونې جاني ستا احسانونه به هیر نکړم تا مونږ سره زمونږ په رسیدو کې ډیره منډه او کومک وکړو

نازنین څنګه ده

ویل یې ورکوه یې دا خه ده چې خپل مرام ته ورسیده اوس ماته بیخي ګوري هم نه د مور سره دې ناسته ده کلکه هیڅ نه وایې چې دي کور کې زرغونه هم شته کنه

ما وخاندل ورته مې وویل لیوني لکه چې زور یې درکړو یوه خبره درته وکړم غوصه کیږي خو نه

ویل یې ووایه نه غوصه کیږم

ما ویل زه ستا او د نازنین جدایي نه شم لیدلي که دې خوښه ویې تا به خپل وړوکي ورورته وغواړم دواړه به په یو کور کې هستي

زرغونې وخاندل ولي لکه زمونږ بچه ستاسو په کور کې ختلي همدا بس دې چې نازنین مو درکړه

فرازه ټوکه مې وکړه زما هم ستاسو کورنې ډیره خوښه ده ټول د یوبل نه دیر مینه ناک او خه هستي خو د نصیب خبره ده او بل زه غواړم خپلو زده کړو ته نور هم ادامه ورکم

ما وویل زه نه غواړم چې تاسو جدا شي زه خپل کوشش کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتي برخه بيا

ملگرو ډېره ښښنه کوي کارونه ډېر دي سم نه شم کولې چې کيسه په وخت له تاسو سره شريکه کم يو سر او سل سوداوي دي ښښنه راته کوي

يادونه وکم چې دا يوه ناکامه مينه ده چې خپل مرام ته نه رسيږي هغه خوبونه چې دوي د راتلونکي ژوند لپاره کتل هغه نيمگړي پاتي کيږي

زرغونې وويل: "فرازه، الله دې ژوندی او خوشحاله لره. مننه کوم، زه لاړه شم، نازنين غږ کوي چې څه وايي." نور مو پيغامونه بند کړل.

لنډه دا چې ماښام شو، ډوډۍ مو وخوړه. هنرمندانو خپل وسايل ميدان ته راوړل. د نازنين دي کور داسې و چې مخې ته يې لويه حجره او انگړ و، او د کور لپاره يې بيله د موټر لاره هم وه، او شاته يې کور و. موږ په انگړ کې سيل شروع کړ، څکه حجره کې مشران او مولوي صاحب ناست وو. موسيقي شروع شوه، فارسي سندرې يې وې، پښتو به يې سمه نه شوه ويلی.

کليوالو ملگرو کور ودان، پروگرام يې ښه گرم کړی و. گډاگانې، مستيانې، خنداوې، او سيل په درز کې روان و چې کتل مې زرغونې پيغام رالېږلی و: "فرازه، دروازې پوري ته راشه."

زه هم ورو ورو پاڅېدم، روان شوم. ورغلم، کتل مې نازنين ولاړه ده. د لاس نه يې ونيولم د رڼا نه يې تورتم ته راکش کړم. ويې ويل: "د غم زويه! نه دې زنگ وهلو او نه دې پيغام وليږو. مطلب دې پوره شو، نوره دې هيره کړم."

ما ورته وويل: "ستا په ځای د زرغونې نه پوښتنه کوم کنه؟"

هغې په خندا وويل: "زه زرغونه څه کوم؟ ولې ما ته يې نه وايې، هغې ته وايې! او هو، تا خو مبارکي رانکړه! خوله دې خلاصه کړه."

ما ورته وخندل کتل مې چې لاس کې يې متايي نيولی و. او په خوله يې که راته په خندا يې وويل: "فراز جانه، مبارک مو شه، زما او ستا!"

ما ورته وويل: "خوله دې نږدې کړه." کله چې نږدې يې کړه، نيم متايې ورته ورکړو او کلکه مې په غيږه کې ونيوله. د ځمکې نه مې په غېږه کې پورته کړه او گرده مې تاوه کړه. "نازنين، زموږ دی مبارک وي

خوشې مې کړه، سا يې بنده بنده وه او په خندا کې يې وويل: "د غم زويه! اوس به مې مړه کړې وای!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل: "دومره خوشحاله يم چې هيڅ ويلی نه شم." نازنين نږدې شوه او ښکل يې کړم. ويې ويل: "فرازه، ډېره زياته مننه. د الله تعالی نه ډېره خوشحاله يم چې ته يې زما په نصيب کړې. ته پوهېږې، فرازه، کله به چې ما ملگرو ته د خپلې مينې کيسه کوله، نو ټولو به ويل: 'په هلکانو اعتبار مه کوه، دا د ټيليفون خبرې دي. يوه ورځ به دې په ميدان پرېږدي، خپل مطلب به درنه پوره کړي.' هغوی به ويل دا ټول دوکه‌بازان دي. کله کله به زه هم له دې وېرې سره مخ شوم چې هسې نه تا له لاسه ورکړم."

ما ورته وويل: "نازنين، ستا ملگرو رښتيا درته ويلي دي. ډېر داسې بې‌وجدانه ځوانان شته چې يوه نجلی د مينې په دام کې گيره کړي، خپل مطلب ترې واخلي او بيا يې په نيمه لاره کې پرېږدي. زه به په دې اړه يوه نه، دوه حقيقي کيسې درته وکړم، خو د واده نه وروسته. خو دا يقين وکړه چې تا غلط انتخاب نه و کړی او زه هغه هلکان يا ځوانانو نه نه يم. زموږ په کورنۍ کې يو رگ د پشيانو دی؛ خلک موږ ته وايي، 'تاسو پشيان چې يو ځل اوږه ووهئ، بيا نه هېساريږئ.' نو ما هم په تا پسې قوي اوږه هلي وه. خو پوهېږې چې زما زړه کله مات شو؟"

نازنين په خندا وويل: "هو، پوهېږم. د غم زويه! دومره وړې خبرې نه دي، څومره غټه ډرامه جوړه کړې وه!"

ما وويل: "نازنين، دا سمه ده چې مينه ړنده وي، خو دومره هم نه د بل د عزت خيال به پکې هم ساتي. يواځې به خپلو خوايشاتو پسې منډې نه وهي. هغه ورځ چې ستا پلار زما پر وړاندې وژړل او د خپل عزت خير يې رانه وغوښت، ما ويل کاش چې دا اسمان زما په سر ولوېږي، نه دا چې د دې بې‌وسه پلار اوښکې وگورم. کاش چې د دې کار نه مخکې مړ وای. خو دا چې زموږ مينه پاکه وه، الله موږ يو بل ته ورسولو."

نازنين زما په خبرو وخندل او ويې ويل: "ها، زما پشی خاونده! اوس په پشايي کې راته ووايه: 'ته ډېره ښايسته يې!'"

ما ورته وويل: "نازنين، تو بو سدوري های."

نازنين وخندل او ويې ويل: "زه څم دا خبره مورجانې ته کوم!"

ما ورته وويل: "د غم لورې، تا په خبرو کې ايساره کړې. هلته به مې ملگري وايي: 'دا څه وشو.

ما ورته وويل: "ماته نوره اجازه راکړه چې لاړ شم."

نازنين وويل: "په يوه شرط چې لاړې، هغه سندره چې دې په کلي کې ويلې وه، 'ستا د دوو سترگو لپاره'، دا به ووايې! زمه ټولې خپلوانې بام ته خېژوم چې دا سندره ستا له خولې واوري."

ما وويل: "د شرمېدلي لورې، څوک په خپل کوژده کې سندرې وايي؟ شرموي مې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا یې وویل: "که یې ونه وایې، اوس چغه وهم او سم دې شرموم."

ما وویل: "سمه ده، چې داسې کار ونکړې." او ترې روان شوم.

په روانېدو کې یې غاړه راکړه، مخه ښه یې راسره وکړه، او زه د ملگرو خواته لاړم او کیناستم. سیل روان و. لږ ساعت وروسته نازنین ماته پیغام وکړ: "فرازه، موږ ټول ستا په انتظار یو. پاسه کنه!"

ما خپل ملگري فرهاد ته ورو وویل: "ټول ملگري پټ پوه کړه چې ما په زوره پاسوي چې سندره ووایم." فرهاد هم ټول ملگري راټول کړل، او په زوره یې روان کړم.

زه هم لاړم، میکروفون یې راته راکړ، او سندره مې شروع کړه:

ستا د دوو سترگو لپاره د هرچا خبرې وړمه

ای زما ماشومه یاره، د هرچا خبرې وړمه

ستا ماشومي اداگانې، ستا وړې وړې خبرې

رب دې لوی کړه زما لپاره، د هرچا خبرې وړمه

ته په مینه نه پوهېږې، که دې ځان نانجاره کړې

خدای دې پوه مکړه، دلداره، د هرچا خبرې وړمه

ته زما د چمن گل یې، ته زما د زړگي سر یې

رسول خان دا ستا لپاره، د هرچا خبرې وړمه

ای زما ماشومه یاره، د هرچا خبرې وړمه

سندره مې ختمه کړه، فرهاد راغی، راته ویې ویل: "میک ماته راکړه." میک یې واخیست او ښه شیبه ټپې یې وکړ. ډېر خوند یې وکړ. پروگرام ختم شو، د خوب بسترې مو تیارې کړې، او ویده شو. د سهار د چایو وروسته یې زه کور ته لاړم، زرغونې راته وویل: "فرازه، ته خپل مشر ورور ته ووایه چې ځانگه پرېږدي، یو څو شپې مونږ سره وکړي. نازنین خفه ده، وایي ځانگه دې پاتې شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل: "زرغونې، ته ښه پوهېږې، کوژده وشوه، کلیوال به د مبارکۍ لپاره راځي، هلته به کلیوالو ته پروګرام جوړوم. په دې وخت کې که څانګه پاتې شي، زموږ کارونه به سخت کړي. خیر، مراسم چې تېر شي، زه به یې خپله راوړم. څانګه زموږ لاس او پښې دي، او بل که څانګه په کور کې نه وي، زه هم خفه کېږم."

ما زیاته کړه: "زه خو وایم، راځه ته هم زموږ سره لاړه شه، هم به مرسته وکړې او هم به چکر ووهو."

زرغونې وخندل او ویې ویل: "که زه لاړه شم، د نازنین به څه کېږي؟ زه خو د هغې امسا یم!"

په دې وخت کې د نازنین پلار ماته او زما ورور ته اواز وکړ. لاړو کوټې ته دننه شوو. مور مې، د نازنین مور، د تره ښځې، او د ماما ښځې هم ناستې وې. ما سلام وکړ، او کیناستو. د نازنین پلار زما ورور ته وویل: "تاسو خو خبر یاست، نازنین پوهنتون وایي، او دا یې وروستی کال او سمسټر دی. تر هغې به صبر کوي چې دا فارغه شي. دا زموږ ارمان دی چې لور مې د پوهنتون نه فارغه شي. پس له هغې، ستاسو امانت دی، چې هر وخت وغواړئ واده کولی شئ."

ورور مې ورته وویل: "میرویس کاکا، ستا دغه احسان به موږ په ټول ژوند کې هېر نکړو چې موږ دې ډک لاس رخصت کړو. او پاتې شوه د نازنین د پوهنتون خبره، کله چې تا موږ ته وویل چې راشي واده وکړي مونږ به راشو، موږ به په دې اړه هیڅ تر هغې خبره ونه کړو. دا زموږ لپاره د ویاړ خبره ده. ته خو یو کال یا شپږ میاشتې یادوې، که لس کاله هم وي، موږ صبر کوو."

میرویس کاکا خوشاله شو او دعاګانې یې وکړې.

ما په ټوکه ورور ته وویل: "وروره، لس کاله یې غوږ کې مه بړده، ولې مې زوروي!"

مور مې راته غاښونه وچیچل، ټولو وخندل. زرغونې وویل: "ته لا صبر! د زورېدو ورځې دې خو اوس راغلې."

ما وویل: "سمه ده، زما هغه اسناد راکړه، زه به هم دا لس کاله چېرته ځان ورک کړم!"

زرغونې وخندل او ویې ویل: "ورشه، نازنین سره دي که ترې اخیستي شي، ورنه یې واخله."

په همدې سره مو خدای پاماني وکړه، زه مخکې ووتم. زرغونې ته مې وویل: "نازنین چېرته ده؟ چې لږه یې وګورم."

ویې ویل: "هغه د نجونو سره په خپله کوټه کې ده."

ورسره مې ونه لیدل. راغلم حجرې ته او کلیوالو ته مې وویل: "راځئ چې په خیر سره لاړ شو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې خدای پاماني مو وکړه، حرکت مو وکړ. په ښار کې مو کیکونه، مېوه او کلچې واخیستې او کلي ته لاړو.

دوه ورځې وروسته مو په کلي کې پروګرام جوړ کړ.

ټول مراسم ختم شول، شاوخوا پنځلس ورځې به تېرې وې چې د نازنین مور زما مشر ورور ته زنګ ووهه، ویل یې: "زویه، نازنین ځانګه ډېره یادوي. که یې ولېږئ، خوشحاله به شي."

ورور مې ورته وویل: "سمه ده، فراز ته به ووایم چې در یې وړي."

ماښام ورور مې راته وویل: "فرازه، سبا ته او ځانګه لاړ شئ میرویس کاکا کره، نازنین وایي ځانګه مې یادیږي."

ما ورته وویل وروره د خولې نه دې قربان شم زما هم نازنین یادیږي وبه یې ګورم

د نازنین اصل کې زه یادیږم بهانه ځانګه کوي

ورور مې وخندل او راته یې وویل: "نور نه پوهېږم چې ته یې یادیږې که ځانګه، خو که ستا خبره وي، قدم به هم رانه کینږدي، ځکه چې د شرم په نوم هم څه شته."

ما وویل: "وروره، دا کارونه ستاسو د زمانې وو، هسې زمونږ ازار مه اخله."

ورور مې وویل: "بچی، لکه ډېولو ته دې زړه شوی."

ما وویل: "نه وروره، چې هر څه ته وایي، هماغسې کوم. ته به سهار ویده یې، مونږ به د میرویس کاکا سر ته ناست یو. غم مه کوه."

بیا له وروره مې خپلې کوټې ته روان شوم.

ځانګه راپسې راغله، راته یې وویل: "فرازه وروره، مونږ خو څه اخستي هم نه دي. نازنین ته تش لاس به ځو."

ما ورته وویل: "خورجانې، هر څه چې دې اخستل، ښار کې به یې واخلو. بیا به د نازنین کره لاړ شو. ته د دې شیانو فکر مه کوه."

ځانګې وویل: "وروره، ته نازنین وریندار ته زنګ ووهه، خبرې ورسره وکړم. زما هم یادیږي."

ما وویل: "سمه ده، خو ډېرې خبرې به نه کوي. او سبا ته خو هسې هم له خیر سره ځو."

ما زرغونې ته زنګ ووهه: "سلام زرغونې، څنګه یې؟ کور کې ټول ښه دي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې وويل: "شکر دی، ټول ښه دي. تاسو څنګه یاست؟"

نازنین چغه کړه: "زه هم ښه یم! ځانګه څنګه ده؟ او زه به ستا خوښه شم؟ ولې ماته زنګ نه وهې چې زرغونې ته زنګ وهې!"

"فرازه، ګوره دا زرغونه به راباندې مړه کړي. ماته زور راکوي چې ته دې سره خبرې کوې."

ما وویل: "نازنین، اول خو مې سلام قبول کړه."

غبږ یې وکړ: "نه یې منم، اول دې زما پوښتنه ونکړه، اوس یې وایې!"

ما وویل: "د غم لورې، زما خبره خو واوره، بیا ځواب راکه."

"ښه، وایه، غوږ یم."

ما وویل: "نازنین، ترڅو چې ستا پوهنتون نه وي خلاص شوی، نور تاسره خبرې نه کوم. نه غواړم چې ستا فکر د درسونو نه بل خواته واوړي. زه غواړم چې په ښه درجه له پوهنتون نه فارغه شې، دا به زما لپاره ویاړ وي."

"اوخ اوخ، د غم زویه، داسې اسانه دې! زه چې ستا غږ وانه ورم، په ما ورځ او شپه نه تېرېږي، او ته وایې نورې خبرې نه کوم؟"

ما وویل: "نه نازنین، ته باید خپلو درسونو ته فکر وکړې، خپل پوهنتون ته فکر وکړې، نه زما بې‌کاره خبرو ته."

نازنین وخندل او ویې ویل: "فرازه، کومه زده کړه چې ستا له خبرو کوم، هغه له پوهنتونه نه شم کولی!"

ما وویل: "نورې زده کړې د پوهنتون نه وکړه. اوس دې وروستی سمستر دی، منوګراف به هم لیکې، ډېر کارونه دې مخکې دي. هغې ته فکر وکړه او نورې خبرې پرېږده. ها، له ځانګې سره خبرې وکړه."

ما موبایل ځانګې ته ورکړ، هغوی خبرې وکړې. ځانګې نازنین او زرغونې ته وویل: "سبا درځم، څه راوړم؟" دواړو مننه وکړه، خو نازنین بیا وویل: "ماته لږ کوچ او پنیر راوړه."

ما پرې غږ وکړ: "د کوچو په ځای زه یم کنه!"

زرغونې په خندا شوه. نازنین وویل: "فرازه، که ته د خوږلو وای، نو اوس به مې وختې خوړلې وای، خو زه خیر، خوښه به دې شم."

ځانګې خبرې ورسره ختمې کړې او موبایل یې ماته راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین وویل: "فرازه، د منوګراف په لیکلو کې ستا مرستې ته اړتیا لرم. ماسره په موضوعاتو پیدا کولو کې مرسته کوې؟"

ما وویل: " ته موضوع واخله، زه به درسره پوره مرسته کوم."

زرغونې وویل: "فرازه، زه خو داسې نه منم، ماسره به هم مرسته کوې!"

ما وویل: "سمه ده، کله چې مو موضوعات واخیستل، بیا به ګورو. زه مو خدمت کې یم."

نازنین وویل: "فرازه، د څومره وخت لپاره راځې؟"

ما وویل: "صرف د یوې ورځې لپاره. ورور مې وایي چې خسر کره به نه ډېر ځې او نه به شپې کوې."

"اوخ، د یوې ورځې لپاره بیا هیڅ مه راځه. که راځې، پوره شل ورځې یا میاشت لپاره راشه، ترڅو چې څانګه دلته وي، ته به هم یې."

ما وخندل: "سمه ده، زه به مې مور او ورور سره خبره شریکه کړم. ورته به ووایم چې نازنین وایي جامې او بسترې دې راوړه، نور ماسره اوسه."

نازنین وویل: "پام کوه، د غم زو، اوس مې لکه شرموي. هغوي ته مه وایه!"

ما وویل: "سمه ده، صرف د یوې ورځې په خاطر درځم."

ویل یې: "نه، دوه ورځې! زه دې خپلو همصنفیانو ته معرفي کوم. هغوی هره ورځ راته وایي چې نامزاد دې موږ ته وښایه، چې وي، ګورو."

ما وویل: "سمه ده، عکسونه مې ورته وښایه."

ویل یې: "عکسونه نه مني، وایي چې دلته به یې راوړې، چې مخامخ یې وګورو."

ما وویل: "سمه ده، شپه ناوخته ده، نور به ویده شو. سبا به هلته خبرې وکړو."

په همدې مو خدای پاماني وکړه

سهار شو، چای مو وڅښل، ټول ناست وو. ما ورور ته وویل: "وروره، څو شپې وکم؟"

ورور مې وویل: "شپې د څه لپاره؟ لاړ شه، څانګه ورسوه او بیرته راشه."

ما وویل: "وروره، نو څانګه به چا سره راځي؟ زه به هلته یم، دا به بیرته راوړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې مور ته وویل: "دې دله ته بستر وتړه، چې همالته پرېوزي، دا خو په شرم نه دی."

ما وویل: "موري، یو څلور جوړه جامې او هغه چمپر مې هم کېږده، هلته یخ ډېر وي."

ورور مې لاس وکړ، د سټ نه یې ونیولم: "ته په سړیتوب نه پوهېږې، ته وخل غواړې!"

ما وخندل: "وروره، هسې تا تنګوم. زه چېرته پاتې کېږم؟ که ته راته ووایې چې لاړ شه، میاشت تېره کړه، نو والله که د دوه ورځو نه زیات تېر کم. زه هم پوهېږم چې شرم دی."

ورور مې په سټ زور وکړ: "خا، ستا نیت دې چې دوه ورځې تېري کړي!"

ما وویل: "نه، هسې مثال مې درکړ. که اجازه راکوي، تېری به یې کم."

ورور مې وویل: "نه، مازدیګر بیرته راشه."

ما وویل: "سمه ده، اوس مې پرېږده، چې سټ دې راته خوږ کړ."

بس حرکت مو وکړ. څانګې له کور نه هم یو څه واخیستل، ښار کې یې هم د زرغونې، نازنین او د نازنین دواړو خورګانو ته سوغاتونه واخیستل، او روان شوو.

نازنین زنګ ووهه: "فرازه، حرکت مو کړی؟"

ما وویل: "هو، اوس مو حرکت وکړ. تر غرمې در رسېږو."

نازنین وویل: "سمه ده، تر هغې زه او زرغونه هم له پوهنتونه راځو."

ما وویل: "سمه ده." موبایل مې بند کړ.

لنډه دا چې د نازنین کره ورسېدو. د نازنین وړو خورګانو دروازه خلاصه کړه، یوه په منډه شوه او چغې یې کړې: "لالا راغی!"

ټول مو مخې ته ووتل، ټولو ستړي مه شي وکړه، نازنین پټه شوه.

ما د نازنین مور ته وویل: "مورجانې، زه ځم حجرې ته. ستړی شوی یم، یوه شېبه ارام کوم."

د نازنین مور وویل: "زویه، غرمه ده، اول ډوډۍ وخوره، بیا ارام وکړه."

دننه د راتلو یې وویل، ننوتم، شا او خوا مې کتل چې چیرته به نازنین ووینم. لاړم کوټې ته، زرغونه راغله، خوا کې مې کیناسته. څانګه لاړه د نازنین خواته. د نازنین مور بهر ووتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما زرغونې ته وویل: "هغه بل مصیبت مې ونه کتل، چیرته ده؟"

زرغونې وخندل: "هغه شرمېدله، د کورنی نه، ځکه درنه پټه شوه."

ما وخندل: "توبه! هغې کې هم شرم شته!"

زرغونې وویل: "دا راته ووایه، چې ماته دې څه راوړې دي؟"

ما وویل: "هیڅ! تاسو ښانگه غوښتي وه، هغې هر څه راوړي درته. هغې نه پوښتنه وکړه، هر څه هغې اخستي. زه په دې شیانو څه پوهېږم؟ وړوکی ماشوم یم."

زرغونې وخندل: "دا ماشوم به ستا په شان وي! کال ته به دې اولادونه گرځي، او وایې ماشوم یم."

ما وویل: "نو تاته ولې زور درکوي؟ که غواړي چې ستا ماشومان هم وگرځي، غم دې وکړم؟"

زرغونې وویل: "زما دې توبه وي! همدا ماته ډېره ده چې ستاسو ماشومان قرار کم."

په همدې وخت کې د نازنین مور راغله او زرغونې ته یې وویل: "لوري، ته لاړه شه، نازنین سره کومک شه، چې ډوډۍ تیاره کړي. فراز جان به وږی شوی وي."

زرغونه پاځېده، ما ورته وویل: "چېرته ځې؟ ماشومان به څوک قراروي؟"

زرغونه په خندا شوه: "رازم!"

ډوډۍ یې راوړه، ومو خوړه، زه لاړم حجرې ته، پرېوتم. نازنین ته مې میسج وکړ:

"زه د دنیا د هغه سر نه ستا لپاره راغلم، ته پټه شوې. زه هم مازدیگر بیرته ځم."

نازنین وویل: "داسې بد مه کوه! درځم خواته دې، مور نه اجازه اخلم. ورته وایم چې ستړي مه شي ورکوم."

ما وویل: "ضرورت نشته، مه راځه. زه خو درته معلوم یم."

ویل یې: "ته او خدای، که داسې کوې! خیر دی، مه زه! زه به ټوله شپه درسره کینم. اوس راته ښښنه وکړه، شرم دې خو ستړي مه شي اوس خامخا درکوم."

ما وویل: "سمه ده، زه به په طمعه یم."

کتل مې، نازنین، زرغونه، او ښانگه راغلل. د نازنین په لاس کې د شربت گلاس و، زرغونه او ښانگه پرې خندل، نازنین د شرمېدو تمثیل کاوه. راغله او په غلي آواز کې یې وویل: "فرازه، ستړی مه شې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي پرې وخندل. ما وويل: "نازنين، خوله دې خوږېږي، خو اواز دې نه راځي."

کلاس يې راکړ او ويې ويل: "ستړې مه شې."

ما وويل: "خواره مه شې، ته ستړې مه شې. مور دې څنګه وه؟ کور کې ټول خير و؟"

نازنين وويل: "بس که نور، د غم زويه، دوی را پورې خندوي."

ما وويل: "سمه ده، دا شربت پخپلو لاسونو راکه!" مخ يې واړاوه او منډه يې کړه.

زرغونه يوه شېبه ولاړه وه. په دې وخت کې مېرويس کاکا چې چيرته تللی و، هم راغی. ستړی مه شي مو وکړه، ويې ويل: "دلته ولې ناست يې؟ راځه کور ته."

ما وويل: "ته نه وې، او زرغونه دې په خپلو کارونو کې مصروفه وه، ځکه زه دلته کښېنستم."

لنډه دا چې شپه شوه، ډوډۍ مو وخوړه. د نازنين دواړه وړې خويندې، حسنا او صدف، مې خوا کې ناستې وې. خبرې مو کولې. راته يې ويل: "لالا، مور ته به سبا چکر راکوې؟" ما وويل: "سمه ده، مور دربواړه به چکر ته لاړ شو، نور به هيڅوک نه وړو." انجونې خوشاله شوې، خپلې مور ته يې وويل: "مورجانې، مور سبا د لالا سره چکر ته ځو."

هغې ورته وويل: "سمه ده، لاړ شئ. سبا به ښه وي."

ناست وو، شپه ناوخته شوه. د نازنين پلار وويل: "تاسو خبرې کوئ، زه ويده کېږم."

ما وويل: "زه به هم لاړ شم حجرې ته او ويده شم."

هغه وويل: "نه، هغه کوټه تشه ده د خوب لپاره، هلته ويده شه. حجرې ته مه ځه."

زه هم پاتې شوم. زرغونې راته ځای جوړ کړ. صدف او حسنا هم راسره شول. لاړم کوټې ته، ما دې دواړو ته وويل: "تاسو هم لاړ شئ ويده شئ، چې سبا چکر ته ځو."

هغوې وويل: "سبا د غرمې نه وروسته ځو، چې له مکتب نه راشو.

ما وويل: "سمه ده."

هغه دواړه لاړلې، زه پرېوتم. نازنين ته مې ميسج وکړ: "زه دې په طمعه يم."

ويې ويل: "سمه ده، ناوخته درځم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وخاندل او ورته مې وویل ګراني میرمني زه ویده کیږم او ته هم خه ارامه خوب وکړه ما ته تنګولي ټوکي مې کولي رانه شي

میسج یې وکړ ولې فرازه درنه شم؟

ما وویل نازنین اوس په دې خبرو ته نه پوهیږې خو یو وخت بیا داسي رازي چې دا کارونه درته پیغور جوړیږي همدا خوږه ځانګه چې اوس دربانديې ګرانه ده سبا درته ددې خبرې خو پریږده چې ددې موبایل د خبرو هم پیغور درکوې

همدا خوږه زرغونه یوه ورځ ددې کارونو پیغور درکوې

زه نه غواړم چې له واده نه وروسته تا راته څوک خفه یا ددې خبرو پیغور درکړې زمونږ ټولنه کې دددې خبرو ډیر پیغورونه دي

زه چې ځانګي ته زنګ وهم او د هغې نه ستا معلومات کوم په دې خاطر چې زما فامیل په دې پوه نه شي چې زه تاسره خبرې کوم سبا پیغور درنکړي

نازنین وویل رادې کړي زه به هم ورته ووایم چې څه پردې خو نه وو خپل خاوند مې وو چې خبرې مې کول

ما وویل نه نازنین زه نه غواړم چې تاته داسي خبرې وشي

نوره پوه شه هرڅه چې وې د ځانګي په موبایل به یې وایو

سمه ده خو یوځل غواړم چې دې وګورم درځم

ما ورته وویل نه مه رازه خدای مکړه د کورنې کوم کس دې ونه ګوري

که داسي وشول نو دا کور زمانه پاتي کیږي لک پام کوه

خه سمه ده زه ځانګه او زرغونه درزو یوه شیبه به کینو

ما وویل زه دروازه بندوم رانه شي سبا پوهنتون کې سره ګورو دلته به ډیر اخطیاط کوي

هو زه له تانه نه خفه کیږم چې ته کور کې مانه پټیږي دا خه کار کوي زه تاسره هسي ټوکي کوم چې دا دې او هغه دې

نازنین ډیره خوشاله شوه او په پیغام کې یې ډیري دعاګاني ولیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې اوبه دې کوټه کې شته چې دشپې تږې نه شي

ما وویل هو شته اوس ارام وکړه چې سبا به پوهنتون ته ځو

خدای پاماني مو وکړه او ویده شوم

سهار وختي راپسي صدف راغله لالا پاسي چای تیار دې چا وڅښه

پاسیدم کوټه کې تشناب وو مخ مې پرمینځه لاړم چای مو وڅښو زرغونې وویل فرازه مونږ ځو پوهنتون ته چې ته چیرته لاړ نه شې

ما وویل ما دې دواړو وړو ګوډیانو سره وعده کړې چې دوې چکر ته بیا یم تر مازیګره خو همدلته یم بیا به وروسته ګورم

زرغونې وویل سمه ده که زړه دې تنګ شو ښار پله چکر ووهه

ما ویل سمه ده زرغونه لاړه زه ناست وم یو ساعت وروسته زه هم ووتم ما ویل زم ورور مې هم وګورم بیا زمه کورته نه یې شم بیا کتلې

ځانګې وویل ورور ته ووایه چې کله کله چکر وهه زه به یې ګورم

ما ویل سمه ده ورته به ووایم

ووتم پیاده روان وم شور د خلکو ګڼه ګڼو وه ډیر ښایسته ماحول وو یو ساعت وروسته راته نازنین میسج وکړو

سلام ګرانه چیرته یې

ما ویل بس ستا د پوهنتون شا او خوا کې یم

ویل یې سمه ده همداسې راشه زه دې په طمعه یم

ما ویل سمه ده درزم

ورو ورو روان وم لاړم ورسیدم میسج مې وکړ

ددوی تفریح ساعت وو نازنین ووتله لاس یې په لاس کې راکړو او پوهنتون ته دننه شولو

زرغونې دې او ماګرې یې یو سیټ ته چمن کې ولاړې وې نازنین د هغوی په طرف روان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د نازنین نه لاس خوشي کړ او بیرته مخ په شا روان شولم

نازنین مې مخې ته شوه

څه کوي اوس مې شرموي هغه دې ټول درته ګوري رازه

ما ویل نازنین دا خه کار نه دې بس د لرې نه یې ولیدم دا بس دې نور څم

نازنین وویل خیر دې فرازه زما په خاطر

زړه مې غټ کړو او روان شوم

لاړو سلام مې وکړو ټولو سترې مه شي وکړه ما د ټولو نه مننه وکړه او نازنین ته مې وویل

ماشاءالله نازنین څومره ښایسته ملګري لرې څومره مینه ناکې دې خوشاله شوم چې زه دې ورسره معریفې کړم او ددوي په لیدلو ډیر زیاد خوښ شوم د هغوې نه مې هم مننه وکړه او ورته مې وویل تاسې صبر چې زه تاسوته د کانتین نه څه راوړم

یوه پکې ډیره شوخه وه ویل یې لالا جانه په کانتین ځان مه خلاصوه مونږ ته به سم دعوت راکوي

ما ورته وویل په سر سترګو اوس راسره څې دلته دعوت قبلوي که راسره زې ننګرهار ته هلته درته مهماني برابره کړم

ویل یې نه اوس خو نه کیږي خو مونږ بیا نازنین ته وایو

ما وویل یوه خبره وکم دغه څو میاشتې وروسته د نازنین واده دې په هغې کې به مو دعوت کم ټول پوهنتون

ټولو وخاندل خا دا چلونه دې چیرته زده کړي خلاصیدي نه شي یو تاوان خو درکو

ما ویل ماته تاوان نه راکوي نازنین ته یې ورکوي ځکه دا زمونږ شریکه تاوان دې زما هرڅه د نازنین دې

نازنین وویل نو بیا رازي چې دا تاوان همدا نن وکړو

ما وویل د غم لوري ته باید زما په تاوان خفه شي ته ما نور هم تاواني کوي

دې وخت کې تفریح خلاصه شوه دوي تلل صنف ته خداې پاماني یې کوله ما نازنین ته زر افغانۍ ورکړل چې په دې ملګرو دې څه مشروبات وڅښه نور ترینه روان شوم د ورور خواته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور خواته مې لاړم هغه مې وليدو ورته مې وويل ځانګه هم راغلې نازنين دې کره ده وخت ناوخت يې خواته زه

د ورور نه مې روان شوم بيرته نازنين دې کره لاړم غرمه وه ډوډۍ مو وخوړه صدف او حسنا وويل لالا مونږ چکر ته اوس يوسه

ما وويل اوس خو غرمه ده لږ ناوخته به لاړ شو چې چکر خوند وکړي

ويل يې سمه ده لالا

لاړل نازنين ته يې وويل مونږ د لالا سره ځو چکر ته نازنين زرغونې ته وويل ته لاړه شه فراز ته ووايه چې مونږ هم يوځه ځانګه به هم چکر ووهي

کتل مې زرغونه راغله د نازنين مور هم ناسته وه ويل يې فرازه مونږ هم يوځه نازنين به د ښار سيل هم وکړي او ساعت به يې هم تير شي

ما ويل زرغونې تاسو بيا خپله لاړې شي اوس ما حسنا او صدف سره وعده کړې چې صرف مونږ درېواړه زو چکر ته زه نور څوک دې چکر کې نه شم ځايولي زرغونې وويل اوس خو به مونږ خامخا زو که ستا زړه وي کنه

ما ويل لاړې شي خامخا لاړې شي اوس ځې سبا ځې که بله ورځ خو زه مو له ځانه سره نه وړم

د نازنين مورته يې وويل امه ته وګوره دې فراز ته مونږ نه وړي

هغې ورته وويل تاسو خير دې بله ورځ لاړې شي

ما ورته وويل الله څنګه شوي مورجاني هم پکه کړي

زرغونه د غوصې نه روانه شوه لاړه

کتل مې ځانګه راغله ويل يې وروره مونږ هم چکر ته يوځه ما کابل کتلې نه دې ساعت به مې تير شي

ما ورته وويل شيطانې اوس تا شروع وکړه

سمه ده ورور ته به دې ووايم چې سبا راشي او تاسو چکر ته يوسي

ځانګه هم لاړه نازنين ميسج وکړو د غم زويه دا څه ضد دې نيولي پريږده چې مونږ هم درسره لاړو شو چکر ووهو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل نه یې منم نور تر واده پوري زما او ستا د نږدیوالې اړیکه ختمه نه به مې ګوري نه دې ګورم

زه د غم بچیه دا اوس کومه خبره ده زه به دې خوښه شم

ما ویل سمه ده خوښه مې شه خو له واده نه وروسته

لنډه دا چې مازیګر شو صدف او حسنا مې مخکې کړل زرغونې وویل چکر ته ونه رسیږي بیرته تور مخونه کور ته راشي

ما ویل ستاسو ښیرا کار نه کوي نور ترینه لاړو

قرغه کې مو څه چکري ووهل کینښتیو کې کیناسو ځانګوګانو کې مو چکري ووهل ډوډۍ مو هملته وخوړه

صدف او حسنا ډیري خوشاله وو ناوخته شو ورته مې وویل ځې چې نور کورته لاړ شو

هغوې هم روان شول تیر ماښام کورته ورسیدو

د رسیدو سره زرغونې د صدف او حسنا سره شروع وکړه چیرته تللي وي څه مو وکړل څه مو وخوړل

صدف ورته ټوله کیسه وکړه

زرغونې وویل هله ځې لاړي شي خپلې کوټې ته که تاسو هم رانه ډوډۍ وخوړه نو دغه دې

امه زه خو فراز دې ته ډوډۍ نه ورکوم دوي هرڅه تخته کړي ماړه دې

ما ویل هو ډوډۍ نه خورو خو لک چای راوړه

زرغونې وویل که تا رانه چای کوټ هم وکړو نو دغه دې

چکر ته دې یونوړو اوس چای هم نشته

ما وویل سمه ده غږ مې وکړو حسنا ته لاړه شه لالا دې جار شي یوه پیاله چای راوړه

د نازنین مور وخاندل زرغونې لوري خیر دې که چکر ته یې یونوړي چای ورته راوړه

لنډه دا چې شپه مو جوړه کړه لاړم کوټې ته موبایل مې بند کړو او قراري ویده شوم

یو وخت کې مې کټل د دروازي کړپ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما یوه سترګه په قراره خلاصه کړه، دروازه خلاصه شوه، نازنین، څانګه، او زرغونه راغلل. غلي، غلي یې بالښتونه واخیستل، زرغونې او نازنین راباندې شروع وکړه، څلور بالښتونه یې راباندې وویشتلم.

ژر پاڅېدم، د چغې وهلو تمثیل مې وکړ، خو چې خوله مې خلاصه کړه، نازنین ژر راته خوله باندې لاس کېښود او په غلې یې وویل: "موږ یو."

ما وویل: "که اوس مې زړه چاودلې وای! څوک داسې کوي؟ ما ویل که راباندې پیریانو حمله وکړې ، او تاسو دلته څه کوئ؟"

هغوی وویل: "بیا ځانته چکر ته ځې!" نازنین زرغونې ته وویل: "شروع شه او سم یې وغربوه چې بیا زموږ نه بغیر چیرته لاړ نشي!"

زرغونې یو دوه بالښتونه نور ووهلم. ما وویل: "قسم دې، اوس ټول کور په سر اخلم او چغې وهم!"

نازنین او زرغونې له خندا خپلې کولمې کلکې ونیولې او کیناستې. نازنین وویل: "فرازه، ښه مو وډار کړې! یاد دې وي چې بیا داسې ونه کړې!"

ما وویل: "سمه ده، نور به داسې نه کوم. اوس لاړ شئ چې څوک راباندې را نه شي."

نازنین وویل: "ټول ویده دي. موږ راغلي یو چې پچکان لوبه وکړو، زړه مو تنګ دی."

ما وویل: "تخته د پچکانو لورګانو! دا وخت د لوبو دی؟ تاسو کې خو شرم نشته، ما به وشرموي."

نازنین وویل: "لوبه کوي که بیا شروع وکړو؟"

ما وویل: "سمه ده، لوبه کوو، خو پچکان نه، لډو او بل خبرې به نه کوئ."

نازنین وویل: "لډو نه، پچکان."

ما وویل: "سمه ده، زه او زرغونه، ته او څانګه."

نازنین وویل: "خاوند زما یې او حق هم زما دی چې تاسره زه اوسم."

له ناکامه مې ورته وویل: "سمه ده، خو خبرې به نه کوئ."

لوبه مو شروع کړه، ان درې بجې شوې. اخېر مې وویل: "هله، نور لاړ شئ، ماته خوب راغلی دی."

هغوی وویل: "خوب، خوب نشته، تر اذانونو به کینو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "سمه ده، یوه دقیقه وخت راکړئ، تشناب ته ځم."

څنګه چې دروازې ته ورسیدم، ما ورته وویل: "تاسو دلته ویده شئ، زه لاړم حجرې ته."

نازنین د لاس په اشاره وویل: "سمه ده، راځه، موږ ځو."

زه بېرته راغلم، ځي یې سم کړ، او هغوي لاړل. زه هم ویده شوم. سهار شو، پاڅېدم، چای تیار وو، چای مې وڅښل، او نور مې د نازنین مور او پلار څخه رخصت واخیست. د نازنین مور او پلار ډېر ټینګار وکړ، ما ورته وویل: "ماته د دوه شپو امر شوی وو، او هغه پوره شوې. بیا، هسې هم څانګې پسې راځم."

همدې سره مې ترېنه رخصت واخیست او روان شوم. څانګې وویل: "وروره، زنګ وهه، راته درپسي. بیا به خفه کیږم، غږ به دې اورم."

ما وویل: "خورجانې، زنګ هم وهم او ورور به دې هم راشي پوښتنې ته، هغه به ګوري، نه به خفه کېږي."

روان شوم، زرغونې وویل: "فرازه، سم موټر کې کینه، خدای مکړه چې څه ونه شي." ما وویل: "سمه ده."

هلوې ته راغلم، موټر کې کښېناستم. نازنین میسج وکړ: "د غم ځویه، لږ خو به دې صبر کړی وای چې لیدلې مې وای."

ما ځواب ورکړ: "ټوله شپه مو سره ولیدل، هماغه بس دي کنه؟"

"ښه، په ځان پام کوه، فرازه! خدای مکړه که څه دربانديې وشول، نو زه به مړه شم."

ما وویل: "د الله پام دې وي، نازنین! او څه چې په تقدیر کې وي، هغه هسې هم نه بدلېږي. ته هم په ځان پام کوه او درسونه دې ووایه."

کور ته ورسیدم، د کورنۍ غړي مې ناست وو، خبرې یې کولې. ټولو راته ستړي مه شي وویل. مور مې له سر نه ښکل کړم، زه هم کښېناستم. مور مې وویل: "فرازه زویه، ستا د واده خبرې کوو چې نور په کراره کراره ځانونه تیار کړو، ځکه وخت دومره نه دی، اېله تر هغې پورې ځان راټول کړو."

ما وویل: "سمه ده، مورې! اول به د کوټې جوړولو غم وکړو، چې ټولو کې مشکل کار همدا دی."

ویل یې: "سمه ده زویه، هو، دا کار ډېر وخت نیسي، باید اول د دې غم وخورو."

ورور مې وویل: "غم مه کوه! که کوټه دې جوړه نه وه، غوجله شته، هغه به درته جوړه کړو."

زه غلی شوم، پوه شوم چې سړی په غوصه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو مو د واده تیارۍ پیل کړې. د کوټې لپاره فرش، توشکونه، بالښتونه، بړستنې، او د واده جامې جوړې شوې. دوه اوني مو د لرگیو لپاره په ډېره کې ووهل چې لک وچ شي.

ځانونه مو تیار کړل. د نازنین د فراغت وخت هم راغی، او ماته یې د پوهنتون ته د راتلو بلنه راکړه. فراغت هم تېر شو. یوه نیمه هفته وروسته مې مور او ورور لاړل نازنین دې کره د واده غوښتلو لپاره.

مور مې ورته وویل: "مونږ ځانونه تیار کړي، ستاسو څنگه خوښه ده؟"

هغوي وویل: "نور مونږ کوم وړاندیز یا اعتراض نه لرو، هر وخت چې ستاسو خوښه وي، نېټه وټاکئ."

مور مې وویل: "نازنین چې هر ډول لباسونه او جامې کول غواړي، خپله دې خوښه کړي. سره زر دې هم خپله ځانته خوښ کړي. دلته چې کوم څه په کار دي، د واده نه درې ورځې وړاندې به یې راوړو."

لنډه دا چې د واده نېټه یې پنځلس ورځې وروسته وټاکله.

د شپې نازنین زنگ وواهه.

"سلام، فرازه! څنگه یې؟ او ولې رانغلې د مورجانې او ورورجانې سره؟"

ما وویل: "که زه درغلی وای، نو کور ته به څوک پاتې وای؟"

ما ورنه پوښتنه وکړه: "نازنین، زرغونه راغلې که په خپل کور کې ده؟"

ویل یې: "راغلې ده! دا خو زما ځان دی، بې له دې زما وخت چیرته تېرېږي؟ زنگ مې ورته وهلی و چې راشه، د واده لپاره لباسونه اخلو، چې راسره مرسته وکړي."

په دې وخت کې زرغونې وویل: "سلام، فرازه! مننه چې پوښتنه دې وکړه."

ما وویل: "د مننې وړ نه ده. دې لپاره مې پوښتنه وکړه چې زما د نازنین زړه تنگ نه شي یوازې."

نازنین وویل: "ته پوهېږې، فرازه، دومره خوشاله یم، وایم چې د خوشالۍ نه مړه نه شم!"

ما مخکې زرغونې ته هم ویلي و: "هسې نه چې څه راباندې وشي، ځکه ډېرې خوشالۍ ښه نه وي."

بیا مې زرغونې ته وویل: "که په ما څه وشو، نو ستا دې قسم وي، که فراز یوازې پرېږدې! زما مینه به ته ورته ورکوې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: "نازنین، دا منسوخه خوله دې بنده کړه، داسې خبرې مه کوه. ته څه وایې؟ که په تا څه وشي، زه به ژوندی پاتې شم؟"

نازنین وخندل او دا ټپه یې وویل:

"هیڅوک د چا له غمه نه مري

خوږه فرازه، چا دروغ ویلي دینه."

ما ورته وویل:

"که لیونی درپسې نه شوم،

نو سودایي به خامخا درپسې شمه."

بیا مې ورته دا سندره زمزمه کړه:

"ستا عمر که کم وي، دا زما عمر دې ستا شي،

تاته چې راځي، هغه مرګی دې ماته راشي."

ما چې دا بیت وویل، نازنین خاموشه شوه. زرغونې غبږ وکړ: "لیونې، اوس د ژړا وخت دی چې ته ژاړې."

نازنین په ژړا کې وویل: "فرازه، وایه دا سندره نوره هم."

ما بل بیت ورته ترنم کړ:

"ستا خمارو سترګو کې زه دا اوښکې لیدی نه شم،

ستا په نوراني رُخسار غم کړاو لیدی نه شم.

ته چې پکې نه یې، ګراني، ورانه دې دنیا شي،

تاته چې راځي، هغه مرګی دې ماته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې زما ځان، او ځان له ځانه بېلېدی نه شي،

ته يې زما روح، او روح خو بې له تنه ژوند کوی نه شي.

تا چې خفه وينم، ښاد به څنګه زړه زما شي؟

تاته چې راځي، هغه مرګی دې ماته راشي."

نازنين او زرغونه خاموشې وې، غوږ يې نيولی و. ما بيا شروع کړه:

"ما ته پاتې شوي نښانه د هغه چا نه يې،

سترګو کې غړيږي، ګراني، ډېره په ما ګرانه يې.

غواړمه له خدايه، که منظوره دا دعا شي،

تاته چې راځي، هغه مرګی دې ماته راشي."

دی سره مې وخندل او ومې ويل: "هههههه، د غم لوري، نوره ژړا پرېږده، خبرې وکړه، کنه ويده کېږم."

نازنين وويل: "فرازه، قسم دې، ستا دا غږ زما په زړه څه چل کوي. ته چې داسې شيان وايې، په زړه مې يو رقم درد راځي."

زرغونې وويل: "يو خو زه تاسو ليونو ليونۍ کړم. کله خندا او کله ژړا!" او بيا يې وخندل. نازنين ته يې وويل: "ګراني، په تا دې خدای هېڅ نه کوي، زه د دې ليوني دا ليونتوب نه شم زغملی. تاسو خپلو کې ښه جوړېږئ، زه نه غواړم چې ژوند مې عذاب شي."

نازنين وويل: "خوله دې سمه خوزوه، ماته که هرڅه وايې، وايه، خو د فراز په اړه به څه نه وايې."

مونږ درېواړو وخندل. ما ورته وويل: "شپه ناوخته ده، نور به ويده شو."

نازنين وويل: "د غم زويه، په دې سندره دې زما ټول خوبونه يوړل، خوب راته اوس نه راځي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل: "سمه ده، زرغونه درسره شته، تاسو خپلو کې خبرې وکړئ، او زه به ويده شم، خه شپه ولري."

موبايل مې بند کړ او ويده شوم. خوب مې وليدو، او په خوب کې مې خپل واده وليد.

واده ته درې ورځې پاتې وې. زه، ورور مې، تره زوی مې، ماما زوی، او دوه، درې نور خپلوان خرڅه اخلو. نازنين دې کره زو هلته چې ورسيدو، د نازنين کورنۍ زموږ ډير قدر او عزت وکړ. نازنين راغله، مونږ ټولو سره يې "ستړی مه شي" وکړه. ماته يې د سر په اشاره کې ستړی مه شي راکړه او بيرته لاړه.

ورور مې د نازنين پلار ته وويل: "ډګروال صيب، دا خرڅه وګورئ، که کمه وي يا څه زموږ نه هېر شوي وي، نو موږ تيار همدلته يو، را ته ووايئ چې درته يې راوړو، ځکه زموږ ځای لري، او وخت کم دی. موږ بيا هلته واده سره بنديږو."

د نازنين پلار وويل: "زويه، هيڅ به نه کميږي، او که کم شول، زه يې خپله اخلم. تاسو فکر مه کوئ، تاسو مو هلته خپل د واده مراسم ښه په ارامي سره ختم کړئ."

ورور مې وويل: "مننه، ډګروال صيب، ژوندی اوسی. رازو د ناوی وړلو خبرې ته، موږ کوم وخت کې ناوی پسې راشو؟"

ډګروال صيب وويل: "خوښه ستاسو ده، کوم وخت چې تاسو ته ښه ښکاري."

ورور مې وويل: "ډګروال صيب، که چيرې وليمه وکړو، تاسو موږ ته ناوی يوه ورځ مخکې راکړئ، ځکه که موږ د واده په ورځ راشو، نو هلته زموږ پروګرام واده پاتې کيږي. موږ به يوه ورځ مخکې ناوی يو، څو او په سبا به يې هلته واده شروع کړو چې پروګرام مو په ارامي سره سرته ورسيږي."

د نازنين پلار وويل: "موږ کوم مشکل نه لرو، ستاسو امانت دې هر وخت راځي. موږ به خپل ځان تيار کړو."

د غرمې ډوډۍ مو وخوړه، د لمونځ نه وروسته مو ترې رخصت واخيست او روان شو. کور ته ورسيدو، دلته په کلی کې مو د واده ترتيبات شروع کړل.

د واده نه يوه ورځ مخکې مو څلور مرسيديز موټر ونيول. کليوال، خپل خپلوان ټول سره يوځای شول او حرکت مو وکړ. د نازنين پلار ته مو زنګ وواهه چې "مونږ شپږ موټر خلک در روان يو، مونږ ته ډوډۍ اوساته."

لاړو، دولس بجې ورسيدو، ډوډۍ مو وخوړه، لمونځونه مو وکړل.

د نازنين پلار وويل: "نکاح دلته تړي يا هلته خپل کور کې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې ورته وویل: "د نکاح مراسم به هلته ونیسو."

ورور مې موټر کور ته دننه کړو. نازنین ته مې وویل: "مخکې سیټ کې کینه."

مشر ورور ته مې وویل: "موټر زه خپله چلوم، اوږده لاره ده، په احتیاط سره لاړ شو، دا هلکان دې څه پیښه ونه شي."

نازنین مې مخکې سیټ کې کینوله. زرغونه راغله او ویل یې: "زه هم تاسو سره یم."

ما وویل: "ته نورو موټرو کې کینه، دلته موټر کې یوازې زه او نازنین یو."

همداسې مو وکړل، د نازنین کورنۍ نه مو اجازه واخیسته. لاړم د نازنین مور ته مې وویل: "مورجاني، ژړه مه کوه، لاره ده، خدای مکړه څه پیښه ونه شي. بل که هر وخت دې یادیده، ته صرف زنګ ووهه، زه یې درته په دوه ساعتو کې رسوم."

خدای پاماني مو وکړه او روان شو.

د ښار د رش نه ووتلو، ما او نازنین په لاره کې ټوکې او ګپ لګول، په ارامه ارامه روان وو. د ماهي پر تر بیخه ښه په قرار راغلو.

ورور مې راته زنګ وواهه: "لکه تېز شه، چې هلته به د شپې لپاره هم څه تیارې کو ناوخته دې."

ما موټر غاړې ته ودراوه. هغوي چې ورسیدل، ما ورته وویل: "تاسو لاړ شئ، مونږ په قرار قرار درزو."

ورور مې غوصه شو: "مخکې شه، خره، ناوخته دې!"

بیا مو حرکت وکړ. ما خپل موبایل بند کړ.

دې وخت کې زرغونې نازنین ته زنګ وواهه او ورته یې وویل: "فراز، ته ووایه چې لکه تېز شه."

زما قهر راغی، او خپه مې سلیټر ته بنده کړه. د میټر ستنه مې یو سل او اتیاوو باندې ودروله. نازنین چغې کړې: "فراز، ورو شه، اوس به مو مړه کړي!"

ما چې نازنین ته وکتل، رنګ یې تک ژړ وو. په هماغه وخت کې نازنین چغه کړه: "فراز، مخې ته وګوره!"

چې ترڅو مې کتل، یو ګړس شو، او د نازنین دومره چغه مې واوریده چې "اخ، فراز، زړه مې..." نور په ځان پوه نه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه وايي ډير لک وخت وروسته مونږ په سرک کې دوړي او لوګي وليدل زما د زړه يو د درد غږ وواتو اخ نازنين

د رسيدو سره چې موټر بريک ونيوه ما د ليونو په شان د موټر نه ځان خطا کړو منډه مې کړه د موټر په شيشه مې لاسونه ولګول دروازي نه خلاصيدل

سرک غاړي ته مې ټيړه وکتله راوامي خيسته د موټر شيشه مې پري ووهله

هيڅ په خپل ځان نه پوهيدم دومره تيز ګزار مې وکړو چې شيشه ذري ذري شوه په شيشه ننوتم

نازنين خوري ګراني غږ وکړه

خلک د موټرو په دروازه لګيا ووي دروازي يې ورته ونړول

ما نازنين ته بيا چغه کړه خير دې غږ وکړه

د نازنين غږ نه وتو فراز يې وويل او اخيري سلګۍ يې ووهله ما چغې کړي چې هله نازنين ژوندۍ ده

خلکو دواړه ويستل شتاته موټرو ته يې په منډه کړل موټري بيرته مخ په کابل رواني شوي زه د نازنين سره موټر کې کيناستم او سبق مې شروع کړو د نازنين سپين مخ په وينو ککړ شوي وو سر يې په شيشه لګيدلي وو سينه يې هم لګيدلي وه د خولي او پوزي نه يې وينه راغلې وه

سر يې ما په خپله غيږه کې کيښود اوښکي مې رواني وي يو وخت مې د نازنين د مخ نه ويني پاکول چې لاس مې کيښود مخ يې يخ وو لاسونه مې وکتل لاسونه يې هم يخ وو کړيکه مې کړه اخ فرازه د نازنين نه خلاص شوي نازنين مړه شوه دي چغې سره د فراز کشر ورور فياض غوسه شوه دا څه بد کوي

ما په سلګو کې وويل نازنين مړه ده لاسونه اوجود يې يخ دي

نور په ځان پوه نه شوم کله مخ وخم کله ويښتان شکوم کله په ځان خوله لګوم

فياض د لاسونو نه ونيول زرغونې نه ده مړه قراره شه

د فراز مشر ورور صابر د نازنين پلار ته زنګ وهلې وو چې دغسي کارر شوي مونږ روان يو څهارصد بستر شفخاني ته راشه

هغوي ټوله کورني ميلمانه شفخاني مخي ته ولاړ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین وایې مونږ ډیر ژر شفخانې ته ورسیدو دوي مو دستي بیړنې خونې ته یوړل ډاکتران ټول شول فراز یې عملیات خانې ته یوړو نازنین چې وکتله ډاکترانو وویل الله دي وبښي شهیده شوي

دي سره په ځان پوهه نه شوم اوپه نازنین مې ځان خطا کړو یو چغه او کړیکې شوي یو قیامت جوړ شو ځانګه بې هوه شوه د نازنین مور پلار هغوي هم بې هوه شول د هر یو په مخ د اوښکو سیلابونه روان وو

د شفخانې کې نورو خلکو چې هم کتل په چغو چغو به یې ژړل ددوي ځوانې ته ددوي د واده جوړې ته چې په وینو کې لت پت شوي وو

ډاکتران د فراز نه تاو وو راغلل زمونږ خواته صابر ورته وویل ډاکتر صیب د فراز حال څنګه دې ژوندې دې که مړه

که مړ وي چې مونږ دواړه جنازې یوځو

ډاکتر وویل مونږ هیڅ نه شو ویلې بچ کونکې الله دې مونږ به خپله هڅه ووکو اوس د مړې او ددې ترمنځ هیڅ توپیر نشته

کیدای شي یوه ورځ داسې وي او کیداې شي چې میاشت پورې داسې وي

صابر د نازنین پلار ته وویل ډګروال صیب اوس څنګه کو

د نازنین پلار وویل د نازنین ګور او کفن دفن دا نور زمونږ کار دې

صابر وویل ډګروال صیب سمه ده چې خور لور چې ژوندۍ وي د میړه په کور وي خو چې مړه شي مړې یې پلارګنې په غاړه وي

زه تاته سوال کوم زارې کوم په پښو دې لویږم دا دواړه بدبخته خو په ژوند یوځای نه شول په مرګ به یې یو ځاې کړو د دواړو قبرونه به جوړه کړو د فراز هم معلومات نشته او دې سره په چغو شو

فرازه ملا دې راته ماته کړه

ډګروال صیب نازنین مونږ ته راکړه چې خپل کلي کې یې خاورو ته وسپارو فراز به یې هم څنګ کې خښ کړو مه یې جدا کوه

د نازنین پلار ومنله

وویل سمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه د نازنین سر ته ناسته ده حیرانه حیرانه ګوري په مخ یې اوښکي رواني دي مور یې راغله غاړي نه یې تاوه شوه او په سلګو شوه مورې نازنین

نازنین مونږ پریښودو مورې نازنین مړه شوه مورې زړه مې چوي نور زړه مې درد کوي

مور یې وویل لوري قراره شه د خدای نه به همدا منظوره دا به یې تقدیر کې لیکلي وو

مورې خو زه به مړه وای نه دوي

مورې فراز هم لا سترګې نه دي غړولي

مور یې وویل رازه لوري لک بیرون ووزه

څنګه هم خپل مخ او ځان وهي

فرازه وروره ته ولي لاړي ماته اوس هغه ناز چې تا راکو څوک راکوي

وه خدایه ما هم واخلې او بیا خپل ویښتانو ګې ګوتي واچوي او ځان ووهي

نازنین وریندار پاسي کنه زه هم مړه کیږم خیر دې سترګي خلاصي که

د فیاض هم اوښکي رواني وي زړه یې سلګۍ وهي خو په ظاهره یې ځان کلک کړي وي

صابر د نازنین پلار ته ووایې چې د نازنین جنازه به یوسو ایله دشپي ناوخته ورسیږو او سبا به یې ښاورو ته وسپارو

هلته ټول کلي کې غوغا او ویر ګډ وي د فراز مور باندي حمله راغلي وي هغه کلیوالو شفخاني ته وړي وي ټول کلی د غم په ټغر ناست وي

ټولي ښځي فراز دې کره وي د کلی ټولي انجوني چې نازنین یې لیدلي وه ورته ژاړي

یو خوا ځواني پیغلتوب او بل خوا ناویتوب د محشر ورځ وي

موټري ونیسي د نازنین جنازه روانه کړي

د فراز ماما او تره سره د تره زوي او فیاض پاتي شي

صابر فیاض ته ووای چې ته به سهر وختي ځان ورسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګه ژاړي وه خدايه زه اوس چيرته لاړه شم دلته مې ورور جان د مرګ سره مخ دې او هلته مې نازنين وريندار جنازه

زرغونه او ځانګه هم ورسره رواني شي د نازنين دې ټوله کورني خپل خپلوان ټول روان شي جنازي سره

صابر کلی ته زنګ ووهي چې نن مونږ سره کومک وکړي جنازه مو روانه کړي تاسو ميلمنو ته ځاينه جوړ کړي

ټولو کليوالو خپلي حجري جوړي کړي وي ډوډۍ ګاني يې تياري کړي وي چاى او اوبه يې امده کړي وو

نږدي ګاونډيانو يې کورونه خپل تش کړي وو او کلي کې نورو خپلوانو کره تللي وو مکمل انتظام شوي وو

جنازه کلی ته ورسيده او په نيمه شپه په کلی کې چغي کړيکي ژړاګاني ويرونه مخ ټکول سر شکول غوغا جوړه شوه

داسي يو قيامت جوړ شو چې د لرې لرې نه په توره شپه چاچې دوي پيژاندل ورسيدل

د فراض مور ناسته وه سپيني يې تختيدلي وو په مخ يې اوښکي رواني وي مړي مړي يې کتل

د نازنين خويندو ورنو او مور يې خپل ويښتان شکول

وه زما بدقسمتي لوري ځومره سختي دي تيري کړي اخير دې دا حال شو

فياض او صابر به کله يو په غيږه کې نيول او کله بل او اوښکي به يې رواني وي

په همدې چغو او ژړاګانو د سهار اذانونه وشول

ټولو لمونځونه وکړل انجونو سيپاري واخيستي او د نازنين سر ته يې سبقونه شروع کړل

د کلی هلکان تر لرې کليو پوري لاړل هر جومات کې يې علانونه وکړل او څه خلک هديري ته لاړل د قبر ويستلو لپاره

کليوالو د سهار چاى او ډوډۍ راوړه

ډوډۍ د چا تيريده د هريو په مخ اوښکي رواني وي زړونو يې سلګۍ وهلي

څه کم لس بجي شوي خلک ټول شول چې جنازه يوسي هديرې ته

بيا يو محشر جوړ شو کټونه مات شول تابوت مات شو زرغوني او ځانګي په تابوت لاسونه لږولي وو نه يې پريښودو د تابوت د پورته کولو سره دواړه بيهوشه شوي او په ځمکه ووليدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنازه وشوه نازنین یې خاورو ته وسپارله فیاض راغې مورته یې وویل زه ځم کابل ته

زرغونې او څانګې وویل مونږ هم ځو

زرغونې مور ته وویل مورې ماته اجازه راکړه چې لاړه شم څانګې سره فراز خواته

مور یې هیڅ نه شو ویلي او د څو کلیوالو سره فیاض زرغونې او څانګې هرکت وکړو

په ټوله لاره زرغونې او څانګي سګۍ وهل او ژړل یې روغتون ته ورسیدل پوښتنه یې وکړه فراز څنګه دې ډاکتران څه وایې

د فیاض تره زوي وویل ټوله شپه مو په دې انتظار سبا کړه او کتل مو چې فراز به سترګي وغړوي خو تراوسه یې هیڅ حرکت نه دې معلوم ډاکتران هم په تشویش کې دي هغوي مونږ ته څه نه وایې صرف دومره وایې دعا کوي

څانګه او زرغونه په دهلیز کې په ځمکه کیناستل سبق یې شروع کړو سترګي یې څه ژړا سري کړي وي څه ټوله شپه ناخوبي

فیاض ورته انرژی راوړه دواړو ته

دوي انکار وکړو او اوبه یې وغوښتل

فیاض ورته اوبه او د سر درد ګولۍ راوړل هغه یې وخوړل

مازیګر شو خو د فراز هوش کې راتللو هیڅ خبر ونه شو ماښام شو

دا چې د فراز دې ټول خپلوان د واده په خاطر ننګرهار ته تللي وو او نازنین د مرګ خبره شوه نو ټول د فراز دي کور کې وو همداسي د نازنین دې خپلوان هم د جنازي سره تللي وو دریمه یې تیروله نو هیڅ د خپلوانو کورونه نه وو چې دوي ورته تللي واي شپې تیرولو په خاطر

نو زرغونه او څانګه مجبور شول چې روغتون کې پاتې شي

د فیاض فکر شو د خپل ملګرو کورنو ته نو ملګرو ته یې زنګ ووهو ټول جریان یې تیر کړه او ورنه یې د بیسترو غوښتنه وکړه

د فیاض ملګرو لس دولس جوړه بیستره راوړه

څانګي او زرغونې یوه کمپله په ځمکه هواره کړه او بله یې په پښو واچوله دیوال ته یې تکیه ووهله

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه نیمي ته ورسیده دوي ویخ وو فیاض ورته ګرمه کافي راوړله هغه یې اوڅښله فیاض ورته وویل تاسي ویدي شي زه دلته ناست یم که څه خبره وه پاسوم مو

زرغونې او څانګي وویل زمونږ خوب نه رازي

د ټولو د سترګو نه خوبونه تختیدلي وو هیڅ چاته خوب نه ورتله

هلته کلیوالو د صابر سره ډیره مرسته وکړه هغه یې ټک کار ته نه پریښودو

ورته یې ویلي وو چې تاسو به کور کې اور نه بلوي هرڅه مونږ راوړو تاسو صرف خپلو فاتحي خلکو ته فکر وکړي

کور یې ودان اتا د میلمنو لاسونو وینځلو ته هم ولاړ وو

دلته شفخانه کې شپه په ویخه تیره شوه خو فراز هوش کې رانغې

ډاکترانو وویل صبر وکړي الله مهربانه دې دوه ورځې نور هم ګورو

ټول اوچي شونډې او سري سترګي ناست دې لس بجي شوي زرغونه خوب یوړه د څانګي په غیږه کې سر کیښود او په ځان یې روڅي کش کړه نیم ساعت به ویده وه چې چغه یې د خولي نه ووته فراز فراز په هوش راغې او پورته شوه لکه د لیونی په شان یې دهلیز کې منډه کړه

فیاض ونیوله او ورته په ژړا شو څانګي هم وژړل زرغونې صبر ولره خوب کې وي خوب دې ولیدو الله تعالی دې خوب رښتیا کړه

زرغونې سا او خوا وکتل بیرته راغله کیناسته

څانګي ته یې خپل خوب وویلو چې فراز هوش کې رازي مانه اوبه غواړي زه په منډه ځم چې ډاکترانو اواز وکړم

یا الله ته مې دا خوب رښتیا کړي نور مو مه دردوه د بل غم زور په مونږ کمزور کې پاتي نه دې خدایه که فراز دي راته خه کړو نو 50 روڅي په نهره نیسم

اوږي تږي دردیدلي ژړیدلي او الله ته په زارو دریمه شپه پري راغله

فیاض ورته وویل تاسو دواړه به یوسم زما د ملګري کور دې ارام به وکړي سهار به بیرته راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي ونه منله او پاتي شول

هلته يې په ګور کې غم جوړ دې هغه چې وايي مړي نشته او وير يې شته د هرساعت او هري ورځې په تيرودو يې په کورني کې غم ډيريږي

دا شپه هم تيره شوه هلته صابر غټ خيرات باندې کړ هغه سوداګاني چې د نازنين د واده لپاره اخستي وي ټول يې ورته په خيرات کې مصرف کړل خيرات خلاس شو ټول ميلمانه خپلو کورونو ته لاړل يوازي د نازنين دې کورني پاتي شوه چې صابر پري نښوده ويل يې دا جمعه به دلته په شريکه وکړو بيابه لاړ شي

د زرغونې کورني هم راغله خپل کور ته اول سيده راغلل رغوتون ته پوښتنه يې وکړه

فياض زرغونې او ځانګي ته وويل تاسو نور لاړي شي کورته چې هره خبره وه زه خبر درکوم ناخوبه شوي هستي دمه جوړه کړي

د زرغونې پلار وويل فياض بچيه ته هم لاړ شه زه به پاتي شم

فياض وويل نه کاکا زه هيڅ چيرته نه ځم

ځانګي وويل وروره زه هم نه ځم چې ترڅو فراز ورور په هوش نه وي راغلې

ځانګي وويل بس زه هم نه ځم

فياض هغوي مجبور کړل او لاړل

زرغونې خپل پلار او مور ته وويل پلاره موري اول دې خداى په فراز هيڅ نه کوي که چيرته هغه په هوش راغې او د نازنين نه خبر شو مړ به شي

زه ځمه د ځانګي سره روغتون ته او که فراز په هوش راغې نو زه کولي شم چې هغه په يو چل ارامه کړم هغه زما په هره خبره يقين کوي او موږ ډير بلد هم يو

ځانګه او زرغونه هم ماښام ناوخته روغتون ته روان شول د زرغونې مور ډوډۍ تياره کړي وه هغه يې هم يوړه

دشپې لس بجي شوي چې د ډاکترانو چغې شوي فراز په هوش راغې ټولو منډه کړه زرغونه په ډيري تيزي سره په کوټه ننوته ډاکترانو حيساره کړه چې اوس نه شي تللي

زرغونې وويل خير دي ما پريږدي ماچي وګوري هغه خه کيږي هغه په ما عتبار لري

ډاکترانو وويل خير د هغې په مخکي به د حادثي په اړه هيڅ نه وايې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه لاړه د فراز سر یې په خپل غیږه کې ونیولو

فرازه سترگي خلاصي که زه یم زرغونه

فراز خبري نه شي کولي زرغوني ته گوري په ډیر زور سترگي خلاصي کړي او بیرته بندې شي

فیاض کور ته زنگ وهي چې ورور مې په هوش راغې هلته د نازنین د غمه څوک خوشالي هم نه شي کولي

دلته ساعت تیر شو فراز سترگي نه غړوي دوه دري ساعته تیر شول زرغونې د فراز سر په خپل غیږه کې ایښي
مړي مړي اوښکي تویوي ځان سره لگیا ده د فراز د ژوند دعاگاني غواړي الله ته زاري کوي چې فراز خه شي

بیرون څانگه فیاض او خپلوان یې د خوشالۍ اوښکي تویوي لمونځونه کوي د شکر سجدې کوي چې الله فراز ته یوځل بیا ژوند ورکړو

د څلورو ساعتونو وروسته فراز وایې نازنین سترگي مې نه خلاصیږي

نازنین ته چیرته یې

زرغونه ورته وایې فرازه زه ستا خواکي یم ارام وکړه په ځان زور مه راوړه

بیا د فراز سترگي او خوله بنده شي

زرغونه ورخطا شي ډاکتر ته ووایې په دي بیا څه وشو

ډاکتر وایي اندیښنه مه کوي ورو ورو خه کیږي

هغه وگوره ایکسجن یې هم حرکت وکړو د زړه زربان یې هم شروع شو

زرغونه د خوشالۍ نه ژاړي او په زړه کې سلگۍ وهي او د ایسکجن او د زړه ماشینونو ته گوري ورو ورو خوشالیږي

یو ساعت وروسته فراز سترگي خلاسوي گوري چې سر یې د زرغونې په غیږه کې ایښي زرغونه خوشاله شي سر ټیټ کړي او فراز د سر نه ښکل کړي او بي اختیاره اوښکي یې له سترگو لاړي شي

فراز په ډیره سخته ووایې نازنین هغه چیرته ده

زرغونه ورته وایې نازنین کور کې ده خه ده فکر مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فراز له سترګو اوښکي رواني شي او بره چت ته ګوري

ځانګه او فیاض هم ننوتل ځانګي چې د فراز په سترګو کې اوښکي ولیدي ځان یې ترینه چپ کړو دیوال ته یې مخ کړو خپل لاس یې په خوله کې ونیو چې د ژړا او سګو اواز یې وانه وري او په ژړا شوه دومره یې وژړل د ورور په بیوسي او خوږیدو چې ټول ګریوان یې له اوښکو لوند شو دومره زور یې په خپل لاس کړي وو چې د لاس نه یې غوټه غوټه وینه روانه شوه بیا یې هم زړه طاقط ونکړو له کوټې ووته او یوه چغه یې ووهله وه خدایه فراز ته نازنین له کومه کړو

زه خو ددې دا ټوک ټوک او زخمي ځان نه شم لیدلي په ژړا کې دومره ستړي شوه چې بې دمه دیوال ته کیناسته

فیاض راغې دلاسه یې کړه لیوني خوشاله نه یې چې الله مونږ ته مړ ورور ژوندې کړو شکر وباسه دعاګاني وکړه رازه د ورور خواته لاړ شو

ځانګي ورته وویل لک مې پریږده زړه مې بې دمه دې ورور ته نه شم کتلي لږي اوبه راکه

فیاض ژر اوبه ورکړل ځانګي چې اوښکي لا اوچي شوي نه وي اوبه اوڅښل او لاړه د فراز خواته

وروره ځنګه یې

فراز وکتل هیڅ یې ونه ویل خپلي پښي ته یې اشاره وکړه او په مخ یې اوښکي رواني شوي

ځانګه په سرو سترګو خکته شوه د مخ نه یې ښکل کړو اوښکي یې ورته پاکي کړي

مه خفه کیږه وروره خه به شې

زرغونه چې لا تر اوسه یې د فراز سر په غیږه کې ایښي وو د فراز په سر یې لاس کش کړو فرازه خه کیږي تشویش مه کوه

فراز بره وکتل نازنین هغه نو ولي نیشته زما سر خکته کړه

زرغونې یې سر ورته په بالخت کیښود په سر یې ورته لاس واخو

فراز یې لاس لري که نازنین خو زه یواځي نه پریښودم هغه ځنګه نشته

زرغونې وویل هغه کور کې ده راځې تاته ډیري خبري خي نه دې لک ارام وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین نیشته نو ارام ځنګه وکم هغې ته ووایه چې راشي وي ګورم کنه ما ورته یو سي

زرغونې وویل سمه ده تابه ورته یوځو ته لک خه شي مونږ درسره یو کنه

نه نازنین نازنین او همدې سره یې اوښکي روانې شوي

ډاکتر راغې مونږ ته یې وویل تاسو ووزي دیته د ارام ستن کو چې ارامه شي

ځانګي وویل ډاکتر صیب زه ورسره کینم

زرغونې وویل ځانګي ته لاړه شه زه ورسره پاتي کیږم

زرغونه پاتي شوه ډاکتر فراز ته د ارام ستن وکړه او فراز ویده شو

په خوب کې یې د نازنین سره په خبرو وو همداسي ارامه شو

د څلورو ورځو تیریدو دومره شو چې ډاکترانو وویل تاسو نور دا کورته وړلي شي دوا یې ورکړه دا چې ګرزیدلي نه شو خپل په حال به یې ژړل نو بایسکل یې ورته واخیست په هغې کې یې کینو تر موټره او کور ته یې حرکت وکړو

کورته چې ورسیدل او د کور په دروازه ننوت نو یو بل قیامت جوړ شو چغې شویژړاګاني شوي فراز چې د نازنین دې کورني وکته په دیره کې یې کټونه وکتل دیګونه یې وکتل چې د جمعې شپې په خاطر یې باندې کړي وو

چغه یې کړه نازنین چیرته ده دا خلک او دا دیګونه دیره دا څه دې

موري ستا دې قسم وي راته ووایه نازنین کومه ده ولي نه ښکاري نه هلته راغله نه دلته مې مخې ته راغله

او بیا یې چغه کړه نازنین چیرته یې

کور کې یوه غوغا جوړه شوه زرغونې وویل فرازه ارامه شه تاته خفګان خه نه دې

دې سره فراز د زرغونې لاس ته ټک ورکوه ورکه شه له خوانه مې

مورې نازنین چیرته ده زرکوه ووایه کنه اوس مې زړه چوي

مور یې وویل زویه نازنین نشته هغې مونږ ټول پریښودو او لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبرې سره د فراز د خولې نه يوه چغه ووته وه خدايه ما هم واخلې او خپل زړه ته يې يو ګوزار ورکو د بايسکل نه چې ګوزاريدو زرغونې منډه کړه سلګو نيولې وه ترينه يې لاسونه تاو کړل او فراز يې پرې نښود چې په ځمکه ولېږي کلک يې ونيولو

ورونو يې غيږ کې که او هغه کوټه چې يې ددې واده لپاره جوړه کړې وه او هغه تختچې يې د واده لپاره اخستې وو هغې کې يې واچو

ژر لاړل نږدې ډاکتر وو هغه يې راوړو ډاکتر چې رسيدو فراز په هوش کې راغلې وو سلګې يې وهلې وه مورې زړه مې درد کوي ډاکتر ورته د ارام ستن وکړه ټول يې د کوټې نه ويستل.

زرغونه ورته کله په اشداره کې دريده او کله کيناسته د فراز څارنه يې کوله خيرات ختم شو ماښام او ماښستن شو ټول په ژړا ندې واي که فراز بيا ويښ شي څه به کيږي

مور يې دروازه خلاصه کړه کوټې ته يې ننوته د فراز سر ته کيناسته دوعاګانې يې کول او د زوې د صحت غوښتنه يې کوله

زرغونه هم ننوته د تخت پښوته کيناسته اوښکې يې رواني وې

شپه ناوخته شوه د فراز مور زرغونې ته وويل لورې ته لاړه شه څانګې سره ويده شه زه فراز ته کينم

زرغونې ورته په ژړا کې وويل خير دې تور جانې مه د فراز نه مه شړه ماته خوب نه رازې زه هم کينم

زرغونه پاسيده لمانځه ته ودريده لمونځ يې خلاص کړو او د نفل لمونځ يې شروع کړو

تر ډير ناوخته پورې يې نفلونه وکړل او دعا ته يې لاسونه پورته کړل

خدايه ته فراز په داسې حال کې پورته کړې چې نازنين يې له ياده وتلې وې

خدايه فراز راته روغ کړې

خدايه وه خدايه که په فراز څه وشول زه هم ژوندې نه شم پاتې کيدې

اخيري دغا يې د فراز مور واوريده

ورته يې وويل لورې تا څه وويل ته بيا ووايه زرغونې ورته وويل چې دغسې خبره ده نازنين ماته دغه قول راکړې وو که په ما څه وشول نو زما د فراز خيال به ته ساتې

د فراز مور له غاړې تاوه کړه ښکل يې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو په ځمکه ځانونو ته ځایونه جوړ کړل او ویده شول

ستر ګي به یې نه وي ورغلي چې اذانونه شروع شول.

دواړه پاسیدل اودسونه یې وکړل د کورني نور غړي یې هم پاسول د فراز ورونه او میرویس کاکا لاړل جومات ته

کله چې زرغونه او د فراز مور کوټي ته دننه شول فراز پاسیدلي وو تخت ته تکیه وو او لمونځ یې کاوه

په لمانځه کې یې له سترګو اوښکي رواني وي

زرغوني او د فراز مور چې ولیدو د ډیري خوشالي نه ددوي اوښکي هم رواني شوي

زرغونه یې لاړه خواکي یې کیناسته

فراز سلام وګرزاوه لاسونه یې لپه کړل دعا یې کوله او وي ویل

هیڅوک د چا له غمه نه مري

نازنین تا ربښتیا ویلي وو وګوره زه ژوندی یم

خو ته پوهیږي چې د هغې مرګ نه دا مرک په زر واري سخت دې

هغه مرک خو دې سترګي پټي کړي روح دې لاړ شي

خو دا مرګ دې زړه سوري کوي زړه دې سوزوي هره لحظه دربانديې د مرک سختي تیروي

دعا یې وکړه او وي ویل ما د نازنین قبر ته یو سي

مور یې وویل سمه ده زویه خو ځان کلک کړه د تقدیر سره جنګ نه کیږي دا غمونه او دردونه به زمونږ په نصیب کې وو بل په ځان به خلک هم نه خندوي

فیاض راغلو چې فراز یې وکتو ورغي غاړه یې ورته ورکړه

فراز وویل ما د نازنین قبر ته یوسي

زرغونه هم ورسره شوه او د نازنین قبر ته ورغلل

هدیري ته په رسیدو او د یو تازه قبر په لیدو فراز په زړه کې سلګو ونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د اوښکو سیلابونه یې په مخ مات شول خپل زړه یې په لاس کلک کړ قبر ته ورسید زړه یې کلک نه شو او په چغو شو په قبر یې ځان گوزار کړو زرغونې منډه کړه چې کلک یې کړي فراز وویل ما پریږدي تاسو یوه شیبه لاړ شي

زرغوني دي ترینه لرې لاړل ودریدل.

فراز خه وژړل زړه یې سپک کړ دعاوي یې ورته وکړي د لحت د قبر شناخته یې ونیوله ښکل یې کړه زرغونه او فیاض ورغلل چې روان یې کړي کورته

فراز دعا وکړه او راغلل کور ته

د نازنین دې کورني هم تیاري کړي وو تلل خپل کورته د نازنین مور او پلار راغلل د فراز کوټې ته فراز تخت کې خپل ناست وو اوښکي یې روانې وي

د نازنین مور ورغله د سر نه یې ښکل کړو

زوي جانه دا به ستا او د نازنین قیسمت کې وو چې داسي پیښه وشوه

فراز خپلي شونډې غاښونو کې نیولي وو زړه یې سلگۍ وهل خو د خولي نه یې هیڅ غږ نه ویسته

زوي جانه مونږ نازنین ستا په خاطر دلته راوړله ترڅو ستا د زړه تصلي پري کیږي مونږ خو زو خو زیه ته نازنین یواځي مه پریږده او پښتنه یې کوه ځکه زمونږ نه مسافره شوه

په دې سره فراز خپل سر په لاسونو کلک ونیو او خپل ویښنان یې کش کړل

زرغونه نږدې شوه لاسونه یې ورته کلک کړل

زرغوني ما پریږده چې د زړه درد مي وباسم کنه مړ کیږیم

نه فرازه خدای ته وگوره داسي مه کوه

د نازنین پلار ورته وویل فرازه بچیه زه لاړ شه مونږ سره همله به دي علاج هم کوي او فکر به دې هم بدل وي

فراز خبري نه شول کولې زړکي یې د سمندر د چپو په شان سگیو چپي وخلې د سر په ایشاره یې وویل نه

زرغونې وویل فرازه زه به پاتي شم ستا خیال به ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراز هغې ته د اوښکو ډکې سترګې واړولې نازنین

ټول په ژړا شول او په ژړا کې یې رخصت واخیست د کوټې نه ووتل

زرغونه په شا شا ګورې او سلګۍ وهې

فراز خپلې شوندې په غاښونو کلکې نیولې او مخ یې اړولې

لنډه دا چې د نازنین دې کورنې روان شول خدای پاماني یې وکړه زرغونې ځانګې ته وویل ستا دې قسم وې چې ماته به هر ساعت د فراز احوال راکوې زه به هم احوال اخلم

دا ورځ په فراز ډیره سخته تیره شوه مازیګر یې بیا قبر ته لاړو

ماښام ماښستن شو زرغونې ځانګې ته زنګ ووهو چې ته موبایل فراز ته یو څه

ځانګه چې د فراز کوټې ته ننوته نو فراز همداسې په ژړا وو ځانګې ورته وویل ورور جانه زرغونه درسره خبرې کوې

فراز ایشاره وکړه چې خبرې نه کوم

ځانګې زرغونې ته وویل زرغونې وویل موبایل سپیکر کړه او بیا یې فراز باندې اواز وکړو

فراز جانه زما غږ اورې

فراز په سلګو شو تیر وخت یې یاد شو او ځانګې ته یې د وتلو وویل

دا شپه او سبا ورځ هم تیره شوه زرغونې بیا دشپې زنګ ووهو ځانګې ته یې وویل موبایل سپیکر کړه

ځانګه د فراز کوټې ته لاړه فراز ته یې وویل زرغونه ده

فراز غلې شو

زرغونې په ډیر دردناک غږ ورته د فراز هغه سندره شروع کړه چې فراز نازنین ته ویلې وه

ستا د دو سنرګو لپاره د هرچا خبرې وړمه

اې زما رنځوره یاره د هرچا خبرې وړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراز په شور کې راغې سلګو ونيو نازنين همداسي ادامه ورکړه

چې د فراز له خولې يوه چغه ووته.

پاتې برخه بيا

د موبايل يارانه 26 برخه

ليکونکی: محمد غازي نوري

فراز چغه کړه او سلګو ونيو د خدای خاطر وکړه زرغونې نور بس کړه

زړه مې سوری ويني تري څاڅي

د جانان ياد پکې منګولې ښخوينه

زرغونه ارامه نه شوه او په فراز يې غږ وکړ

د غم زويه هندو سترې خدای نارازه ما څومره ښايسته سندره وويله او ته راته وايې بس که

سمه ده نور زنګ نه وهم

فراز وويل زرغونې ته ولې نه پوهيږې ته ولې راته بار بار د نازنين يادونه تازه کوې ولې مې په دې کارونو زوروې

نه پوهيږم څومره به ژوندې يم پرې ميږده چې مړ شم

زه ولې ژوندې پاتې يم

د زرغونې چې خپله هم حال خه نه دې د فراز د سلګيو سره يې زړه اره اره کيږي ځان زړه کلکوي او فراز ته د ژوند کولو خبرې کوي

غواړې چې د فراز فکر بدل کړي ورته وايې فرازه د ډاکتر کتلو وخت دې نږدې شوي سبا راشه فکر به دې هم بدل شي او ډاکتر ته به هم لاړ شو

فراز څانګې ته وويل خورجاني لږې اوبه راکړه

څانګه اوبو پسې لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې زما په فکر او ذهن نازنین داسي خوره ده چې زه هیڅ د هغې له یادونو بهر وتلي نه شم او نه غواړم چې د هغې یادونه هیر کړم

هغې ماسره څومره سختي تیري کړي څومره دردونه او کړاونه یې وزغمل

زما لپاره هغې کوم کارونه ونکړل

زما او د هغې وعدي چې مونږ د راتلونکي ژڼد لپاره کړي وي نیمه خوا او نیمګړی پاتي شوي

زه نه غواړم چې دي بي وفا نړی ته راوګرزم نه غواړم چې د چا اسري ته پاتي شم که نور څه نه وو نو خپل ژوند ته به خپله د پای ټکي کیدم او د خپلي نازنین خواته به لاړ شم

نه غواړم چې نور ژوند وکړم او نه یې کولي شم

که ژوندی هم پاتي شم نو هیڅ د چا په ګټه به رانه شم

زرغونه چې د فراز خبرو پرېشانه کړې وه، څو شېبې چوپه پاتې شوه. په هغې کې یو ځیرک درد و، خو له ځان سره یې ژمنه کړې وه چې فراز به یوازې نه پرېږدي، که هر څومره هم ستونزمنه وي.

"فرازه، ته داسې خبرې کوې لکه چې هر څه ختم وي، خو ژوند تل همداسې نه وي. هو، درد شته، ډېر زیات شته. خو دي درد، او سلګیو کې، موږ دواړه یو. خو که ته تسلیم شې، نو زه به څه وکړم؟" زرغونې د زړه له کومي دا جملې وې چې داسې یې وویل لکه چې ځان ته هم باور ورکوي.

فراز د هغې خبرو ته په نیم زړه غوږ نیولی و، په سترګو کې یې تشې اوښکې پاتې وې. "زرغونې، ته پوهېږې، نازنین مې یواځینی ارمان و. کله چې هغې پرېښودم، داسې مې احساس وکړ چې روح مې له بدن څخه وتلی دی. اوس، هره ورځ چې زه ژوندی یم، داسې ده لکه چې له خپل قبرڅخه بهر پاتې یم. ته څنګه هیله لرې چې زه به بېرته ژوند ته راشم؟"

زرغونه یې خبرې اوري، خو د فراز د ژورې دردېدنې احساس ته تسلیم نه شوه. هغې فراز ته په نرمه لهجه وویل، "خو ته هېره وي چې زه دلته یم. زه ستا سره یم، فرازه. زه پوهېږم چې زه نازنین نه یم، او نه غواړم چې زه به یې ځای ونیسم. خو زه دې ملګرې یم، زه به تا هیڅ کله یوازې پرېنږدم، زه به تر اخیره هڅه وکم چې تا بیرته له دې دردونو او تیارو وباسم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراز په ټیټ غږ کې یې وویل، "زرغونې، ستا مرسته او ملګرتیا مې له زړه منم، خو ځینې زخمونه نه رغېږي. زما زړه له ډېره وخته ټوټې ټوټې شوی دی، او اوس مې په دې ځمکه کې د پاتې کېدو هیله بایللې ده."

زرغونه ژر لا ناهیلي نه شوه. "ته یو ځل کابل ته راشه، د فکر بدلول دومره ستونزمن نه دی، لکه ته یې چې انګېري. دا وخت به هم تېر شي، باور وکړه. د ژوند لپاره یو دلیل پیدا کړه، که نه هم، نو لږ تر لږه ما مه پرېږده چې یوازې پاتې شم."

د زرغونې دا وروستۍ خبرې فراز ته لکه د زړه له دننه څرېکه ورسیدې. که څه هم هغه په ځان کې د هیلو څرک نه احساساوه، خو د زرغونې نه ماتېدونکی ملاتړ او محبت هغه یو ځل بیا دې ته اړ کړ چې لږ تر لږه د سبا لپاره انتظار وکړي.

هغه ورو وویل، "زرغونې، د ځان لپاره نه، خو ستا لپاره به سبا درشم."

زرغونه چې په زړه کې یې یوه وړوکې هېله را ژوندۍ شوې وه، په خپلو اوښکو پټه موسکا وکړه. د دواړو تر منځ د درد او هیلې یوه نوې کیسه روانه وه، یوه داسې کیسه چې د ژوند کولو زخمونو ته، که په بشپړ ډول نه، لږ تر لږه یو څه درمل شي.

زرغونه ورته وایې فرازه یوه وعده وکړه چې نور به ژوند ته راګرزي زما په خاطر د نازنین په خاطر د خپلي مور خور او ورونږو په خاطر ته د څانګي حالات نه خبر یې چې د هغې په زړه څه تیریږي ستا په دې رقم کتو

فراز وایې زرغونې دا کوم وړوکي درد او غم نه دې چې داسي په اسانه مې شاه پریږدې کیدای شي د نازنین یادونه مې همداسي په زوریدو سره ختم کړي

یو خو ته د غم زوي نازنین او نازنین ته به وایي مونږ خفه نه یو

زه چې ژوندې پاتي یم فرازه صرف د نازنین سره د وعدې پوره کولو په خاطر یاد دې شي د نازنین قول چې ماته یې راکړي

والله که دي پلار هم رانه خلاص شي

فراز بیا په سلګو شي او خه زړه تش کړي

څانګه راشي وروره نور ارام وکړه ها دا ګولۍ دې تیري کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراز وایې دا د غم لور پوهه کړه چې نور داسې خبرې نه کوي

زرغونه په ژړا کې وخاندې فرازه همدا خبره مې غوښتل چې ستا له خولې یې واورم

او بیا ځانګې ته ووایې دوا یې پوره ورکه او سهار یې د فیاض سره ولیږه چې راشي کابل ته ډاکتر لپاره

فرازه په الله دې سپارم خو چې بیا زنګ وهم خیر دې زړه مې مه ماته وه او په خندا راسره خبرې وکړه

خو سبا دې راتک هیر نه شي

سهار و، د کور په انګړ کې چوپتیا خپره وه. فراز په خپل سوچ کې ډوب ناست و، د چاى پیاله یې په لاس کې نیولې وه. د کورنۍ غړو ورته په اندیښنه کتل. مور یې ورو ورو ورته وویل: "زویه، لاړ شه کابل ته، چې ډاکتران دې وګوري.

فراز یو ژور ساه واخیسته، چاى یې پیاله یې خلاصه کړه او په بېخیالۍ کې یې سر وښوراوه. له هغه ځه چې په زړه کې یې تېرېدل، هیڅوک خبر نه و. د نازنین یادونه هره لحظه ورته تازه کېدله. هغې وعدې چې له ده سره یې کړې وې، اوس لکه د زخم په شان هره ورځ تازه کېدلې.

فراز د سفر تیارى ونیو، فیاض ورسره شو چې کابل ته ولاړ شي. په لاره کې هر څه خاموش وو، یوازې د موټر اواز او د فراز دننه سلګۍ وې.

کله چې شفخاني ته ورسیدل ډاکتران یې په لیدو ډیر خوشاله شول روغبړ نه وروسته یې ورته مینعات وکړل

ډاکترانو وویل اوس بلکل خه دې ان شاء الله او لک وخت پاتي دې چې مکمل خه شي

او بیا یې فراز ته وویل فراز جانه نوى ژوند دې درته ډیر ډیر مبارک وي دا د الله یوه معجزه وګڼه چې ته روغ او ژوندې یې مونږ هیڅ طمعه نه درلوده خو دا به د چا دعا وه چې ته روغ شوي

فراز ترینه مننه وکړه ډاکترانو وویل دا ځل هم راشه چې یو ځل دې وګورو ان شاء الله بیابه د راتلو ضرورت نه وي

او خپلې کورني سره دې ډیر په مینه وخت تیروه ډیره سخته پري تیره شوه بیا هغه دوه خورګانو باندې چې هیڅ یې سترګي له اوښکو اوچې نه وي

فراز او فیاض د ټولونه مننه وکړه رخصت یې واخیست او روان شول

هلته ورته د نازنین مور او پلار زنګونه شروع کړي وو چې راشي خو فراز زړه نه خه کوه چې هغه کورته ورشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې ورته هم ټينګار او قسمونه ورکول چې راشي

نو مجبور شو او لاړو

کله چې د نازنين دي کور ته ورسېدل، فراز ناڅاپه ودرېد، سترګې يې له اوښکو ډکې شوې. د هغې کور ته کتل ورته داسې سخت وو لکه په زخم يې چې ملګې شيندي.

په سلګو کې يې د نازنين په ياد له ځان سره وويل: "نازنين، تا نه شم هيرولې، هره لحظه دې يادوم. هغه ژمنې، هغه وعدې..." فراز خپل مخ په لاسونو کې ونيو، او په غمجن غږ کې يې خپل دروند زړه خالي کړ.

زرغونه چې د دې دردناکه حالت ننداره کوله، ورو يې خواته راغله له سترګو يې اوښکي بهيدې لاس نه يې ونيو ورته وويل: "فرازه نور بس کړه ترڅو به له ځان سره مونږ ژړوي

د نازنين مور او پلار هم په ژړا کې له غاړې تاو کړو د سر نه يې ښکل کړه او کورته يې دننه کړو

زرغونې ورته ژر يخني ګرمه کړه د حسنا ورته راغله فراز په غيږ کې ونيوله او په ژړا شو حسنا او صدف يې د غاړې تاو شول او درېواړو خه وژړل

ددې حالات په ليدو د ټولې کورنې سترګې له اوښکو ډکې شوې

زرغونه راغله او په غوصه شوه هلې لالا ته مو اوبه راوړې چې لاسونه وينځې

حسنا اوبه راوړل او صدف يې په غيږ کې سر ايخې وو

ډوډۍ وخوړه

زرغونې فياض ته وويل: که ته وظيفې ته ځې لاړ شه فراز به همدلته وي دا څلويښتې به تيره کړي بيابه لاړ شي

فراز وويل ما مه پاتې کوې پرې ميږدې چې لاړ شم

زرغونه او د نازنين کورنې ورسره کلک شول چې پاتې شې فياض وويل سمه ده چې کله يې زړه تنګ شو رابه شم فياض لاړ

مازيګر شو زرغونې صدف او حسنا ته وويل چې تاسو فراز دلاسه کړې او مجبور يې کړې چې لاړ شو چکر ته

حسنا او صدف راغلل د فراز د غاړې نه تاو شول يو د يو مخ نه ښکل که او بلې د بل مخ نه ورسره کيناستل په څنګونو يې ورته سرونه کيښودل او ورته يې وويل لالا مونږ چکر ته يوسه زړه مو تنګ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فراز سترګي بيا له اوښکو ډکي شوي

د نازنين مور غوسه شوه زي لاړي شي د فراز زړه نه کيږي چې چيرته لاړ شي

فراز چې دوي ته وکتل ورته يې وويل سمه ده زو

دواړه خوشاله شول او وي ويل لالا دريواړه به زو نور څوک نه وړو

زرغونې وويل زه به درسره لاړه شم زما هم زړه تنګ دې

څلور واړو حرکت وکړو او چکر ته لاړل

په لاره کې زرغونې کوښښ کاوه چې فراز ته د ژوند کولو هڅه وکړي، خو د فراز سترګې لا هم د غم په سيوري کې وې. هر قدم ورته داسې ښکاره کېده لکه بوج. زرغونې وخندل، د غم په منځ کې يې د ژوند کولو رڼا ورښکاره کړه: "فرازه، ژوند بيا هم پر مخ ځي. د نازنين يادونه دې تل وي، خو هغې به هم هيله درلوده چې ته خوشاله ژوند وکړې."

فراز ورته يوه غمجنه موسکا وکړه، په زړه کې يې د نازنين غم بيا راوخوځېد، خو د زرغونې خبرو ته يې سر وښوراوه. دې لحظه کې يې احساس وکړ چې شايد ژوند ته بېرته ورګرځېدل يو څه وي چې نازنين به هم غوښتل.

زمکه او اسمان غلي وو، خو د فراز په زړه د سلګيو نه غير نور څه نه وو

زرغونې ته يې وويل

زرغونې څو وارې د فراز خواته وکتل، د هغه ژوره غميزه يې په څېره کې لوستلای شوه، خو زړه يې غوښتل چې يو څه ووايي، يو څه داسې چې د فراز زړه بېرته ژوند ته راوګرځوي.

زرغونې په نرم غږ کې وويل: "فرازه، ولې نه غواړې چې ژوند ته بېرته راشي؟ ولې نه غواړې چې يو ځل بيا مينه تجربه کړې؟"

فراز ودرېد، خپل سر يې ټيټ کړ او په دردناکه لهجه يې ځواب ورکړ: "زرغونې، زه نور نه غواړم چې بيا مئين شم. زما په زړه کې يوازې نازنين وه او ده. له هغې سره مې د ژوند ټوله مينه وه، او اوس چې هغه راسره نشته، دا به ظلم وي چې په زړه کې مې څوک ځای ونيسي. زه له ځوانيمرګې نازنين سره داسې ظلم نه شم کولای."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه خاموش او چپ شوه. هغه پوهېده چې د فراز زخمونه ژور دي، خو زړه یې غوښتل چې د هغه لپاره د ژوند نوې دروازه خلاصه کړي. د چکر په منځ کې لا هم د فراز درد نه وو کم شوی، زرغونې خپل احساسات په زړه کې وساتل او یوازې د هغه په څنګ کې روانه وه.

ناڅاپه، صدف په ځمکې پرېوته، لاسونه یې په وینو شول. فراز په وارخطایي کې ورته وویل: "ژوبله خو به نه یې؟"

صدف په ژور درد کې وخندل او ځواب یې ورکړ: "دا ژوند همداسې دی، فرازه لالا. کله چې ګوزار شي، ته باید خپله پورته شې. چاته انتظار نه کوي چې څوک به راشي او تا به پورته کړي. دا زخمونه به وخت سره جوړېږي، خو د وخت خیال به ساتې. که دې وخته پام ونه کړ، هر زخم تلپاتې کېږي."

فراز ته د صدف خبرې د یوې بلې نړۍ پیغام راوړ. هغه پوه شو چې شاید زرغونه هم ورته د ژوند هغه اړخ ښیي چې ده تر اوسه نه و منلی. صدف د خپلو زخمونو پروا ونه کړه، هغې په خپل درد کې د ژوندي پاتې کېدو هنر فراز ته وویلو.

زرغونې د فراز سترګو ته وکتل: "فرازه، نازنین به دې تل په زړه کې وي، خو هغه به هم غوښتل چې ته بېرته ژوند وکړې د هغې هغه وعده دې له یاده ویستلې."

فراز غلی و. هغه پوهېده چې د زرغونې او صدف خبرې د هغه د راتلونکي په اړه دي. په زړه کې یې د راتلونکي لپاره هیلو ورو ورو وده کوله، خو درد یې هم لا تازه و. په دې لحظه کې د هغه لپاره ژوند بیا هم یو مبهم سیوری و، خو د صدف او زرغونې خبرې ورته د ژوند نوې معنا ورکړه: ژوند ته بېرته ستنېدل ممکن دي، که وخت ته د زخمونو په جوړېدو وخت ورکړي.

فراز، زرغونه، صدف، او حسنا له چکره ستانه شول. د ورځې رڼا ورو ورو د ماښام په تیارې بدلېدله، او هوا یو ارامه غبر درلود چې د ټولو فکرونه له ځان سره وړي. په موټر کې خاموشي وه، هر یو په خپل سوچ کې ډوب و، خو زرغونه د فراز په څنګ کې ناسته وه او د هغه په اړه یې فکر کاوه. هغه پوهېده چې د فراز زړه لا هم د نازنین له یادونو ډک دی، خو هغې د خپل زړه احساسات نور په ځان کې نه‌شوای ساتلای.

کله چې موټر کور ته نږدې شو، زرغونې ورو د فراز خواته وکتل. په زړه کې یې یو جرئت پیدا کړ، او په آرام غبر کې یې وویل: "فرازه، زه ستا د اظهار یا د مینې د پیغام په انتظار یم. زه پوهېږم چې ستا درد تازه دی او د نازنین له لاسه تا ډېر څه له لاسه ورکړي دي. خو زه درته انتظار کوم، هر څومره وخت چې وغواړې. زه پوهېږم چې وخت ته اړتیا لرې ترڅو هغه زخمونه چې د نازنین مرګ درکړي، کم شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ژوره ساه واخیسته او خپله ګوتې یې په ګوتو کې ورکړې. "فرازه، ته چې هر څومره وخت غواړې، زه به درته صبر کوم. خو د خدای لپاره، زړه مې مه ماتوه. زه نه غواړم چې د بل ځل لپاره همدا زخمونه وګورم. ته ډېره معنا لرې زما لپاره، او زه باور لرم چې د ژوند په دې اوږده لاره کې به موږ دواړه یو بل سره مزل وکړو."

فراز سر ټیټ کړ، سترګې یې په ځمکه ولګېدې. هغه په ژور غم کې وو، خو د زرغونې خبرې یې زړه ته راښکته شوې. هغه احساس وکړ چې زرغونه یوازې یو څوک نه ده چې د هغه تر څنګ ولاړه ده، بلکې یو څوک ده چې غواړي د هغه زړه بیا ژوند ته راوګرځوي. فراز پوهېده چې زرغونه په خپل زړه کې ډېره مینه لري، خو هغې لا هم د نازنین په خاطر د ژوند پرېکړې کولې.

په یوه ژوره ساه سره یې زرغونې ته په غمګین، خو صادقانه لهجه کې وویل: "زرغونې، زه ستا احساسات درک کوم او پوهېږم چې ته زما لپاره ډېر ارزښت لرې. خو زما زړه لا هم د نازنین له لاسه په غم کې ډوب دی. زه نه غواړم چې بیا مینې ته لاس ورکړم او بیا له هغه درد سره مخ شم چې له نازنین سره مې ولید."

زرغونه غلې شوه، خو هغې ته د فراز خبرې معنا لرلې. هغه پوهېدله چې د فراز دردونه ژور دي، او هغه به وخت ته اړتیا لري ترڅو خپل زخمونه جوړ کړي. خو هغې بیا هم په موسکا کې ځواب ورکړ: "فرازه، زه پوهېږم. زه درته صبر او انتظار کوم. هر وخت چې ته تیار شوې، زه دلته یم. خو د خدای لپاره چې نا امیده مې نکړې." زما ټول امیدونه تاپوري تړلي دي.

په دې لحظه کې د زرغونې غږ د محبت څخه ډک و. هغه پوهېده چې فراز وخت ته اړتیا لري، خو هغه یې هېڅکله نه پرېښود. د دې خبرې سره، کور ته ورسېدل، خو د دواړو په زړه کې د امید یو نوی څرک بل شو.

ماښام ډوډۍ وخوړل شوه. د نازنینې کورنۍ غوښتل چې د فراز فکر بدل کړي، نو ټولو خبرې کولې. صدف راغله او د فراز په څنګ کې کښېناسته. فراز یې له غاړې لاس تاو کړ او ویې ویل:

"زما نانځکې ته لاس وخایه، څنګه دي اوس؟"

صدف وویل:

"لالا، ښه یم او ښه به شم، ته اندېښنه مه کوه. زه له دې ډېر خوږیږم، خو بیا ښه شم. دا به هم تېر شي."

فراز د هغه له سر څخه ښکل کړه او ځانته یې نږدې کړه:

"حسنا چېرته ده؟ په کوټه کې نه شته."

صدف وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"صبر وکړه، غږ به پرې وکړم، هغه درس ليکي."

فراز وويل:

"ښه ده، پرېږده چې درس وليکي. او ته به څه کوې؟ د درس ليکلو سره، ستا لاس خو درد کوي."

صدف وويل:

"لالا، نن يې ته ما ته وليکه. تر سبا پورې به مې لاس ښه شي، بيا به خپله وليکم."

فراز وويل:

"ورشه، کتاب راوړه."

فراز د صدف سره بوخت شو. زرغونه په زړه کې خوشاله وه چې د فراز فکر بدل شو. دوی تر ناوخته ناست وو. زرغونې فراز ته وويل:

"فرازه، دوا دې راوړم، تيروې يې."

فراز وويل:

"هو، تيروم يې."

زرغونه لاړه، دوا او اوبه يې راوړې، په خپل لاس يې دوا ورکړه او بيا يې ځای ورته جوړ کړ. شپه ناوخته وه، فراز هم لاړو چې ارام وکړي. زرغونه هم ورسره کوټې ته تر دروازې پورې ملگرې وه. فراز چې کوټې ته ننوت، حالات يې خراب شول.

زرغونه يې مخې ته ودريده:

"گوره، فرازه! نور بس کړه. زه پوهېږم چې بيا دې تېر وخت در په زړه شو، خو خير دی. زما لپاره نور بس کړه."

فراز خپلې اوښکې پاکې کړې او پريوتو. زرغونې پرې روژه واچوله او کمپل يې ورته پښو ته کېښوده.

زرغونې وويل:

د غم، زويه! ماته هېڅ ست نه کوي. که غواړې چې درسره پاتې شم."

فراز خپلې شونډې په غاښونو کې ونيولې او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته لاړه شه، ځم. خو ګوره، د شپې به ستا خواته راځم چې ونه وېرېږې. چې وايې به پيريان دې."

فراز په شونډو کې مسکی شو او ورته يې وويل:

"زه ارام کوم، مه راځه."

خو زرغونې خبره ختمه کړه:

"زه به راځم!"

فراز پرېووت او په تېر وختونو کې ډوب شو. هغه شپه يې په ياد شوه چې نازنين دلته راغله، غوښتل يې چې دی وډار کړي، بيا يې يو ځای پوچکان لوبه کوله. د فراز په مخ لپه لپه اوښکې روانې وې او خوب يې له سترګو کډه کړې وه.

په همدې وخت کې، زرغونه هم د فراز په خيالاتو کې ډوبه وه. هغې ځان سره ويل: "څنګه به فراز له دې حالته وباسم؟" زړه يې صبر ونه شو. لږ وخت وروسته د خپل ځای څخه پاڅېده او د فراز کوټې ته لاړه. ګروپ يې روښانه کړ، ګوري چې د فراز په مخ د اوښکو سيلاب روان دی. ژر يې ځان ورساوه، سر ته يې کښېناسته او د هغه اوښکې يې پاکې کړې.

زرغونې وويل:

"فرازه! ته لا نه يې ويده شوی؟ دا ژړلي دي ولې؟"

فراز په غمجن آواز ځواب ورکړ:

"زرغونې، هغه تېر وختونه مې ياد شول، هغه لوبې او ستاسو په بالښت ګوزارونه. بيا د نازنين هغه خبره چې 'فرازه، ته زما خاوند يې، او تاسره يوځای لوبې کول زما حق دی.'"

زرغونې په نرمه ژبه وويل:

"ياره، د غم زويه، نو ته به په دې ژړا ځان خراب کړې؟ که په تا څه وشي، زه به څه کوم؟"

فراز ورته ځواب ورکړ:

"زرغونې، کوشش مه کوه چې ماسره دې زړه وتړي. زه ډېر بدبخته يم. يوه ورځ به ته هم همداسې ژاړې. زه نه غواړم چې نور د چا ژوند تبا او زړه يې مات کم."

زرغونه لږه غلې شوه، بيا يې فراز له تندي نه ښکل کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بس، زما دا د تباهی ژوند تا سره قبول دی. او کوشش مه کوه چې مانه ځان لرې کړې."

فراز  وویل:

"زه پوهېږم چې ته غواړې ژوند ته بیرته راستون شې، خو دا ډېر سخت دی. زه وخت ته اړتیا لرم."

زرغونې په توګه کې وویل:

"نو ما کله ویلي چې ژر زو ملا ته او نکاح تړو؟ کله چې تا راته وویل تر هغې درته انتظار کوم."

او بیا زرغونې ورته وویل:

چې تر څو دلته یې، ماته به هېڅکله نه وایې چې له تانه لرې شم." ځکه چې زه بیا هلته ستاسو کور ته نه شم راتلی، نو زوریږم به درته."

فراز په آرامه وویل:

"سمه ده، نه وایم، خو اوس لاړه شه، څوک رانه شي، ډېره بده خبره ده."

زرغونې په ځواب کې وویل:

"که څوک راشي، ورته وایم چې دا مې خاوند دی."

فراز وویل:

"نه زرغونې، نه غواړم چې د دې کورنۍ په وړاندې زه سر ټیټی شم، هیله کوم."

زرغونې وویل:

"سمه ده، زه به لومړی تا ویده کړم، بیا به ځم."

هغه د فراز په څنګ کې کښېناسته. فراز خپلې سترګې پټې کړې او زرغونې د فراز په ویښتانو کې لاس واه. هوا سړه وه، د زرغونې ساړه وشول او ریږېده.

فراز پوه شو چې زرغونې ساړه شوي. اوس به لاړه شي خو

زرغونې د فراز کمپل په ځان کش کړه او د دېوال سره یې ډډه ووهله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه لګیا وه، د فراز په ویښتانو کې یې ګوتې وهلې،

او دا سندره یې په ډېر خوږ، نرم او غلي آواز کې پیل کړه، چې فراز یې د خیالونو دنیا ته بوتلو.

ما تصور دا ستا د زنې، ستا د خال کړی دی

د زړه کعبه کې مې طواف، ستا د وصال کړی دی

د مینې دښته کې ښښې، ابله د ازغو په څوکو

د عشق منزل ته مې مزل، څه په کمال کړی دی

خلک لاس پورته کړي دعا، د جنتونو غواړي

ما د هر څه په بدل، ستا د مینې سوال کړی دی

زما هر سحر دې ستا شي، زما هر بېګا دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

ستا د ژوند د هرې لارې، ټول ازغې دې تل زما وي

د ګلونو خوشبویانې، د چمن ښکلا دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

دا د مینې تهمتونه او دردونه ماله راکه

زما زړه کې دا دعا ده، پوره هر ارمان دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دنیا مې پکار نه ده، نه جنت درنه زه غواړم

خدایه یو سوال مې قبول که، چې زما جانان زما شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

د دې سندرې سره د زرغونې له سترګو اوښکې روانې وې، ژړل یې،

او فراز ویده شو، او په زرغونه هم د خوب چپه راغله.

یوه شېبه وروسته چې فراز فکر شو، ویښ شو.

ګوري چې زرغونه په خواړه خوب، مخامخ ورسره ویده ده.

فراز د زرغونې سترګو ته وکتل. د زرغونې معصومې سترګې له اوښکو ډکې وې.

فراز زرغونه له تندې ښکل کړه.

او په خپلو لاسونو یې د زرغونې اوښکې پاکې کړې.

زرغونې په خوب کې د فراز نه لاسونه تاو کړل او فراز یې خپل ځان ته نږدې کړ.

لږه شېبه تېره نه وه چې په زرغونې یخني او لړزه راغله، ټول وجود یې رپېده. د بیدارۍ احساس یې وکړ، خو زړه یې داسې ټکانونه خوړل چې د پاڅېدو توان یې نه درلود.

خپل سر یې د فراز سینې ته نږدې کړ.

د فراز هم پرې زړه درد وکړ او ځان ته یې نږدې کړه.

فراز غوښتل چې د زرغونې ساړه په خپل تنفس سره ختم کړي، نو د خپلې خولې ګرم پوکي یې د زرغونې مخ او ګریوان ته وکړل.

دواړه په لړزه شول. فراز ټکان وخوړ، کیناست او زرغونې ته یې په غلي غږ وویل:

"زرغونې... زرغونې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې په لړزيدلې غږ سترګې وغړولې: "څه دې، فرازه؟"

"زرغونې، پاڅه چې اذان ته لږ وخت پاتې دی، څوک را نه شي."

د زرغونې چې فکر شو، ځان ته يې وکتل، بيا فراز ته او د خوب ځای ته.

د وجود ټول ساړه يې ختم شول، خوله پرې ماته شوه، خپلې سترګې يې ټيټې کړې او ويې ويل:

"فرازه، وبښه، خوب وړې وم، په ځان نه پوهېدم."

فراز وويل: "الله دې وبښې، زرغونې، خو اوس لاړه شه، څوک را نه شي."

زرغونه پاڅېده او روانه شوه.

د فراز زړه درزېده چې هسې نه چا ليدلې وي.

په همدې سوچونو کې پروت وم چې اذان وشو. د لمانځه وخت شو، پورته شوم، لمونځ مې وکړ، بيا راغلم خپل ځای کې کښېناستم او کرم ريبم. له ځان سره خجالت وم.

په کراره مې له کوټې ووتم او لاړم حجري ته. هلته په انګړ کې کښېناستم چې کتل مې، حسنا راغله.

"لالا، دلته ولې يواځې ناست يې؟ راځه، دننه لاړ شو. چای هم تيارېږي، هلته به کښېنو."

ما ورته وويل: "حسنا جانې، راځه دلته کښېنه، ترڅو چې چای تيارېږي، دې تازه هوا نه به خوند واخلو."

هغه هم راسره کښېناسته. ويل يې: "لالا، نن به چکر ته ځو؟"

ما ورته وويل: "نه، نن نه، سبا به لاړ شو."

خو سبا مې د خور جانې څلوېښتې ده، بيا نه شو تللی.

زه بيا د نازنين په سوچ کې ډوب شوم او غلی پاتې شوم. حسنا وويل: "لالا، ولې غلی يې؟ يو څه ووايه، چکر ته ځو؟"

ما وويل: "سمه ده، مشوره به وکړو."

نن مې فکر بلکل بدل وو. زړه کې مې يو ډار وو، هر څه مې هېر وو.

په دې وخت کې د نازنين مور راغله. "فرازه زويه، راځه، چای تيار دی. چای وڅښو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما حسنا د لاسه ونیوله او روان شوو. کوټې ته لاړو. زرغونې چای راوړ، خو نن هغه هم خجالته وه او سترګې یې ټیټې وې. نه یې راته کتل. چای یې راته واچو، چای مو وڅښو.

د نازنین پلار وویل: "فرازه زویه، ستاسو کورنۍ ته مو پرون زنګ وهلی وو. نن هغوی هم راځي. سبا لخیره خیرات دی."

ما هیڅ ونه ویل. سر مې ټیټ کړی وو او خاموش ناست وم.

د نازنین مور وویل: "زویه جانه، موږ منو چې نازنین زموږ لور وه، خو ته پرې زموږ نه ډېر ودردیدلی یې او دردېږې لا."

"خو زویه، دا به قسمت وو. نور دې خپل ژوند ته فکر وکړه. ځوان یې، ستا د کورنۍ له تا ډېرې هیلې دي. که ته داسې خفه یې، هغوی به څنګه خوشاله شي؟ نو د خپل فامیل لپاره همت په ځان کې پیدا کړه. د خپلې مور، خور او وروڼو په مخونو کې خندا راوړه. په دې کار سره به نازنین درنه په قبر کې خوشاله شي. هغې هم ستا خوشالي غوښتله."

زرغونه همداسې خاموشه ناسته وه، نن یې هیڅ نه ویل. زما هم زړه درزېده.

ما وویل: "مورجانې، زه څنګه د نازنین یادونه هېر کړم؟ د هغې هر یاد مې په زړه او ذهن کې نیغ ولاړ دی. هر څه چې ګورم، هغه راته یادیږي."

مورجانې وویل: "پوهیږم، زویه، خو خیر. هڅه وکړه چې ځان کې قوت پیدا کړې."

حسنا وویل: "مورجانې، ته لالا ته وایه چې موږ چکر ته یوسي مازیګر."

د نازنین مور وویل: "اوس لاړ شئ. نن مکتب ته مزي لاړ شئ، چکر ووهئ، ساعت به مو تیر شي."

حسنا خوشاله شوه. د نازنین د مور مطلب دا وو چې زما فکر بدل شي. زرغونې وویل: "امه، زه به هم ورسره لاړه شم."

ما وویل: "نه، نن مېلمانه راځي. ته کور ته پاتې شه چې د مورجانې سره کومک وکړې."

زرغونې وویل: "مېلمانه مازیګر راځي، او موږ به غرمه بېرته راشو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس، زرغونه هم راسره روانه شوه او لاړو باغ وش ته. حسنا او صدف له موږ نه بیل شول. زه او زرغونه یواځې پاتې شوو.

زرغونې ماته نه کتل. ما وویل: "زرغونې، څنګه نن غلې یې؟"

هغې وویل: "هیڅ، همداسې."

"خو فرازه، د بیګانې کار ښښنه غواړم. هیڅ پوهه نه وم چې خوب وړي ومه."

"خیر دې، زرغونې، زه پوهېږم چې ته خوب وړي وې، خو شکر دی چې څوک پر مونږ راغلي نه وو. کنه، قسم دی، چې له دې شرمه به مړ وای."

زرغونې وویل: "فرازه، شکر دی چې تا راویښه کړم او فکر دې وکړ. بل نږدې وو چې د زړه د درزا او ساړه له لاسه مې زړه له خولې وتلی وای."

"دا څه وو، فرازه؟ داسې کار خو په ما مخکې هېڅ نه و شوی."

د فراز سترګې له اوښکو ډکې شوې. هغه ته د نازنین سره د لومړي ځل لیدل یاد شول، چې دواړه همداسې یخ نیولي او رپېدلي وو.

زرغونې ورته وویل: "ته راځه، دلته کښېنه." بیا یې د فراز له سترګو اوښکې پاکې کړې.

"فرازه، ولې؟ څه دې یاد شول؟"

فراز وویل: "زرغونې، ماته زما او د نازنین لومړنی ملاقات یاد شو. هغه شپه چې په هوټل کې وو، زه او هغه همداسې یخ نیولي وو."

زرغونې پوښتنه وکړه: "فرازه، دا ولې داسې کېږي؟"

فراز ځواب ورکړ: "زرغونې، نور نه پوهېږم. خو شاید کله چې دوه نابلده روحونه یو بل ته نږدې کېږي، نو داسې کېږي."

زرغونې وویل: "فرازه، نه پوهېږم، خو چې ستا سره یم، زړه مې ډېر ارام او راحت وي. خوشاله یم. او ته؟"

فراز ورته وویل: "زرغونې، ته پوهېږې چې زما حال اوس ښه نه دی. زما له ژوند نه زړه موړ شوی، هر څه نه راته نفرت راځي. خو د تېرو ورځو په پرتله یو څه بدل شوی یم. ستا نه مننه کوم، چې زما د ژوند لاره دې لږه بدله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه. تا زه بېرته ژوند ته راوگرځولم. که ته نه وای، شاید دا ورځې به ډېرې سختې وې. خو ته یې چې بیا بیا د ژوند هیله راکوي. د دې هر څه نه مننه."

"که زه بیا ژوند ته راگرځم، نو شاید بیا دا هر څه هېر کړم، او بیا مینه و نه کړم. نه یې شم کولی."

زرغونې ورته وویل:

هریو غم به درنه لر کم

خوشالی به در پسر کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

ستا خندا به راټولومه لکه پاڼې د گل لختي

په څه چل به ځان ځایومه ستا خندا کې شوخي مستي

تا به زړه تابه ځیگر کم

تابه رنگ د مازیگر کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

ستا اوتر اوتر نظر له به د مینې د لاسه شم

ددې ژوند د غم لښکر له به زړوره تلوسه شم

په غماز به سم محشر کم خپل نصیب به زورور کم

زه به دومره مینه درکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دنیا به شي حیرانه

خوشبویي ستا د ساګانو به ملګري د خپل سا کړم

په وړمو او په زلفانو به سپرلې ټول ورخطا کم

تا به ګل ځان به ډنډر کم اور به بل په لر او بر کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

د زرغونې خوږ غږ ته فراز په سوچ کې ډوب وو. هر بیت یې په زړه کې لارې جوړولې، لکه څرنګه چې نازنین هم دا سندره په ډېر دردناک او ښکلي غږ کې ویلې وه.

سندره پای ته ورسېده، خو فراز لا هم خاموش او په فکرونو کې ډوب و. زرغونې د هغه خیالاتو نړۍ ړنګه کړه او وویل:

"د غم زویه، ما په څومره مشکله درته سندره وویله، تا نه راته ډاډ راکړ او نه دې ستاینه وکړه."

فراز موسکی شو او ورته وویل: "زرغونې، الله درته ډېر ښکلی غږ درکړی دی. که هر څوک دا غږ واوري، نو خاموشه کېږي او د خیالونو په دنیا کې ورکیږي.

مننه، نن دې خو د خولې نه یو ځل یوه خوږه جمله زما لپاره راووتله."

زرغونې وخندل او ویې ویل: "هله، پاڅه چې ځو. غرمه نږدې ده."

فراز وویل: "زرغونې، که غواړې، غرمه به همدلته تېره کړو، بیا به لاړ شو."

زرغونې وخندل: "پاسې، د غم زویه، اوس نو راته غرمه د حیواناتو او ځناورو سره جوړوې؟ زو، کور ته."

په دې وخت کې مو کتل چې صدف او حسنا هم راغلل. صدف وویل: "لالا، وږې شوې یم، ماته بولاني واخله."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول د بولاني والا خواته لاړو، بولاني مې واخیستل او بېرته روان شوو. لنډه دا چې مازیګر شو او د فراز کورنۍ هم راورسېده. څانګه، چې د فراز په جدايي ډېره خفه شوې وه، د لیدو سره یې فراز ته غېږ ورکړه او ښکل یې کړ.

"وروره، اوس څنګه یې؟ دلته راغلی موږ دې هېر کړو. څومره درپسې خفه وم. یوه ورځ مې د خفګان له امله ډوډۍ هم ونه خوړله."

فراز موسکی شو او ویې ویل: "واه، زما لیونې خورې! ما خو کومه میاشت یا کال نه دی تېر کړی، یوازې دوه ورځې مې تېرې شوې دي."

د فراز مور هم د هغه په لیدو ډېر خوشاله شوه، غېږ کې یې ونیو او دواړه مخونه یې ښکل کړه. فراز هم د مور لاسونه ښکل کړل، بیا یې ورور ته غېږ ورکړه. ټول ډېر خوشاله وو، فراز ډیر بدلون موندلی و.

شپه شوه، ډوډۍ وخوړل شوه، خبرې ختمې شوې. میرویس کاکا او ریاض، د فراز ورور، په حجره کې پرېوتل، او فراز خپلې پخوانۍ کوټې ته لاړ. زرغونې څانګې ته وویل: "راځه چې ورور دې لږ تنګ کړو."

خو کله چې لاړې، فراز دروازه بنده کړې وه. دواړه ناهیلې بېرته راغلل. زرغونې فراز ته زنګ وواهه، خو هغه ځواب ورنه کړ.

شپه تېره شوه او د نازنین د ځلوېښتي خبرات پیل شو. د نازنین ټول خپلوان راغلي وو. خبرات ختم شو، نو د فراز مشر ورور، میرویس کاکا ته وویل: "موږ به لاړ شو."

میرویس کاکا او میرمن یې ډیر کلک وو چې پاتې شئ، خو دوي وویل: "کلي ته لاړ شو، هلته هم د خبرات پروګرام نیسو، او بیا به تاسو ټول راشئ. کوم خپلوان چې مو دي، هغوې هم دعوت کړي چې راشي."

په همدې خبرو یې خدای پاماني وکړه او لاړل کلي ته.

فراز زرغونې ته وویل زرغونې یوه خبره درته وکم...

زرغونه لګیا وه، د فراز په ویښتانو کې یې ګوتې وهلې،

او دا سندره یې په ډېر خوږ، نرم او غلي آواز کې پیل کړه، چې فراز یې د خیالونو دنیا ته بوتلو.

ما تصور دا ستا د زنې، ستا د خال کړی دی

د زړه کعبه کې مې طواف، ستا د وصال کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې دښته کې ښښې، ابله د ازغو په څوکو

د عشق منزل ته مې مزل، څه په کمال کړی دی

خلک لاس پورته کړي دعا، د جنتونو غواړي

ما د هر څه په بدل، ستا د مينې سوال کړی دی

زما هر سحر دې ستا شي، زما هر بېګا دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

ستا د ژوند د هرې لارې، ټول ازغې دې تل زما وي

د ګلونو خوشبويانې، د چمن ښکلا دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

دا د مينې تهمتونه او دردونه ماله راکه

زما زړه کې دا دعا ده، پوره هر ارمان دې ستا شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

دا دنيا مې پکار نه ده، نه جنت درنه زه غواړم

خدايه يو سوال مې قبول که، چې زما جانان زما شي

زما ټول عبادتونه، زما هره سا دې ستا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې سندرې سره د زرغونې له سترګو اوښکې روانې وې، ژړل یې،

او فراز ویده شو، او په زرغونه هم د خوب چپه راغله.

یوه شېبه وروسته چې فراز فکر شو، ویښ شو.

ګوري چې زرغونه په خواږه خوب، مخامخ ورسره ویده ده.

فراز د زرغونې سترګو ته وکتل. د زرغونې معصومې سترګې له اوښکو ډکې وې.

فراز زرغونه له تندې ښکل کړه.

او په خپلو لاسونو یې د زرغونې اوښکې پاکې کړې.

زرغونې په خوب کې د فراز نه لاسونه تاو کړل او فراز یې خپل ځان ته نږدې کړ.

لږه شېبه تېره نه وه چې په زرغونې یخني او لړزه راغله، ټول وجود یې رپېده. د بیداری احساس یې وکړ، خو زړه یې داسې ټکانونه خوړل چې د پاڅېدو توان یې نه درلود.

خپل سر یې د فراز سینې ته نږدې کړ.

د فراز هم پرې زړه درد وکړ او ځان ته یې نږدې کړه.

فراز غوښتل چې د زرغونې ساړه په خپل تنفس سره ختم کړي، نو د خپلې خولې ګرم پوکي یې د زرغونې مخ او ګریوان ته وکړل.

دواړه په لړزه شول. فراز ټکان وخوړ، کیناست او زرغونې ته یې په غلي غږ وویل:

"زرغونې... زرغونې!"

زرغونې په لړزیدلي غږ سترګې وغړولې: "څه دې، فرازه؟"

"زرغونې، پاڅه چې اذان ته لږ وخت پاتې دی، څوک را نه شي."

د زرغونې چې فکر شو، ځان ته یې وکتل، بیا فراز ته او د خوب ځای ته.

د وجود ټول ساړه یې ختم شول، خوله پرې ماته شوه، خپلې سترګې یې ټیټې کړې او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فرازه، وبښه، خوب وړې وم، په ځان نه پوهېدم."

فراز وویل: "الله دې وبښې، زرغونې، خو اوس لاړه شه، څوک را نه شي."

زرغونه پاڅېده او روانه شوه.

د فراز زړه درزېده چې هسې نه چا لیدلي وي.

په همدې سوچونو کې پروت وم چې اذان وشو. د لمانځه وخت شو، پورته شوم، لمونځ مې وکړ، بیا راغلم خپل ځای کې کښېناستم او کرم ریبم. له ځان سره خجالت وم.

په کراره مې له کوټې ووتم او لاړم حجري ته. هلته په انګړ کې کښېناستم چې کتل مې، حسنا راغله.

"لالا، دلته ولې یواځې ناست یې؟ راځه، دننه لاړ شو. چای هم تیاربږي، هلته به کښېنو."

ما ورته وویل: "حسنا جانې، راځه دلته کښېنه، ترڅو چې چای تیاربږي، دې تازه هوا نه به خوند واخلو."

هغه هم راسره کښېناسته. ویل یې: "لالا، نن به چکر ته ځو؟"

ما ورته وویل: "نه، نن نه، سبا به لاړ شو."

خو سبا مې د خور جانې څلوېښتي ده، بیا نه شو تللی.

زه بیا د نازنین په سوچ کې ډوب شوم او غلی پاتې شوم. حسنا وویل: "لالا، ولې غلی یې؟ یو څه ووایه، چکر ته ځو؟"

ما وویل: "سمه ده، مشوره به وکړو."

نن مې فکر بلکل بدل وو. زړه کې مې یو ډار وو، هر څه مې هېر وو.

په دې وخت کې د نازنین مور راغله. "فرازه زویه، راځه، چای تیار دی. چای وڅښو."

ما حسنا د لاسه ونیوله او روان شوو. کوټې ته لاړو. زرغونې چای راوړ، خو نن هغه هم خجالته وه او سترګې یې ټیټې وې. نه یې راته کتل. چای یې راته واچو، چای مو وڅښو.

د نازنین پلار وویل: "فرازه زویه، ستاسو کورنی ته مو پرون زنګ وهلی وو. نن هغوی هم راځي. سبا لخیره خیرات دی."

ما هیڅ ونه ویل. سر مې ټیټ کړی وو او خاموش ناست وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازنین مور وویل: "زویه جانه، مورې منو چې نازنین زمونږ لور وه، خو ته پرې زمونږ نه ډېر وردردیدلی یې او دردېږې لا."

"خو زویه، دا به قسمت وو. نور دې خپل ژوند ته فکر وکړه. ځوان یې، ستا د کورنۍ له تا ډېرې هیلې دي. که ته داسې خفه یې، هغوی به څنګه خوشاله شي؟ نو د خپل فامیل لپاره همت په ځان کې پیدا کړه. د خپلې مور، خور او ورونړو په مخونو کې خندا راوړه. په دې کار سره به نازنین درنه په قبر کې خوشاله شي. هغې هم ستا خوشالي غوښتله."

زرغونه همداسې خاموشه ناسته وه، نن یې هیڅ نه ویل. زما هم زړه درزېده.

ما وویل: "مورجاني، زه څنګه د نازنین یادونه هېر کړم؟ د هغې هر یاد مې په زړه او ذهن کې نیغ ولاړ دی. هر څه چې ګورم، هغه راته یادیږي."

مورجاني وویل: "پوهیږم، زویه، خو خیر. هڅه وکړه چې ځان کې قوت پیدا کړې."

حسنا وویل: "مورجاني، ته لالا ته وایه چې مورې چکر ته یوسي مازیګر."

د نازنین مور وویل: "اوس لاړ شئ. نن مکتب ته مزي لاړ شئ، چکر ووهوئ، ساعت به مو تیر شي."

حسنا خوشاله شوه. د نازنین د مور مطلب دا وو چې زما فکر بدل شي. زرغونې وویل: "امه، زه به هم ورسره لاړه شم."

ما وویل: "نه، نن مېلمانه راځي. ته کور ته پاتې شه چې د مورجاني سره کومک وکړې."

زرغونې وویل: "مېلمانه مازیګر راځي، او مورې به غرمه بېرته راشو."

بس، زرغونه هم راسره روانه شوه او لاړو باغ وش ته. حسنا او صدف له مورې نه بیل شول. زه او زرغونه یواځې پاتې شوو.

زرغونې ماته نه کتل. ما وویل: "زرغونې، څنګه نن غلې یې؟"

هغې وویل: "هیڅ، همداسې."

"خو فرازه، د بیګانې کار ښښنه غواړم. هیڅ پوهه نه وم چې خوب وړي ومه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

"خیر دې، زرغونې، زه پوهېږم چې ته خوب وړې وې، خو شکر دی چې څوک پر مونږ راغلي نه وو. کنه، قسم دی، چې له دې شرمه به مړ وای."

زرغونې وویل: "فرازه، شکر دی چې تا راویښه کړم او فکر دې وکړ. بل نږدې وو چې د زړه د درزا او ساړه له لاسه مې زړه له خولې وتلی وای."

"دا څه وو، فرازه؟ داسې کار خو په ما مخکې هېڅ نه و شوی."

د فراز سترګې له اوښکو ډکې شوې. هغه ته د نازنین سره د لومړي ځل لیدل یاد شول، چې دواړه همداسې یخ نیولي او رپېدلي وو.

زرغونې ورته وویل: "ته راځه، دلته کښېنه." بیا یې د فراز له سترګو اوښکې پاکې کړې.

"فرازه، ولې؟ څه دې یاد شول؟"

فراز وویل: "زرغونې، ماته زما او د نازنین لومړنی ملاقات یاد شو. هغه شپه چې په هوټل کې وو، زه او هغه همداسې یخ نیولي وو."

زرغونې پوښتنه وکړه: "فرازه، دا ولې داسې کېږي؟"

فراز ځواب ورکړ: "زرغونې، نور نه پوهېږم. خو شاید کله چې دوه نابلده روحونه یو بل ته نږدې کېږي، نو داسې کېږي."

زرغونې وویل: "فرازه، نه پوهېږم، خو چې ستا سره یم، زړه مې ډېر ارام او راحت وي. خوشاله یم. او ته؟"

فراز ورته وویل: "زرغونې، ته پوهېږې چې زما حال اوس ښه نه دی. زما له ژوند نه زړه موړ شوی، هر څه نه راته نفرت راځي. خو د تېرو ورځو په پرتله یو څه بدل شوی یم. ستا نه مننه کوم، چې زما د ژوند لاره دې لږه بدله کړه. تا زه بېرته ژوند ته راوګرځولم. که ته نه وای، شاید دا ورځې به ډېرې سختې وې. خو ته یې چې بیا بیا د ژوند هیله راکوي. د دې هر څه نه مننه."

"که زه بیا ژوند ته راګرځم، نو شاید بیا دا هر څه هېر کړم، او بیا مینه و نه کړم. نه یې شم کولی."

زرغونې ورته وویل:

هریو غم به درنه لر کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشالۍ به در پسر کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

ستا خندا به راټولومه لکه پاڼې د ګل لختي

په څه چل به ځان ځایومه ستا خندا کې شوخي مستي

تا به زړه تابه ځیګر کم

تابه رنګ د مازیګر کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

ستا اوتر اوتر نظر له به د مینې د لاسه شم

ددې ژوند د غم لښکر له به زړوره تلوسه شم

په غماز به سم محشر کم خپل نصیب به زورور کم

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

خوشبویي ستا د ساګانو به ملګري د خپل سا کړم

په وږمو او په زلفانو به سپرلي ټول ورخطا کم

تا به ګل ځان به ډنډر کم اور به بل په لر او بر کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به دومره مینه درکم

چې دنیا به شي حیرانه

د زرغونې خوږ غږ ته فراز په سوچ کې ډوب وو. هر بیت یې په زړه کې لارې جوړولې، لکه څرنګه چې نازنین هم دا سندره په ډېر دردناک او ښکلي غږ کې ویلې وه.

سندره پای ته ورسېده، خو فراز لا هم خاموش او په فکرونو کې ډوب و. زرغونې د هغه خیالاتو نړۍ ړنګه کړه او وویل:

"د غم زویه، ما په څومره مشکله درته سندره وویله، تا نه راته ډاډ راکړ او نه دې ستاینه وکړه."

فراز موسکی شو او ورته وویل: "زرغونې، الله درته ډېر ښکلی غږ درکړی دی. که هر څوک دا غږ واوري، نو خاموشه کېږي او د خیالونو په دنیا کې ورکیږي.

مننه، نن دې خو د خولې نه یو ځل یوه خوږه جمله زما لپاره راووتله."

زرغونې وخندل او ویې ویل: "هله، پاڅه چې ځو. غرمه نږدې ده."

فراز وویل: "زرغونې، که غواړې، غرمه به همدلته تېره کړو، بیا به لاړ شو."

زرغونې وخندل: "پاسې، د غم زویه، اوس نو راته غرمه د حیواناتو او ځناورو سره جوړوې؟ زو، کور ته."

په دې وخت کې مو کتل چې صدف او حسنا هم راغلل. صدف وویل: "لالا، وږې شوې یم، ماته بولاني واخله."

ټول د بولاني والا خواته لاړو، بولاني مې واخیستل او بېرته روان شوو. لنډه دا چې مازیګر شو او د فراز کورنۍ هم راورسېده. څانګه، چې د فراز په جدایي ډېره خفه شوې وه، د لیدو سره یې فراز ته غېږ ورکړه او ښکل یې کړ.

"وروره، اوس څنګه یې؟ دلته راغلی موږ دې هېر کړو. څومره درپسې خفه وم. یوه ورځ مې د خفګان له امله ډوډۍ هم ونه خوړله."

فراز موسکی شو او ویې ویل: "واه، زما لیونې خورې! ما خو کومه میاشت یا کال نه دی تېر کړی، یوازې دوه ورځې مې تېرې شوې دي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فراز مور هم د هغه په ليدو ډېر خوشاله شوه، غېږ کې يې ونيو او دواړه مخونه يې ښکل کړه. فراز هم د مور لاسونه ښکل کړل، بيا يې ورور ته غېږ ورکړه. ټول ډېر خوشاله وو، فراز ډير بدلون موندلی و.

شپه شوه، ډوډۍ وخوړل شوه، خبرې ختمې شوې. ميرويس کاکا او رياض، د فراز ورور، په حجره کې پرېوتل، او فراز خپلې پخوانۍ کوټې ته لاړ. زرغونې ځانګې ته وويل: "راځه چې ورور دې لږ تنګ کړو."

خو کله چې لاړې، فراز دروازه بنده کړې وه. دواړه ناهيلې بېرته راغلل. زرغونې فراز ته زنګ وواهه، خو هغه ځواب ورنه کړ.

شپه تېره شوه او د نازنين د څلوېښتي خېرات پيل شو. د نازنين ټول خپلوان راغلي وو. خېرات ختم شو، نو د فراز مشر ورور، ميرويس کاکا ته وويل: "مور به لاړ شو."

ميرويس کاکا او ميرمن يې ډير کلک وو چې پاتې شئ، خو دوي وويل: "کلي ته لاړ شو، هلته هم د خېرات پروګرام نيسو، او بيا به تاسو ټول راشئ. کوم خپلوان چې مو دي، هغوې هم دعوت کړي چې راشي."

په همدې خبرو يې خدای پاماني وکړه او لاړل کلي ته.

فراز زرغونې ته وويل زرغونې يوه خبره درته وکم...

فراز زرغونې ته وويل:

"زرغونې، له تا ډېره مننه کوم چې په دې سختو وختونو کې دې زما ملتيا وکړه. تا زه په دې غمونو او کړاوونو کې يوازې پرېنښودې، سختۍ دې راسره تېرې کړې. تا زما رټل او بد چلند وزغملو، نه پوهېږم چې زه به ستا دا نېکي څنګه جبران کړم او دا پور به څنګه پرې کړم."

زرغونې وويل:

"فرازه، ما هېڅ نېکي نه ده کړې او مه ورته د نېکي او احسان نوم ورکوه. له هغه لومړۍ ورځې چې مونږ درېواړه په هوټل کې د غرمې ډوډۍ خوړله، کله چې په نااشنايي کې دې ماته عزت او احترام راکاوه، او په تېرو وختونو کې دې په ما څومره باور کولو. زما نېکي د هغې په مقابل کې لکه د سمندر په منځ کې د باران يو څاڅکی په اندازه هم ده. که يو دوست د خپل دوست په سختۍ کې ورسره ولاړ نه شي، نو بيا هغه دوستي نه شوه."

خو، فرازه، زه ستا د ځواب په انتظار يم. او دا هم واوره، که اوس منفي ځواب راکړې هم، زه به خفه نه شم.

دا چې ته بيرته ژوند ته راګرځېدی، دا ماته هرڅه دي. ما صرف دا غوښتل چې تا يو ځل بيا خوشاله ووينم، او بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراز د زرغونې په دې خبرو حیران پاتې شو. هغه په زړه کې احساس کړ چې زرغونه له څومره خلوص سره د هغه په ژوند کې شریکه وه، خو بیا هم نه پوهېدو چې څنګه دې پوروړي احساس ته ځواب ورکړي. د زرغونې د خبرو اخري جمله چې "زه اوس نه خفه کېږم که منفي ځواب هم راکړې"، د فراز زړه ته لاره وکړه. هغه ځان سره وویل، "دا څومره سپېڅلې او زړوره ده."

فراز په ټيټه لهجه کې ورته وویل: "زرغونې، زه تر اوسه دې خبرو ته اوزګار شوي نه یم. نازنین ته مې ژمنې ورکړې وې، خو ژوند راته یوه نوې لاره خلاصه کړې ده، چې ته یې برخه یې. زه نه غواړم چې تا خفه کم او ستا احساساتو سره لوبې وکړم."

زرغونه له فرازه مخ اړوي او په آرامه وايي: "فراز، زه پوهېږم چې ستا زړه کې د نازنین ځای خالي دی، او دا ځای هیڅوک نه شي ډکولی. ما د ملګرې په توګه ومنه، او که ژوند مونږ لپاره څه نوي پلان لري، نو زه به په تمه یم. خو که نه، نو هم دومره ماته کافي دي چې ته بېرته ژوند ته راستون شوي."

فراز د هغې نرۍ موسکا ولیده، چې د هغې د زړه ژورې خبرې یې پټې کړې. هغه ځان سره ژمنه وکړه چې د زرغونې دا لوی زړه به هیڅکله نه ماتوي. "زرغونې، زه به ضرور درته ځواب درکړم. د نازنین د خیرات څخه وروسته به له تاسره خبرې وکړم."

زرغونې په سترګو کې د خوشالۍ اوښکي راغلي، خو ژبه یې ارامه وه. "هر څه به خپل وخت ته پرېږدو، فرازه. زه انتظار کوم."

فراز کلي ته ناوخته ورسید. هغه په مستقیم ډول هدیرې ته لاړ او د نازنیني د قبر ترڅنګ کیناست.

"نازنین، نه پوهیږم څنګه در ته ووایم. ما ته خو دا ډېره سخته ده چې تا سره کړې ژمنې ماتې کړم او په خپل ژوند کې بل څوک شریک کړم. زرغونه ډېره معصومه ده. ستا له تلو وروسته، هغې له ما سره ډېرې سختې تیرې کړي دي. زما بد چلن، کنځلې، او رټل یې یوازې د دې لپاره زغمل چې زه بیرته ژوند ته وګرځم.

اوس هغه هم نه پوهیږي. خپل زړه یې ما پورې تړلی، او مانه یې ځواب غواړي. زه ورته څه ووایم؟ زه ستا مرستې ته اړتیا لرم، نازنین.

خیر دی، نن شپه راته دا مشکل حل کړه. راته ووایه چې زه زرغونې ته څه ووایم. زه به دې په طمعه یم، زما شهیدې مینې، زما د غم ملګرې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره فراز په هديره کې په چغو او سلګو شو، ښه يې وژړل، زړه يې سپک کړ. بيا خاموش روان شو او کور ته ستون شو. ډوډۍ يې وخوړه، خپلې کوټې ته لاړ او پريووت.

په دې وخت کې زرغونې ورته زنګ ووهه. فراز ډېر خفه و، او فکر يې بيا بدل شوی و. هر څه ورته له پامه بد راتلل.

زرغونې سلام وکړ. "څنګه يې، فرازه؟"

فراز وويل: "زرغونې، ښه نه يم. اړيکه بنده که."

زرغونې وويل: "يوه خو ته د غم زوی يې، کله هم خوشاله نه يې."

په دې سره فراز اړيکه بنده کړه. زرغونې بيا زنګ ووهه، خو فراز ځواب ورنه کړ.

زرغونې مسج وکړ: "فرازه، که دې ځواب رانکړ، نو يو ساعت پس به مې خپل ژوند ته د پای ټکی کېښودم."

فراز بيا ځواب ورنه کړ. زرغونې بيا زنګ ووهه، خو فراز په خپلو غمونو کې ډوب پروت و او ژړل يې.

يو ساعت تير شو. زرغونې حسنا ته وويل: "ته به د مور جانې په موبايل فراز ته زنګ ووهې، په ژړا کې به ورته ووايې چې زرغونې زهر خوړلي او مړه پرته ده، هسې يې تنګو

حسنا لاړه، د مور جانې نه يې موبايل واخيست او د زرغونې ترڅنګ راغله.

زرغونې د فراز نمبر وهي او زنګ ورته وهي.

فراز چې موبايل وکتو، ګوري د نازنينې د مور نمبر دې. په ويره کې کټ کې کيناستو او موبايل اوکي کړو. "سلام مورجانې!"

ورسره سم د حسنا د ژړا غږ شو: "فراز لالا! فراز لالا!"

فراز په وارخطايي کې وايي: "څه خبره ده، حسنا؟ ته ولې ژاړې؟ کور ته خو خير دی؟"

حسنا په ژړا کې بيا وايي: "فراز لالا... زرغونه... زرغونه..."

"څه شوي زرغونې؟ به وهلي نې؟"

"نه لالا، زرغونې زهر خوړلي او په کوټه کې مړه پرته ده!"

دی وخت کې د فراز له خولې يوه سخته چغه راوځي، او په زوره زوره وژاړي. مور يې کوټې ته ننوزي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فرازه، فرازه! پاسه زویه، څه خبره ده؟ څه شوي؟"

فراز ټکان وخوري، له خوبه پاڅي. سترګې يې له ژړا ډکې او زړه يې په بې واره درزيږي.

"مورې، زرغونه هم د نازنين په شان مړه شوه، او زه يې پرېښودم!"

فراز په سلګو شي. مور يې ورته وايي:

"فرازه، دا ته څه وايې؟ خدای دې نه کړي! تا بد خوب ليدلی، ځکه د شپې دې لمونځ نه دې کړی."

فراز د مور نه غيږ تاو کړي او په سلګو شي. شاوخوا ته ګوري، هر څه بدل وي.

ټوله کورنۍ يې راشي. ورور يې وايي: "دا څه غوبل مو جوړ کړی؟ چغې وهئ، څه خبره ده؟"

فراز د ورور نه غاړه تاوه کړي. "نازنين او زرغونه دواړه مړه شوې!"

ورور يې ورته وايي: "دا څه د خرو خبرې کوې؟ هغوی خو ژوندۍ دي!"

بيا ژر موبايل واخلي او نازنينې ته زنګ ووهي. نازنين موبايل اوکي کړي:

"سلام فرازه!"

فراز په ژړا کې چغې کړي: "خدايه، ستا ډېر شکر دی!" او بيا موبايل مچ کړي.

نازنين ورته په حيراني سره وايي: "فرازه، څه خبره ده؟ ولې ژاړې؟"

فراز خبرې نه شي کولی، سلګۍ وهي: "زرغونه... زرغونه چيرته ده؟ څنګه ده؟"

زرغونه چغه کړي: "فرازه، څه خبره ده؟ زه دلته يم!"

فراز شکر وباسي. کله د مور نه غاړه تاو کړي د خوشالۍ نه، کله د ورور نه، کله د خور نه، او کله د ورينداړ نه.

مور يې وايي: "راځه فرازه، راځه!" او ټول له کوټې نه وځي. دوی د ناستې کوټې ته ځي او هلته کيني.

مور يې بيا وايي: "فرازه، څه خبره ده؟

فراز ټولو ته کيسه وکړه او ژاړي، ټول خفه شي.

فراز ښانګې ته وويل: "ماته جامې راکړه، زه زم نازنين ګورم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور او ورور یې وویل: "نه، اوس مه ځه،دلته مو واده پسر پورت دې. نه غواړو چې ځه درباندې وشي."

فراز وویل: "نه، زه واده نه کوم. زه باید نازنین وګورم، کنه زړه مې چوي."

هلته نازنین او زرغونه په اندیښنه کې شول چې ولې فراز داسې بې واره سلګۍ وهل او ژړل یې. هغوی فراز ته زنګ وواهه.

"فرازه، څه خبره ده؟ څه شوي دي؟ ستا حالات ولې داسې دي؟ ولې ژاړې؟"

فراز ځواب ورکړ: "نازنین، درځم، له نږدې دې ګورم. زړه مې صبر نه کوي. ټوله کیسه به درته وکړم."

فراز جامې بدل کړې، د مور نه یې دعا واخیسته، او د کابل په لور روان شو. دومره خوشاله او ورخطا و چې غوښتل یې وزرونه وکړي او والوزي، د ناوزنین خواته ځان ورسوي.

په ټوډي موټر کې کیناست، ټوله لار یې شکرونه ویستل او دعاګانې یې کولې.

هلته نازنین چې خبر شوه فراز راځي، ځان یې لکه د ناوې سنګار کړ او په طمعه کیناسته. ټوله لار یې فراز ته زنګونه وهل.

د نازنین پلار خپل ولایت او کلی ته تللی و، او مور یې هم خپلوانو ته د واده دعوتونه ورکولو لپاره تللې وه.

لنډه دا چې فراز د نازنین کور ته نږدې شو. زنګ یې وواهه: "نازنین، ور خلاص پرېږده. یو سیکنډ انتظار هم نه شم کولی، کنه نور به مړ شم."

نازنین هم د کور ور خلاص پرېښود، خو زرغونه ورسره د کور په انګړ کې ولاړه وه.

فراز سا نیولي او سترې ګوګل کور ته ننوت. څنګه چې یې په نازنین سترګې ولګېدې، منډه یې کړه، سلګۍ ونیوه او نازنین نه یې کلکه غاړه تاوه کړه. لکه د لېونو، په غاړه یې پرېوت او ښه یې وژړل. بیا یې ښه ډېره ښکل کړه. ځمکې ته ښکته شو، د شکر سجدې یې وکړې.

بیا پورته شو، د زرغونې نه یې هم غاړه تاوه کړه، او اوښکې یې روانې وې. ژړل یې او زرغونه یې هم ښکل کړه. نازنین د لاس نه ونیوه:

"راځه، فرازه، کوټې ته لاړ شو."

درې واړه روان شول، کوټې ته لاړل او کیناستل. نازنین ته یې وویل: "خواکې مې کینه." نازنین کیناسته، او فراز یې سر په زنګون کېښود. نازنین یې اوښکې پاکې کړې او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فرازه، زما زړه دې له خفګانه اوچو. څه خبره شوې؟ ولې داسې ژاړې؟"

فراز کیناستو نازنین یې بیا ښکل کړه او کیسه یې ورته شروع کړه

نازنین هم خفه شوه خو کله چې یې د خپل او زرغونې اړیکي په اړه وویل نازنین غوصه شوه

فرازه دومره ژر بیوافا شوي وي چې زما د قبر کبل لا اوچه شوي نه وه زما د څلویښتي خیرات شوي نه وو او تا بیا د زرغونې سره اړیکه جوړه کړي وه

زما مینه دومره کمزوره وه

او بیا نازنین زرغونې ته مخ واړو ته خو مې دستي میراث ته بلوهلي ناسته یې اوس به هم دعا کوي چې زه مړه شم چې فراز درته پاتي شي

زرغونې خاندل نو زما څه ګناه ده داخو د فراز خوب وو څه ریښتیا خو نه وو

او کله مې چې نازنین ته د زرغونې د هغې شپې کیسه وکړه چې ماسره ویده شوي وه نو نازنین بالښت پورته کړو او دوه بالښته یې ووهلم د غم بچیه ته صبر ټوپک راوړم په خپلو لاسونو دې مړ کوم تا لا دې سپیري سره شپه کړي او په ژړا شوه

لاس مې ترینه تاو کړو ګراني ته پوهیږي چې ما ستا په مرګ دومره ژړلي وو چې نور مې سترګو کې اوښکي نه وي

که دا زرغونه نه واي ما ځان وژنه کوله خو دي بیچاره زما له غمه چې ما ورته انکار وکړو زهر وخوړل او ځان یې مړ کړو

نازنین وویل که زه واي ما ورته خپله یو چارک زهر ورکول

ما د نازنین نه لاس تاوکړي وو زرغونه پاسیده چاي پسي لاړه

ما نازنین ته وویل ګراني زه ډاریږم چې دا خوب مې ریښتیا نه شي او تا په ریښتیا د لاسه ورکم

نازنین وویل نو حل لاره څه ده فرازه څه وکو زه ته مه رازه ما پسي زه به درشم

زه د غم لوري که په تا څه وشي خو بیا همدا خبره شوه

خه نو څه وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي به وکړو چې مه ته رازه او نه زه واده به وکړو زه به کله کله په چکر درزم

کنه پيدا دي وړم

کينه د غم زويه مه ته رازه او نه زه

چې همدا اوس مړه کيږم زه درم

نازنين مې غيږي ته جوخته کړه زرغونې چای راوړو گلاسونه يې ډک کړ کيناسته

زرغونې وويل خه فرازه بيا هغه شپه نور څه وشول

ما ويل بيا په ما او تا لړزه دي وخت کې مې نازنين په خوله لاس کيښود او په تشي کې يې وڅکوندلم د غم زويه بله خبره دې له خولې وانه ورم زرغونې وخاندل ته خو غلې شه ميراث خوري

ما بيا وويل نازنين ته پوهيږي زرغونه او زه داسي رپيدو لکه هغه هوټل کې چې زه او ته رپيدو

نازنين د غوږ نه تاو کړم نور بس کوي کنه

چای مو اوڅښبو ډوډۍ نه وروسته مې وويل زرغونې زه به نور لاړ شم په ما خو مرک تير شوي وو اوس مې سترگې خوږي شوي ته مې وليدې هيڅ يقين مې نه کولو

او بل سبا نه بل سبا هسي هم درپسي درزو وړو دې

نازنين وويل پاتې شه شپه وکړه پلار مې هم نشته کور يوازي دې

ما ويل نه يوازي ستا او د زرغونې ليدل مې ارمان وو هو لک به انتظار وکم چې حسنا او صدف هم وگورم

چې کتل مو هغوې هم راغلل منډې يې کړل له غاړي مې تاوي شوي دواړه مې ښکل کړل او حسنا مې له غوږونو تاوه کړه چې تا ولې ويلي چې زرغونې زهر خوړلي

هغه حيرانه شوه لالا ما کله ويلي زه خبره نه يم

ولي هغه خوب کې دې راته زنگ نه وو وهلې

زرغونې او نازنين وخاندل

رخصت مې ترينه واخيسته او روان شوم په تلو کې نازنين راته اواز وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د غم زویه ته کوټې ته راشه یو څه درکوم دا هم یوځه نازنین مخکې او زه ورپسې کوټې ته دننه شوم

څنګه چې کوټې ته دننه شوم، نازنین د ګریوانه ونیوم او په غوسه یې وویل، "ته چېرته داسې په اسانه راڅخه تللی شې؟ تا خو د ژړا او دوکې په بهانه د زرغونې په مخکې زه داسې ښکل کړم او داسې غاړه دې رانه واخیسته، ته به وایې زه دې په کور کې نکاح شوې ناسته یم!"

ما په ارامۍ وویل، "نازنین، ته څه کوې؟ اوس به څوک راشي او وبه مو ګور که چا ولیدو پوزه به مې پرې شي، مور به په لوی شرم کې اخته شو!"

نازنین په خندا وویل، "ته دې د خپلې پوزو غم خورې؟ دا زما لکه پوزه نه وه، د جوارو توقه وه!"

دې خبرې سره مې خدای خندا راوسته او په لوړ اواز مې وخندل. نازنین په غوصې سره راته وویل، "ته لا راته خاندې؟" او بیا یې د غوږه ونیولم او کش یې کړم.

ما ورته په عاجزۍ وویل، "نازنین، غوږ مې پرېږده، سور کېږي او بیا به زرغونه پوهه شي!"

نازنین په موسکا کې وویل، "پوهه دې شي، څه پروا لري؟ بیا یې غاړه راکړه."

راته یې وویل، "خو د غم زویه، پاتې شه، شپه وکړه او سهار وختي لاړ شه."

ما ورته وویل، "نه نازنین، واده ته یوازې دوه ورځې پاتې دي. هلته د واده تیاریانې کوو، نه شم پاتې کېدلی."

نازنین خه کلک نیولی وم او خه ډیر ډېر یې ښکل کړم. ما ورته وویل، "نازنین، زړه دې اوس سم شو؟"

نازنین په خندا کې راته وویل، "نه، دا مټ دې دې خوا کړه!" او بیا یې په مټ داسې کلکه چکه ولګوله چې د هغې غاښونه مې په مټ کې دننه شول. ما د شرم او ویرې له کبله چغه نه شوه کولی، ځکه چې څوک پوهه نه شي، خو د درد له لاسه مې له سترګو اوښکې راغلې.

بیا یې راته وویل، " د غم زویه، دا یاد ساته، زه به دې یادېږم."

مور دواړه ووتلو. زرغونه او نازنین تر دروازې پورې راسره راغلل. ما زرغونې ته وویل، "ته لږ نږدې شه." نازنین په بېړه وویل، "زه، زه، ناوخته کېږي."

ما زرغونه له سره ښکل کړه او ورته مې وویل، "شکر چې خوب و. د نازنین په اړه خو زه خفه نه وم، هغه خو مړه وه، خو ستا په اړه ډېر خفه وم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین له شا خوانه کش کړم خا زه خیر دیته خفه وي زه به دې خوښه شم دا دوه ورځې خې په خوشالۍ سره تیري کړه نوره خوشالي دې ختمیږي دومره به دې وکړوم چې دا میراث خوره دې له یاده اوباسم

ما وویل نازنین ته مې یوځل بیا پریږده چې زرغونه د سر نه ښکل کم

نازنین د لاس نه کش کړم هله زه چې بیا دربانديې شپه راځې

مخه خه مو وکړه او ترینه روان شوم

زرغونې نازنین ته وویل د امه لوري کوشش وکه چې د همیشه لپاره فراز او د هغې کورني خوشاله اوساتي د فراز کورني ډیره مینه ناکه او خه کورني ده فراز خو دې هسي هم خاوند دې ته به کوشش وکړي چې د کورني او خپلوانو زړونه یې خپل کړي نو ته به بیا خوش قسمته اوسي

داسي نه وي چې یواځې فراز خپل کړي او نور شاته کړي دې کار کې ته خوشالي نه شي ترلاسه کولي

ژوند او سکون د ټولي کورني په موجودید کې وي

که خبره شوم چې هغوي دې خفه کړي نو د امه لوري زما خبره په خلاسو غوږونو واوره چې رازم او د بني په سره در باندې کینم

زما خبره دروغ ونه ګڼې

نازنین وخاندل او وي ویل هو نو ته خو په ترپ ناسته یې زما میراث ته او ته بي غمه شه دا موقه به درته در نکړم او دا ارمان به دې په زړه کې پاتي کم

زرغونې وویل زه هم همدا غواړم خو خبره اوسه دواړه لاړل کوټې ته

فراز کلي ته ناوخته ورسیدو په ټوله لاره کې یې کلیوالو ورته زنګونه وهل چې هلکه شپې ته مو درله د نګریزو پروګرام جوړ کړي چې وختي راشي

فراز چې ورسیدو ورونړو یې حجره جوړه کړي وه څراغونه یې په کې روښانه کړي وو د چایو انتظام یې کړي وو

لږه شیبه وروسته د کلي هلکان سره د نکریزو منګي او رباب سره راغلل

پروګرام جوړ شو هلکانو ګډاګاني او سندري شروع کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کليوال ځوانان خو داسي پروګرامونو ته بهانه ګوري چې ټول سره يو ځای شي

فراز به کله کله د خپل ليدلي خوب فکر کې لاړو ټکان به يې وخوړو

دي وخت کې نازنين زنګ ووهو فراز موبايل اوکي کړو

نازنين چې د خلکو شور چکي سندري او د ساز اواز واوريدو فراز ته يې وويل ني ني ماته به سندره وايي موبايل دې مخامخ جيب کې واچوه مه يې بندوه

فراز د حجري نه ووتو او نازنين ته يې وويل د غم لوري شرم دې دا خلک به څه وايې

بس خلک چې هرڅه وايې زه يې کيسه کې نه يم ماته به سندره وايې

فراز وويل ته يې څه کيسه کې يې شرم ته ما جوړوي خو زما خبره هم ياد لره چې بيا زه هم درباندې يو کار کوم

نازنين وويل بس ماته قبول دې ستا هر شرط خو ماته سندره ووايه

فراز وويل سمه ده خبري به نه کوي

حجري ته لاړم مجلس شروع وو هلکانو کش کړم چې فرازه يو دوه سندري ووايه ما هم بهانه غوښتله خو د شرم لپاره به مې ويل هلکانو خه خبره نه ده بده ده چې زه سندري ووايم خو کش يې کړم

زه هم کيناستم او سندره مې شروع کړه

ستا مينې ديوانه کړم مجنو يې مستانه کړم

ستا مينې ديوانه

ليلا د رنګه توره مجنونه ورته ګوره

ليلو خمارو سترګو زه ورک په بيابانه کړم ستا مينې ديوانه

مجنون ويلي ليلي نور مه کوه ګيلي

زما سره پخلا شه چې جوړه يارانه کړم ستا مينې ديوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیلا ویل مجنونه لک راشه جیگر خونه

یو ساعت راسره کینه چې ځان مې مستانه کړم ستا مینې دیوانه

چې محبوبه دې ځنګوینه وا د غاړې لونګینه نن دي دوران دې

دا دوه سندري مې وویل نور ترینه شاته شوم موبایل مې له جیبه غلې ویسته او په ارامه له حجري ووتم

نازنین او زرغونې وویل مننه کوم ډیر خوند یې وکړو

ما ورته وویل نازنین زما شرط ته هم امده اوسه او یاد یې لره

ویل یې سمه ده خو خیر دې اوسي نه یې ووایه چې ځان امده کم

ما ویل اوس یې نه وایم پیا یې چې وخت راغې درته یې وایم

زرغونې غږ کړه فرازه که ستا شرط یې ونه منلو نو بیا ماته ووایه چې په زور یې ورباندې ومنم

ما وویل سمه ده زه ځم حجري ته تاسي ویدي شي

لاړم حجري ته هلکانو نکریزي واخیستي او راته یې ووهل

هلکانو خپلو ځانونو ته هم ووهل پروګرام ختم شو څه هلکان لاړل او څه حجره کې ویده شول

ما ترینه اجازه واخیسته فیاض مې ورسره پریښودو او زه کور ته دننه شوم ویده شوم

سهار وختي پاسیدم د لمانځه نه وروسته مو د واده لپاره پروګرام برابر کړو چې باید نن دا کارونه ټول ختم کړو

ځکه چې سبا سهار د ناوې پسي تک دې واپس ایله ماښام ته ورسیږو نو د ماښام نه واده شروع کیږي او بله ورځ غرمه ختمیږي

ټوله ورځ مو په منډو تیره کړه ماښام ته بیا د نکریزو پروګرام شو د تره زامنو او لورګانو پروګرام نیولي وو بیا تر نیمي شپې کیناستو

سهار شو موټري مو وغوښتل د تک لپاره څلور موټري شوي د کلي څه ځوانان او مشران مو هم واخیستل خپلوان هم شول

دلته مو د ماښام پروګرام لپاره فیاض سره د تره ځوي مې ماما دوه زامن یو څو کلیوال پاتي شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې راسره شوه څانګه او ورينداً مې پاتې شول چې ميلمان وو کور کې او بل مازيګر څه خپلوان او کليوالي ښځې او انجوني هم راتلل نو دوي مو د کور لپاره پريښودي

ورور مې ميرويس کاکا ته زنګ ووهو چې مونږ حرکت وکړو دومره نفر يو

روان شولو تر غرمې مو ځان ورسو ډوډۍ مو وخوړه

ميرويس کاکا ته مو وويل چې مونږ ته رخصت راکړه چې مونږ لاړ شو

زه او نازنين يې کور کې جوړه کينولو ترڅو د نازنين خپلوان ما وګوري

د تره زوی مې موټر کور ته دننه کړو نازنين زرغونه او مور مې شاته سيټ کې کيناستل

دا چې نوره کيسه په خوب کې تيره شوي نه غواړم چې بيا يې تکرار کم نو حرکت مو وکړو

مور مې نازنين ته قران کريم غيږه کې ورکړو چې لوري دا واخله

ورور مې په تره زوی ډير ټينګار وکو چې په لاره کې ډير په ارامه زه همداسي وشول قضا مازيګر کورته ورسيدو

کلی ته په رسيدو زوانانو وسلي ويستلي او په ډزو شول

د کلي ماشومانو مو مخي ته په منډه شول يو چغه او د خوشالی شور جوړ شو

کليوالو ښځو هم کورونو نه حرکت وکړو زمونږ نه مخکي زمونږ کور ته ورسيدې ترڅو ناوې وګوري

موټر چې د کور په دروازه ننوتو د ماشومانو او د ښځو غوبل جوړ وو دننه شولو د شيرينيو او چاګليټونو باران جوړ شو لپي پلي راوريدله

د موټر نه ښکته شوم نازنين ته مې دروازه خوشي کړه نه ښکته کيده غوښتل يې ما وزوروي ما خپل دستمال څانګي ته ورکړو ته دا ونيسه چې په غيږه کې ښکته کړم

نازنين پوهه شوه رو يې راته وويل صبر وکړه د غم زو اوس مې شرموې لاس يې را اوږد کړو د موټر نه راووته او بيا د ميو باران شو ما لاس د نازنين مخ ته نيولي وو چې ونه لګيږي

لاړو د ناستي ځای يې جوړ کړي وو هلته کيناستو امپيتري چالانه شوه او ګډاګاني شروع شوي

زرغونه او څانګه راغلل زه يې هم کش کړم او نازنين يې هم پاڅوله

دواړه په ګډا شولو ټولو ښځو او انجونو خندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډا مو ختمه کړه د کیک او شربت مراسم ختم شول ما نازنین ته وویل زه به لاړ شم بیرون چې د واده پروګرام روان دې

نازنین غلې شانتې زما غوږ کې وویل ګوره چې ډیر وخت تیر نه کړې ما ویل سمه ده

بهر ووتلم هرڅه سم روان وو د شپې ډوډۍ مو ورکړه د سیل پروګرام هم شوې وو

ما پسې مې ورور راغې ته راشه کور ته چې ملا صیب مو راوړې نکاح دې وتړې

لاړم د نکاح مراسم هم خلاص شول بیرون سیل شروع شو ما غوښتل یو ځل نازنین وګورم

کله چې د کوټې مخې ته ورسیدم نو کوټه له انجونو ډکه وه زرغونه ووتله او راته یې وویل شا صیب اوس لپاره تاسو نه شې کولې چې خپلې کور ودانې سره وګورې تاسو به د هغې لیدلو لپاره کم څه کم درې څلور ساته انتظار کوې

ما سټ وګرو زرغونې خیر دې دروازې نه یې یوځل ګورم

زرغونې راته اجازه رانکړه او بهر ووتلم

سیل خه په ګرمه کې وو ګډاګانې سندرې خوشالې لاړم د ملګرو سره کیناستم

نه پوهیږم چې هیڅ خوند یې نه راکو زړه مې درزیده او یوه ویره راسره وه ملګرو به خندل خبرې به یې راسره کولې خو زما فکر کې نازنین وه

یو وخت ملګرو نکریزې تیارې کړې د هنرمندانو مخې ته یې چوکې او میز کیښود زه یې کینولم د نکریزو سندره چالانه شوه ملګرو راته نکریزې ووهل هلته کور کې هم د تخت شانې مراسم جوړ شول لاړم کور ته نازنین په چوکې ناسته وه زه یې هم خوا کې کیناستم نازنین په خپلو نرمو لاسونو زما لاس ونیوه د شرم نه یې نه کتل ساه یې اخیستله او په لاس کې راته نکریزې ووهل ټولو چغې او چکې کړې خو نازنین ډیره ورخطا ښکاریده لکه زما یې زړه بې واره درزیده

ما ورته غوږ کې وویل د غم لورې ولې داسې ورخطا یې

هغې وویل لارې شه هیڅ نشته

ما ویل څه خبره خو شته زما هم زړه درزیږې ویل یې لرې شه کنه چغه وهم

زرغونې مونږ ته خندل راغله ویل یې فرازه دا څه پخ پخک کوې څه خبره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل هیڅ هسي دینه مې پوښتنه کوله چې مور او پلار ته دې ویلي چې زه دلته یم دي سره نازنین مسکي شوه او زرغونې خه وخاندل

د نکریزو پروګرام ختم شو بهر ووتم سیل هماغسي په درز کې شروع وو

شپه نیمي ته رسیدلې وه کور کې ارامي شوه خو دیره کې لا شور جوړ وو نیت مې وکړو چې نور لاړ شم کور ته

لاړم کور ته مور دې مې ناست وو د کلی ښځې تللي وي یواځې خپلوان پاتي وو

یوه شیبه ورسره کیناستم موبایل مې راویست زرغونې ته مې میسج وکړ

که تاسو نور مهرباني وکړي زما د خوب وخت پوره شوي غواړم ارام وکړم که تاسو له کوټې نور راوزي

لږه شیبه وروسته د کوټي نه د خندا اواز راغې زرغونې دومره په زوره وخاندل چې ټول انګړ یې پسر واخیست

میسج یې وکړ

ګرانه فراز جانه د قانون له مخي نن شپه دا کوټه زمونږ ده تاسو کولې شي د مور په کوټه کې ارام وکړي سر له سبا ستا حق جوړیږي

میسج یې وکړ او بیا یې خندا پورته شوه

ما ورته ولیکل سمه ده تاسو ته خه شپه غواړم زه لاړم د فرهاد دې حجره کې ارام کوم

پاسیدم انګړ کې مې ټوخي وکړ او د دروازي په طرف مې د تک تمثیل وکه

دې وخت کې مې کتل ځانګه له کوټي ووته

فرازه وروره څه خو دې پکار نه وو

ما ویل نه هیڅ مې پکار نه دې

زرغونې اواز وکړ رازه ارام دې وکړه مونږ ووتلو

ما ویل نه مننه زه ځم د ملګرو خواته تاسو ته خه شپه

همداسي ووتلم زرغونې ډیري چغې کړي زما فکر یې خراب کړو

یوه شیبه حجره کې کیناستم کتل مې نازنین میسج وکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غم زویه زه دې دلته د مور سر لپاره راودې یم ژر راشه کنه خپله درپسي درځم

ما ورته میسج وکړه ته پوهه شه زرغونه او ځانګه پوهه شه زه نه درزم

وي لیکل شرم دې د غم زویه ژر راشه

ما وویل ورته چې بس فکر مې خراب شو نور موبایل بندوم قراري ویده شي

موبایل مې بند کړه

ګورم چې راپسي یې راته د ماما وړه لور ولیږله راغله ویل یې کور کې درته اواز کوي

زه هم روان شوم دننه شوم کور ته ټوخي مې وکړ انجوني له کټوي ووتل ځانګه د دروازي مخکي ولاړه وه ویل یې اول به روپي راکوي بیابه دننه زي

ما ویل دا رواج خو والله که په یوګاندا کې هم اوسي دا کوم رواج دې

ویل یې بس دا زما رواج دې

زما جیب کې د شلو روپو کاپې ټوله مې ورته ورکړه رانه په خوشالي سره روانه شوه

ما په ځان کلمه وویله دروازه مې ټک ټک کړه او په قراره ننوتم

نازنین لکه د ځوارلسمي سپوږمۍ ناسته وه په لیدو مې زړه په ټوپونو شو

منډه مې کړه او کلکه مې په غیږه کې ونیوله په ټوله کوټه کې مې وګرزوله بیرته مې تخت کې کینوله او خه ډیره مې ښکل کړه

نازنین وویل بس که نور د غم زویه څه چیرته خو درنه ځم نه چې ځان نه دې لیونې جوړ کړې نور به ترمرګه درسره یم مه ورخطا کیږه

ما ویل نازنین زړه مې غواړي چې دې وخورم ته لا وایې صبر وکړه سر مې پخپل غیږه کې کیښود او ورته مې کتل

نازنین په خندا شوه او وې ویل خدایه زما دې توبه وې څه نادیده سره مې سر شو کله یې جلۍ نه دې لیدلې همداسي راته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل نازنین خبره د ښایست ده نن که حوري هم تا وګوري نو ستا له حسن نه به وشرمیږي نن ته ډیره ښایسته ښکاري

نازنین کیناسته ځانته یې نږدې کړم او ښکل یې کړم فرازه زما خاونده زما دنیا زما اوجوده زه د الله نه ډیره شکرګزاره یم چې اول یې ته زما ژوند ته راوړلې او بیا یې راته د ټول عمر لپاره راکړي

او بیا یې وویل فرازه رازه چې دواړه د شکراني لمونځ وکړو چې مونږ دواړه الله یو بل ته ورسولو

ما ویل سمه ده رازه زه په لمانځه ودریدم دا هم راغله زما سره جوخته خي لاسته ودریده لمونځ مو وکړو او بیا مو دعا وکړه د الله نه مو د خوشاله ژوند او نیک عمله اولاد غوښتنه وکړه

نازنین زما په ځنګون سر کیښود فرازه ته پوهیږي چې ما ددې وخت څومره ارمان کړي وو ما ویل کله به وي چې زه مې د فراز په غیږه کې سر کیږدم نن مې الله دا ارمان پوره کړو

ما وویل نازنین زه ډیر خوش قسمته یم چې الله راته  ته راکړي نو اوس نور هیڅ غم نه لرم او نه کوم ارمان

بیا مو د فامیل خبرې شروع کړي

نازنین وویل بس که فرازه زه په هرڅه پوهیږم ترڅو چې ژوندۍ یم دا موقه به تاته در نه شي چې څوک زما له خوا تاته شکایت وکړي زه به ستا د کورني داسي قدر او عزت کوم لکه د خپل مور پلاړ خویندو او ورڼو

ما نازنین له غاړي تاوه کړه او ښکل مې کړه اوس نو نمبر د نازنین د ښکلولو راغې وي نیولم ما ویل نازنین لک صبر دا ګروپ به ګل کړم بیابه کیسي کوو

ګروپ مې ګل که نازنین خه ښکل کړم بیا یې سر زما د سر لاندې کیښود او ځانته یې نږدې کړم

پاااااااااااااایییییییییې

ملګرو ستاسو د هریو نه له زړه له کومی مننه کوم چې په دې کیسه کې مو ماسره تر اخیره ملتیا وکړه ماته مو ډاډ راکړو کیسه مو خوښه کړه او تردې ځایه مو راورسوله

رب دې د ټولو هغه ملګرو ارمانونه پوره کړي چې چا چا پوري زړه تړلې اوسي رب مو ټول خپل مقصد او مینه کې کامیاب کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه ملګرې چې خپل مرام ته نه دې رسيدلي رب دې ورته صبر نصيب کړي

ملګرو د يو چا په تک ژوند نه ختميږي کوشش وکړي د ژوند لپاره لاره ولټوي ژوند نوري ډيري خوشالي هم لري همدا ژوند نه دې چې بس ختم شو يقين لرم چې داسي يو وخت به دربانديې راشي چې په نوي ژوند کې به مو پخواني يادونه بلکل ورک شي

رب مو ټول خوشاله لره ترڅو چې د يوي بلي نوي کيسې سره ستاسو حضور ته رازم تاسو په لوی خدای ج سپارم د الله پامان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**